# د فتوی ګانو تور بازار

## د تصوف تر نامه لاندې شرک

## د ښځو د حجاب، غږ او تعلیم په اړه

## د غلطو فتوی ګانو تصحیح

حکمتیار

**د فتوی گانو تور بازار**

**د تصوف تر نامه لاندي شرك**

**د ښځو د حجاب، غږ او تعليم په اړه**

**د غلطو فتوی گانو تصحيح**

**د شرك او خرافاتو جارچيانو ته لارښوونه**

**له الله وويرېږئ**
**د ساده زړو افغانانو له ايمان سره لوبي مه كوئ**
**دنيا او آخرت ئې مه تباه كوئ**
**خدايه! خپل ښكلی دين د غرضي مفتيانو له شر وژغوره!**

**حكمتيار**

## فهرست

عنوان صفحه


مقدمه ------------------------------------------------------٦

د مېرمنو د حجاب او غږ په اړه د ناسمو فتوی ګانو تصحیح --- ١٨

د مېرمنو د غږ په اړه غلطه فتوی ------------------------------٢٩

جومات ته د مېرمنو تګ-----------------------------------------٥٢

په جهاد کې د مېرمنو شرکت ----------------------------------- ٥٤

علم پر مېرمنو د نارینه وو په څېر فرض دئ----------------------٥٧

علم په دیني او دنیوي وېشل غلط وېش دئ ----------------------٥٨

ښځو ته په سپکه سترګه کتل-------------------------------------٦٦

د تصوف تر نامه لاندي شرك او خرافات ---------------------- ٦٦

د الله تعالی ذکر او آداب ئې--------------------------------------٨١

د پیغمبرانو په وړاندي د خلکو دوه ډلي ------------------------٨٦

د غیب علم ------------------------------------------------ ٩٠

هیڅ مخلوق په غیب نه پوهېږي-------------------------------٩٤

په ربوبیت کې شرك -------------------------------------١٠٨

توسل ----------------------------------------------------١٢١

شفاعت -------------------------------------------------١٣٠

د عکس او رسم په اړه فتوی ------------------------------١٤٧

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

## مقدمه

اَلْحَمْدُ لِلَّهِ وَ كَفَى وَ سَلاَمٌ عَلَى عِبَادِهِ الَّذِينَ اصْطَفَى و بعد:

په دې وروستيو کې د مېرمنو د حجاب، غړ او په ټولنې کې د دوی مقام او حيثيت په اړه د ناسمو فتوی ګانو، د اسلامي نظام په ارتباط د غلطو اظهاراتو او ادعاء ګانو، د ذکر په نامه خندوونکو غونډو، مذهبي او صوفيانه نڅاوو، غورځو پرځو، د شيخ په پښو کې رغړېدا او لاس پښې ئې ښکول،... او دې ته ورته کرکجنو صحنو شاهد يو چې نه يوازې د قرآن او سنت خلاف دي بلکې د اسلام سپينه لمن داغجنه کوي او د جاهليت د دور خرافاتو ته وده ورکوي. دا د هر صادق او زړه سواند داعي او د اسلام له حريم دفاع کوونکي مؤمن دنده ده چې د شرك او خرافاتو په وړاندې ودرېږي او مخه ئې ونيسي. هغو مخلصو علماءو او دعوتګرانو ته له الله تعالی بشپړ اجر او مزيد توفيق غواړو چې خپل مسئوليت اداء کوي، په جرأت او زړه ورتيا سره د دين او توحيد له حريم دفاع کوي.

غواړو په دې مختصري ليکني سره د دې ناخوالو څو بدمرغه موارد وڅېړو:

۱. آيا دا ادعاء سمه او د منلو وړ ده چې د ښځو ټول بدن عورت دئ، پټول ئې فرض او واجب او څرګندول ئې حرام؟ نامحرم ته د هغې غږ اورېدل ناروا او حرام دي؟ په دې اړه قرآن څه وايي او رسول الله صلی الله عليه و سلم څه ويلي او صحابه وو څه کړي؟

۲. آيا په جومات، خانقا، د ذکر په نامه حلقو او محافلو کې چيغې، ها هو، بدمستي، نڅا، د شيخ او پير پښو کې رغړېدا، لاس پښې ئې ښکولول او په غاړه کې ئې د لوټونو هارونه ځړول، له سينې د پزې له لارې د هو او ها غږ

په ډله ییزه توگه ایستل... جائز دي؟

۳. آیا په خیر القرون کې له لمانځه پرته د ډله ییز جهري ذکر کومه بېلگه او مثال لیدل شوی؟

٤. آیا له الله تعالی پرته بل چا ته؛ له لري او په غیاب کې ئې؛ د مرستې غږ کول او په دعاء کې د هغه نوم اخیستل؛ او داسې انگېرل چې هغه مې غږ اوري او حاجتونه مې تر سره کولی شي؛ جائز دي؟ که دې ته جائز وایو نو د دې مکررې ژمنې معنی به څه وي چې هره ورځ د لمانځه په هر رکعت کې له الله تعالی سره په دې صیغه کلکه او پرېکنده ژمنه او تعهد کوو او وایو: (إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ: یوازې ستا عبادت کوو او یوازې له تا مرسته غواړو؟)

۵. آیا دا خبره رښتیا ده چې یوه پیر د خپل مرید د ژغورنې لپاره له ډېر لرې واټن؛ هغه زمری د اوداسه په کوزې وویشتلو چې پر مرید ئې برید کولو؛ زمری ئې تېښتې ته اړ کړ او خپل مرید ئې وژغورلو؟! آیا په بشري تاریخ او د کوم پیغمبر په امت کې د دا رنگ پېښې کومه بېلگه او مثال ثبت شوی؟ آیا په قرآن، د روایاتو کتابونو او د اسلام په تاریخ کې د دې لپاره کوم شاهد او مثال موندلی شو؟

٦. که د دې ادعاء لپاره نه په قرآن کې کوم شاهد مومو او نه په روایاتو کې؛ نو ولې نن یو څوك د وعظ پر مسند ناست خلکو ته وایي: فلان له غیب خبر وو، له لرې او په غیاب کې ئې د خپلو مریدانو لاس نیوی او مرسته کوله او له ستونزو به ئې ژغورل؛ یو مرید ئې په یوې بېدیا کې روان وو، ناڅاپي د زمري تر برید لاندې راغی، په لوړ غږ ئې چیغه کړه چې پیره راورسېږه!! په همدې سره یوه کوزه راغله، پر زمري ولگېده، زمری وتښتېدو او دی له برید وژغورل شو، د ماتې کوزې څو کودرې ئې واخیستل او د پیر په لورې ئې خپل سفر ته دوام ورکړ؛ هغه مهال چې ده پیر ته د مرستې چیغه کړې وه، هغه د همدغې کوزې په اوبو اودس کولو، د هغه چیغه ئې اورېدلې او زمری ئې په همدغې کوزې ویشتلی، هلته ولاړ بل مرید ورته کتل، پوښتنه ئې کړې چې کوزه دې ولې لرې غوځاره کړه؟ ورته وئې ویل: فلانی مرید مې مرسته وغوښته، هغه زمری مې پرې وویشتو چې پر ده ئې برید کولو! څه وخت

وروسته همغه مسافر مرید راورسېد؛ په لاس کې ئې د کوزې کودرې، ترې وئې پوښتل: دا څه دي؟ وئې ویل: دا د هغې کوزې کودري دي چې ناڅاپې راغله پر زمري ولګېده، ماته شوه، زمري وتښتېدو او زه وژغورل شوم!! موږ ته ووایئ چې په دین او دیني لارښوونو کې د داسې قصو حیثیت او اعتبار څه دئ؟ دروغ، خرافات، شرك که رښتیا؟ آیا په قرآن او د رسول الله په حدیث کې د داسې قصو لپاره کوم شاهد او بېلګه موندلی شو؟ که د قرآن په لسګونو آیتونو کې ویل شوي چې په زمکه او آسمان کې له الله تعالی پرته بل هیڅوك په غیب نه پوهېږي؛ نو د دغو غلطو او جعلي قصو په اړه به څه وایو چې د قرآني لارښوونو خلاف دي؟ او له غرضي او مرضي مبلغینو سره به ئې څه کوو؟ آیا د آدم علیه السلام په أولاد کې کوم انسان ته داسې علم ورکړی شوی چې په مرسته ئې کولی شي د مکان او زمان له دېوالونو او حجابو آخوا او له کومې وسیلې پرته؛ څه وګوري او څه واوري او له لرې واټن د بل مرسته وکړي؟ آیا د الله تعالی په ټولو انبیاءو کې داسې کوم پیغمبر تېر شوی چې په غیب د پوهېدا دعوی ئې کړې وي، له چا سره ئې دا راز مرسته کړې وي او ویلي ئې وي چې له ځان او بل د ضرر او خطر دفع کولو او منفعت جلبولو واك او توان لرم؟ ولې مو په دې پنځه لسیزې اوږده جنګ کې؛ چې لمبې ئې کلي کلي ته ورسېدې؛ یو شیخ، پیر، ملنګ او تعویذګر مو ونه لیدو چې د دښمن کومه پوسته ئې په دم او تعویذ فتحه کړې وي یا ئې کوم ټانګ او هلیکوپتر د کوزې او ډبرې په وار تخریب کړې وي؟ قرآن خو موږ ته وایي: د دښمن مقابلې ته وسلې برابرې کړئ، دومره چې دښمن پرې ووېروې، باید تر دښمن مو هم جنګي توان زیات او قوي وي او هم مو جنګیالي پیاوړي او آزمویلي. داؤد علیه السلام په یوې ستړې جګړې کې د دښمن فوځ سالار ووژلو او له همدې امله لومړی د بني اسرائیلو سالار ترې جوړ شو او بیا ئې د رسالت شرف او افتخار په برخه شو، زغرې به ئې جوړولې او د غشو ماهر ویشتونکی وو او رسول الله صلی الله علیه و سلم زغرې اغوستې، د هر جنګ قیادت به ئې په خپله کولو او د جنګیالیو ټولې به ئې په مورچلو کې ځای پر ځای کول. همغسې چې فرمایي:

وَإِذۡ غَدَوۡتَ مِنۡ أَهۡلِكَ تُبَوِّئُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مَقَٰعِدَ لِلۡقِتَالِۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴿١٢١﴾ آل

عمران

او کله چې په سباوون کې د خپلې کورنۍ له غړو ووتې؛ په داسې حال کې چې مؤمنان دې د جنګ لپاره په مورچلو کې ځای پر ځای کول؛ او الله ښه پوه اورېدونکی دئ.

دلته د احد جنګ ته اشاره شوې؛ په دې جنګ کې پیغمبر علیه السلام په خپله د مجاهدینو لارښوونه کوله، هر چا ته ئې خپله مورچل او وظیفه سپارله؛ قریشیان له درې زره فوځ سره پر مدینې منورې د برید لپاره راخوځېدلي وو، غوښتل ئې د بدر د تاریخي ماتې غچ واخلي، پوره تیاری ئې نیولی وو، شمېر او وسائل ئې هومره وو چې مخامخ پر مدینې منورې د برید او د هغې د فتح کولو لپاره ئې کافي ګڼل، د مدینې په لوري د لښکر له خوځېدو سره سم پیغمبر علیه السلام ته د خپلو خواخوږو او پلویانو له لوري اطلاع ورسېده، له خپلو یارانو سره ئې مشوره وکړه، د صحابه وو د اکثرو مشرانو رأیه دا وه چې د مدینې له منځ دفاع وکړي، د پیغمبر علیه السلام خپله رأیه هم دا وه، له جنګي لحاظه هم دا تر دې غوره وه چې له مدینې بهر د دښمن مقابله وشي، د مدینې له منځ دفاعي جنګ هم د دې لپاره مفید وو چې دښمن ته کوڅه په کوڅه او کور په کور جنګ کول ګران وو او هم له دې لحاظه چې د مدینې ټولو اوسېدونکو به ناچار د دفاع لپاره په جنګ کې برخه اخیسته، یهودانو، مشرکینو او منافقینو هم، مسلمانانو د قریشو مقابلې ته تر زرو کسانو زیات فوځ نه شو ایستلی او دا د دښمن د شمېر په پرتله ډېر کم وو، هر یوه به د دریو کسانو مقابله کوله، خو د مدینې له منځه د دفاع په صورت کې دا کمی پوره کېدو. خو د مدینې ځینو ځوانانو په دې ټینګار کاوو چې له مدینې بهر د دښمن مقابله کوو. د دوی ټینګار ته په پام سره په مجلس کې فیصله وشوه چې د دښمن مخې ته وروځو. پیغمبر علیه السلام د جُمعې د ورځې په لمانځه کې ډېره جامع او مؤثره وینا وکړه او مسلمانان ئې د دښمن مقابلې ته ترغیب کړل. که څه هم هغه ځوانان د پیغمبر علیه السلام د رأیې په مقابل کې په خپلې رأیې له ټینګار نادم شوو، راغلل او وئې ویل: یا رسول الله! موږ له خپلې رأیې منصرف یو، که دې خوښه وي دا فیصله بدله کړه، خو پیغمبر علیه السلام دا مناسبه

ونه ګڼله چي له اعلان وروسته او په داسي وخت کي دا فیصله بدله کړي چي په خپله ئې هم ذره اغوستې وه او نور هم تیار او د تلو په حالت کي وو.

د مؤمنانو مرشدين خو داسي مجاهد پيغمبران دي؛ لکه داؤد عليه السلام، موسی عليه السلام او محمد عليه السلام؛ یو د خپل لاس له عصاء سره د فرعون مقابلې ته تللی، بل تنکی ځوان وو چي رمه ئې پېوله او له خپلي مچلوغزي سره د جالوت د ستر فوځ خلاف په داسي حال کي د جنګ ډګر ته ولاړ چي ورونو ئې د ده له بېولو ډډه وکړه او دی په پټه ولاړ او د دښمن د مجهز لښکر سالار ئې ووژلو؛ او محمد عليه السلام په داسي حال کي د مکې په شرك ځپلې ټولني کي دعوت پيل کړ چي له قرآن پرته ئې هيڅ څه نه درلودل؛ نه د خپل قوم او ټبر حمايت، نه فوځ، نه بهرنی ملاتړ او نه مال او دولت؛ خو نه يوازي په ۲۳ کلونو کي ئې مکه او ټول حجاز فتح کړ بلکي تر نيمي پېړۍ کمي مودې کي ئې د داسي ستر امت بنسټ کېښود او د ده په لاس روزل شويو صحابه وو دومره ستره امپراطوري جوړه کړه چي په تاريخ کي ئې نظير نه وو ليدل شوی؛ له هسپانيا او مراکش تر ماليزيا، اندونيزيا، د چين ترکستان، د اروپا بلغاريا او سلواکيا، د افريقا تر سودان پوري غځېدلې وه؛ د ده په لاس روزل شوی نسل لا ژوندی وو چي دا ستر هېواد جوړ شو.

قرآن وايي چي د هر پيغمبر هر امتي بايد همداسي وي؛ پر پيغمبر د ايمان معنی او تقاضی همدا ده؛ د ذکر په غونډو کي نڅاګرو! تاسو ولي ځان ته داسي مرشد او پير غوره کوئ چي په جهاد باور نه لري؛ په خپل ټول عمر کي ئې نه د کفر او کافرانو او د ظلم او ظالمانو مقابله کړې، نه ئې يوه ورځ په سنګر کي تېره کړې؛ نه ئې د هيڅ يرغلګر خلاف وسله کارولې او نه د وسلې په استعمال پوهېږي؛ نه ئې په خپله جهاد کړی او نه ئې مريدانو ته د جهاد سپارښتنه کړې؛ مريدان ئې له ده د اوداسه په کوزې د زمريانو شړل غواړي!! خو دی د همدې غولېدلي غريب مريد شکرانې او قلنګ ته طمع لري؛ د دښمن له وېري د فلسطين د سرلوړو مجاهدينو د مېړانی او سرښندونو او د صهيونستانو د وحشت او ظلمونو يادونه هم نه شي کولی؛ د ذکر په نامه خو د سينې زور له پوزي ايستی شي خو د يوه مظلوم مسلمان لپاره يوه لنډه دعاء هم د ده له خولې نه وځي. د دوی په مسلك او مذهب کي نه قرآن ته

اعتناء شته، نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنت ته، نه علم او عقل ته او نه د الله تعالی په لار کې هجرت، جهاد او شهادت ته، دوی خپل جاهل مرید ته وايي: په لمانځه، ذکر او دعاء کې هم د الله تعالی پر ځای د پیر او مرشد خیال او تصویر په ذهن کې ساته!!

خو د صادقو مؤمنانو مرشد او پیشوا؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي وو چي له هغو سره به ئې مقاطعه اعلانوله او خبري او رابطه به ئې ورسره قطع کوله چي له عذر پرته به ئې په کومي غزاء کې شرکت ونه کړ؛ او خپل هر امتي ته ئې وينا او سپارښتنه دا وه: له الله تعالی پرته مه له بل چا طمع لره او مه وېره؛ راشئ دي حديث ته لږ ځير شئ:

عَن ابن عباس قَال: كُنْتُ خَلْفَ النبِيّ يَوْماً، فَقَالَ: يَا غُلاَمُ، إِنِّي أُعَلِّمُكَ كِلِمَاتٍ: إِحْفَظِ الله يَحْفَظْكَ، إِحْفَظِ الله تَجِدْهُ تجَاهَكَ، إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ الله، وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بالله، وَاعْلَمْ أَنَّ الأُمَّةَ لَوِ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَىْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلاّ بِشَىْءٍ قَدْ كَتَبَهُ الله لَكَ، وَإِنِ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَىْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إِلاّ بِشَىْءٍ قَدْ كَتَبَهُ الله عَلَيْكَ، رُفِعَتِ الأَقْلاَمُ وَجَفَّتِ الصُّحُف. رواه الترمذی، شعب الايمان، مسند احمد

له ابن عباس رضی الله عنهما روايت دئ چي وايي: يوه ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم شا ته سپور وم، راته وئې ویل: اې ځوانه! څو خبري درښيم: د الله تعالی د حقوقو حفاظت وکړه، چي الله ستا ساتنه وکړي، که د الله د حقوقو ساتنه وکړې؛ خپلې مخي ته به ئې ومومې، که څه دي غوښتل نو له الله ئې غواړه، که مرسته دي غوښتله نو له الله ئې غواړه، په دې پوه شه چي که د نړۍ ټول خلك راغونډ شي او وغواړي تا ته څه گټه ورسوي، نو يوازي هومره گټه دررسولی شي چي الله درته ليکلي او که ټول په دې راغونډ شي چي تا ته کوم تاوان ورسوي نو يوازي هومره تاوان دررسولی شي چي الله درته ليکلي، قلمونه پورته شوي او صحيفی وچي شوې؛ (يعنی د مقدراتو کتاب وچ شوی، نور نه څه په کې زياتېږي او نه څه ترې کمېږي او هغه قلم چي د انسان برخه ليك ئې ليکو پورته کړی شوی او له ليکلو ودرېدلی).

د دې څرګندو لارښوونو سره سره؛ د دغو مبلغینو هدف څه دئ چي خلك په دروغجنو او مسخره خبرو غولوي او ورته وايي: د فلاني شيخ او پير لمن ونیسه او په پښو کي ئې ورغړه چي دنیا دي ښېرازه او حاجتونه دي تر سره شي، له هر مشکل دي وژغوري او په سختي ورځ کي دي له لري چيغه واوري او د اودس په کوزې زمري درنه دفع کړي!! دا په داسي حال کي چي همدا پیر او شيخ به د همدې خوار او غولېدلي مريد جيب ته سترګي وي؛ مرفه او مجلل طفيلي ژوند به ئې د همدغو خوارکيو د خيراتونو او صدقو له برکته وي.

دې ته ورته له ګڼ شمېر نورو مذهبي ډوله ستونزو سره مخامخ يو، او له اجتماعي او سياسي پلوه مو د هېواد وضعيت داسي دئ چي په فضاء کي مو د امريکا ډرون جازونه ګرځي، لا بهرنيو مرستو ته څولۍ ګرځوو، له هر مېلمه هيئت په زاريو زاريو غواړو چي په فلان فلان ډګر کي له موږ سره مالي مرسته وکړئ، امريکا ته مو اجازه ورکړې چي تر يو نيم لك زيات؛ د ناټو افغان جنګيالي، امنيتي او استخباراتي افراد او مامورين بهر ته انتقال کړي، جنګي ډلي ترې جوړي کړي، هره ورځ ئې د عملياتو راپورونه خپروي، له ناټو او په سر کي ئې امريکا؛ په جهر او د مطبوعاتو له لاري غواړي چي بيا افغانستان ته راشئ او د هغو طالبانو ستونزه حل کړئ چي د راوستلو مسئوليت ئې هم ستاسو پر غاړه دئ؛ کانګرس ته وايي: په افغانستان کي د امريکا د بيا راتګ لپاره شرائط په بشپړه توګه برابر دي؛ امريکا ته اجازه ورکړی شوې چي هره مياشت ۳۰۰ مليونه ډالر د ملګرو ملتونو اړوند ادارو په لاس په افغانستان کي د خپلو مشبوه منصوبو مطابق ولګوي، دا او نور لګښتونه ئې د امريکا د رسمي ادارو په وينا په دريو کلونو کي ۲۱ مليارده ډالرو ته رسېدلي؛ امريکا اوس د دوحې د هغي معاهدې بشپړ تطبيق غواړي چي له مخي به ئې ګډ حکومت جوړېدو؛ د طالبانو هيئت دا معاهده لاسليك کړې، د دې هيئت او د دوی د کورنيو کلنی لګښت ۱۲۰ مليونه ډالر وو چي امريکا ورکول، او تر اوسه ئې لړۍ روانه ده؛ په نړۍ کي په دې اړه شبه اجماع ده چي په کابل کي بايد ټول شمول حکومت جوړ شي؛ د امريکا نوی جمهور رئيس ټرامپ په خپل انتخاباتي کمپاين کي چي د افغانستان او طالبانو په اړه

کوم سخت او توند دریځ غوره کړی وو؛ دا ښيي چي افغانان به له یو بل سخت آزمېښت سره مخامخ شي؛ ... متأسفانه په همداسي وضعیت کي زموږ ځیني ښاغلي ادعاء کوي چي هر څه سم روان دي!! کورني او بهرني دښمنان مو مات کړي، بشپړ اسلامي نظام مو قائم کړی، افغانان خوشحال دي او له بهرنیو سره مو ښه روابط د پراخېدو په حال کي دي... خو حقیقت بیا په بشپړه توګه بل ډول دئ؛ پاکستان او ایران تر یو نیم ملیون زیات افغان مهاجرین په زور وایستل، د مهاجرینو اړوند کورنۍ او بهرنۍ اداري وایي چي هره میاشت تر یو نیم لك زیات افغانان له هېواد تښتي، د مهاجرینو شمېر مو نږدې اته ملیونه ته رسېدلی، موږ لا د اسلامي نظام د پلي کولو او د آزاد، خپلواك او اسلامي افغانستان د جوړولو ابتدائي کارونه هم نه دي پیل کړي؛ نه د ملت ممثله درنه او معتبره شوری لرو، نه اساسي قانون، نه قانونمن نظام، نه داسي درنه دارالافتاء چي پرېکړې ئې ټول ملت ته د منلو وړ وي او غړي ئې په قرآن، حدیث او فقه پوه، د تقوی خاوند او د دعوت او جهاد ځلانده سابقه ولري، لا یو موفق تعلیمي نظام او رغنده تعلیمي نصاب نه لرو؛ داسي چي مکتب او مدرسته توحید کړي، د ملا او مکتبي د جنګ او اختلاف مخه ونیسي، د نوي نسل؛ نجونو او هلکانو؛ د ښې اومعیاري روزني وړتیا ولري، ډاکټر، انجنیر، افسر او مأمور مو په دین پوه وي او قاضي، امام، خطیب، ملا او مولوی مو هم په لیك لوست، ریاضي، تاریخ او نورو ضروري علومو پوه وي او هم د مناسب کسب او هنر خاوند وي، روزي ئې د کسب او هنر له لاري تأمین شي؛ نه د امامت او خطابت او د خلکو د صدقاتو او خیراتونو له لاري. هیڅوك نه پوهېږي چي سرپرست حکومت به تر کله سرپرست او کله او څنګه به خپل ځای قانوني حکومت ته پرېږدي، که د امارت اوسنی مشر نه وو؛ ځای به ئې څوك نیسي، له کومي لاري به راځي، صلاحیتونه او مسئولیتونه به ئې څنګه وي، د ده په انتخاب کي به د ملت ونډه څه وي؟!! ملت نه غواړي چي د اقتدار د انتقال په اړه د مخکنیو خونړیو پېښو د تکرار شاهد وي، بیا د کودتاګانو، بهرنیو لاسوهنو، اشغال، جګړو، د بهرنیو د پیسو او وسلو په زور؛ د څو وسله والو، کوم وړوکي مزدور سیاسي او قومي ګوند، او کوم توکم او قبیلې استبدادي حکومت له شر سره مخامخ شي. افغانان غواړي مشران او واکمنان ئې نه پردي وي او نه ئې پردي

ورته غوره کړي؛ بلکې په خپله ئې غوره کړي؛ د مخکې په څېر په بهر؛ لندن، ډهلي، پېښور، مسکو، واشنګټن، بن او ... کې غوره نه شي، غواړي له ولس سره د چارواکو چلن پر رښتیا او صداقت ولاړ وي؛ له غرور او مبالغو ډډه وکړي، ځان فاتح او ولس اسیر ونه ګڼي، په بیت المال کې ئې تصرف داسي نه وي لکه د غلو غدۍ چې پر کوم کلي مسلطه شي. برعکس ولس ته ووايي: یو قانونمن اسلامي نظام او خپلواك اسلامي افغانستان جوړول ستاسو حق او زموږ دنده او مسئولیت دئ، حکومت هغه مهال بریالی دئ چې ولس ترې راضي وي، تر شا ئې ولاړ وي، له الله تعالی ورته د خیر دعاء کوي، د خطر په وخت کې هم د واکمنو په غبږ راغونډېږي او خوشحالیو په منابستونو کې هم، اوسنیو چارواکو ته باید د ۱٤ اګست لمانځلو غونډې کیفیت او حالت ښودلې وي چې حقیقت څه دئ؛ دوی غوښتل غونډه ئې دومره پرتمینه او ستره وي چې د افغانستان په تاریخ کې مثال او نظیر ونه لري؛ د کابل ټولو امنیتي او تعلیمي ادارو، د جوماتونو امامانو او د ولایاتو والیانو او امنیه قومندانانو ته امر شوی وو چې په دې غونډې کې به په پراخه پیمانه شرکت کوي... خو نتیجه په بشپړه توګه معکوس او د دوی د تصور او انتظار خلاف وه، د کابل په ستر ستودیوم کې شاوخوا ۲۰۰۰ کسان راغونډ شوي وو؛ چې د دوی ۳۰۰ کسان د غونډې تنظیموونکي په سپینو جامو کې؛ په چمن کې، د ستوډیوم دریو لوریو ته ټولې کرسۍ تشي وې، یوازي د سټیج لوري، ترڅت لاندي او مخې ته ئې کرسیو کې؛ دومره خلك خواره واره ناست وو چې شمېر ئې ۲۰۰۰ ته نه رسېدو او د خوست په څېر یوه ولایت کې د والیبال لوبې ته د راغونډېدونکو د شمېر په اندازه هم نه وو!!

د دغو مسائلو تر تفصیلي بحث او دغو پوښتنو ته تر ځواب وړاندي څو عرائض لرم:

- فتوی خپل آداب او احکام لري؛ چې هم مفتي پرې مکلف دئ او هم ئې اورېدونکی او لوستونکی. یوازي هغه څوك د فتوی صادرولو حق لري چې هم په قرآن او حدیث پوه وي او هم د ائمه او فقهاءو له آراءو خبر وي؛ له علمي پلوه هغې کچې ته رسېدلی وي چې د فتوی ورکولو وړتیا او ظرفیت ولري؛ او د فتوی اورېدونکی او لوستونکی مکلف دئ یوازي په هغه صورت

کې د چا فتوى او ادعاء ومني او بل ته ئې ووايي چې د قرآن په تله ئې سمه موندلې وي؛ له دې پرته ئې منل او بل ته ويل هم جرم او ګناه ده، هم د قرآني لارښونو خلاف عمل دئ او هم د رسول الله صلى الله عليه و سلم د ارشاداتو خلاف؛ قرآن فرمايي:

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ۚ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَـٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا ﴿٣٦﴾ الإسراء

او په هغه څه پسې مه ځه چې پرې نه پوهېږې، دا ځکه چې غوږ، سترګې او زړه داسي دي چې د هر يوه پوښتنه کېږي.

په دې مبارك آيت کې يوه ستره او ځلانده الهي لارښوونه زموږ په وړاندې ځلېږي: الله تعالى موږ ته لارښوونه کړې چې له غور او دقت پرته هيڅ خبره ونه منو، د غوږ دړه د هري خبري اورېدو ته داسي پرانيستې پرېنږدو چې د زړه تل ته مو لار ومومي؛ پرته له دې چې زموږ عقل ئې وڅېړي او د صحت او سموالى پرېکړه ئې وکړي. يوازې هغه مهال بايد يوې خبري ته په خپل زړه کې ځاى ورکړو چې پرې پوه شوي يو، كه د كوم شي په اړه څه اورو نو هغه مهال ئې ومنو چې يا ئې په خپلو سترګو وګورو او يا زموږ عقل او زړه ګواهي ورکړي چې دا خبره رښتيا ده. الله تعالى موږ ته غوږونه، سترګي او زړه د دې لپاره راکړي چې د سم او ناسم په پېژندو کې ترې استفاده وکړو، د قيامت په ورځ پوښتل کېږو چې دا د معرفت او پېژندو استعدادونه مو څنګه کارولي، مهمل او بې استفادې مو پرېښي وو او كه مو سمه استفاده ترې کړې وه. الله تعالى به پوښتنه کوي چې ولې مو غلطي خبري ته غوږ کښېښود، له تحقيق پرته مو ومنله، عمل مو پرې وكړ او بل ته مو وکړه. هغه خبره ومنه چې په حقانيت ئې پوه شوى يې، له تحقيق وروسته په يوې خبري باور کوه، په پټو سترګو په هري خبري پسي مه درومه.

رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَفَى بِالْمَرْءِ إِثْمًا أَنْ أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ. صحيح ابن حبان

له أبو هريره روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: مؤمن

انسان ته دا ګناه كافي ده چې هر څه ئې اورېدلي (بل ته ئې) ووايي.

همدا مطلب په نورو رواياتو كې له عمر رضي الله عنه، زوى ئې عبد الله عمر، عبد الله بن مسعود رضي الله عنهم او نورو صحابه رضي الله عنهم هم راغلى:

عَنْ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: «بِحَسْبِ الْمُؤْمِنِ الْكَذِبُ أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ» المعجم الكبير للطبرانى

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ» مسلم

قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ: «بِحَسْبِ الْمَرْءِ مِنَ الْكَذِبِ أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ» مسلم

- مفتي او د فتوى اورېدونكى بايد په دې پوه وي چې د حلال او حرام پولې الله تعالى ټاكلې دي؛ بل هيڅوا ته ئې دا حق او صلاحيت نه دئ وركړى چې د حلال او حرام په اړه په خپل سر حكم او پرېكړه وكړي؛ حرام فقط هغه دئ چې الله تعالى حرام كړي او د وحي له لارې ئې خپل رسول ته ښودلې. قرآن فرمايي:

قُلِ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا لَبِثُواْۖ لَهُۥ غَيۡبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ أَبۡصِرۡ بِهِۦ وَأَسۡمِعۡۚ مَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِيّٖ وَلَا يُشۡرِكُ فِي حُكۡمِهِۦٓ أَحَدٗا ﴿٢٦﴾ الكهف

ووايه: الله په هغې (مودې) ښه پوه دئ چې (أصحاب كهف هلته) پاته شول، د آسمانونو او زمكې د غيبو (علم) له ده سره دئ، ښه ليدونكى ئې او ښه اورېدونكى، نه له ده پرته دوى ته كوم ولي (ملاتړى) شته او نه ئې په خپل حكم (حاكميت او حكميت) كې څوك شريك كړى.

دلته الله تعالى د هغو وګړو ادعاء رد كړې چې ويل ئې أصحاب كهف ۳۰۰ يا ۳۰۹ كاله په څمڅې كې ويده پاته شوي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته فرمايي: ووايه: الله په هغې مودې ښه پوه دئ چې هلته پاته شول،

هغه الله چې د آسمانونو او زمکې د غیبو علم فقط له ده سره دئ، د هر څه ښه لیدونکی دئ او د هر غږ ښه اورېدونکی. یعني تاسو د داسې څه په اړه قضاوت او حکم کوئ چې ستاسو له سترګو پټ دي، نه مو هغوی په خپلو سترګو لیدلي او نه مو د هغوی غږ اورېدلی، نو ستاسو ادعاء، حکم او قضاوت به د اصحاب کهف په اړه څه ارزښت ولري؟!

د اصحاب کهف په ارتباط د دوی ډول ډول تبلیغاتو ځانګړې موخه او منشأ درلوده، هغوی ئې په الوهیت او ربوبیت کې له الله تعالی سره شریك کړي وو، د دوی د قبر خوا ته ئې معبد جوړ کړی وو، په درشل کې ئې دعاءګانې کولې او مرستې ئې ترې غوښتې؛ حال دا چې له الله تعالی پرته نه کوم ولي او ملاتړی شته او نه الله تعالی په خپل حاکمیت او د عالم په ساتنې او پالنې کې څوك له ځان سره شریك کړی.

- څوك چې فتوی ورکوي باید دا وېره او اندېښنه ورسره وي چې په خپلې فتوی سره داسې څه ونه وایي چې هم د قرآني لارښوونو خلاف وي او هم د سنت؛ هم ئې د الله تعالی په اړه افتراء کړې وي او هم ئې د الله د دین په اړه دروغ ویلي وي؛ د فتوی ورکولو په مهال باید دا آیت په پام کې ولري:

وَلَا تَقُولُواْ لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ ٱلْكَذِبَ هَٰذَا حَلَٰلٌ وَهَٰذَا حَرَامٌ لِّتَفْتَرُواْ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴿١١٦﴾ مَتَٰعٌ قَلِيلٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١١٧﴾ النحل

او د هغه څه په اړه دروغ مه وایئ چې ستاسو ژبې ئې څرنګوالی بیانوي؛ چې دا حلال دئ او دا حرام دئ؛ چې په دې توګه پر الله په درواغو له ځانه افتراء وکړئ؛ یقیناً هغه چې پر الله دروغجنه افتراء کوي فلاح (بریا) نشي موندلی. (حاصل ئې) یوه قلیله متاع ده او دوی ته دردناك عذاب دئ.

یعني د حلال او حرام په اړه دروغجنې او له خپل ځان جوړې شوې فتوی‌ګانې مه ورکوئ، له دې ډډه وکړئ چې په خپل سر او په دروغو ووایئ: دا حلال دئ او دا حرام دئ. دا د الله تعالی په شأن کې افتراء ده. هغه څوك به هیڅکله بریالی نشي او د الله تعالی له عذاب به ونه ژغورل شي چې پر الله تعالی دروغجنه افتراء کوي. د دې افتراء پایله به ئې له دې پرته بل څه

نه وي چې يوه قليله متاع ئې په برخه شي، يا يو نس خوراك، يا د خپلې دروغجنې فتوی كومه ذليله اجوره، د كوم حاكم او واكمن له لوري كوم شاباسی، كومه چپنه، كومه پګړۍ؛ او په پای كې د الله تعالى له لوري دردناك عذاب.

بايد د قرآن د دې آيتونو مصداق نه شئ چې د اهل كتاب د مذهبي مشرانو په اړه فرمايي:

وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُۥنَ أَلْسِنَتَهُم بِٱلْكِتَٰبِ لِتَحْسَبُوهُ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ۝٧٨ آل عمران

او د دوی يوه ډله داسې ده چې په خپلې ليكنې او كتاب خپلې ژبې داسې اړوي چې ته هغه د الله د كتاب يوه برخه وبولې؛ په داسې حال كې چې هغه د الله د كتاب برخه نه ده، دوی وايي: دا خبرې ټولې د الله له لوري دي؛ په داسې حال كې چې د الله له خوا نه دي، په الله پورې دروغ تړي سره له دې چې ښه پوهېږي.

ګورئ چې د اهل كتاب د مذهبي مشرانو دا مكاره او ټګماره ډله خپلې ليكنې او خپلې خبرې د الله تعالى كتاب ته منسوبوي، خپل غلط او مغرضانه تفسيرونو او تعبيرونو ته الهي تعبير وايي، دوی دا غلطي قصداً او په لوی لاس كوي، ښه پوهېږي چې دا خبرې نه د الله تعالى په كتاب كې شته او نه د الهي كتاب معنی هغه ده چې دوی ئې وايي. په دې آيت پسې له ذكر شوو نورو آيتونو دا په ډاګه معلومېږي چې په دې رنځ اخته كسان يا هغه دين پلوري دي چې له دين دكان جوړول او ناوړه ګټه ترې اخيستل ورته په ميراث رسېدلي او يا هغه واكمنان دي چې له دين د خپل زعامت او واكمنۍ د اثبات لپاره وسيله جوړوي او دين د خلكو د غلامۍ آله ګرځوي او يا هغه دي چې غواړي پيغمبرانو عليهم السلام او ديني مشرانو ته د انتساب له لارې امتيازات لاسته راوړي، همدا كسان دي چې ځينې شخصيتونه د الوهيت تر مقام لوړ بيايي، د الله شريكان ترې جوړوي، د علم غيب خاوند او د عالم په امورو كې د تصرف واك او حق ورته ثابتوي، له دوی مرسته غوښتل او پر

دوی توسل لازمي ګڼي او ادعاء کوي چي یوازي د دوی له لاري د الله تعالی دربار ته لار موندل ممکن دي!! دوی دا ادعاءګاني له دغو درنو شخصیتونو سره د محبت او هغوی ته د درناوي له امله نه کوي، بلکي له دې ئې هدف خپلي ګټي وي، غواړي په همدې سره خپل مقام اوچت کړي، ځکه دوی ځان د دغو شخصیتونو د مادي او معنوي مقام وارث او خلیفه ګڼي، هر کرامت چي د هغوی لپاره ثابت کړي ګټه ئې دوی ته ورګرځي، له همدې د امتیازاتو د لاسته راوړلو وسیله جوړوي؛ قرآن په دې اړه فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡأَحۡبَارِ وَٱلرُّهۡبَانِ لَيَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۗ وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٣٤﴾ التوبة

اې مؤمنانو! د احبار (ملایانو) او رهبان (پیرانو) ډېری د خلکو مالونه په ناحقه خوري او د الله له لاري مخنیوی کوي او هغه چي سره او سپین زر ذخیره کوي او د الله په لار کې ئې نه مصرفوي نو د دردناك عذاب زېری ورکړه.

د دې مبارك آیت په ترڅ کې الله تعالی موږ ته د اهل کتاب ټګمار علماء او دوکه مار پیران معرفي کوي او فرمایي:

- د دوی ډېری د خلکو مالونه په ناحقه خوري.
- د الله له لاري مخنیوی کوي.

یعني له دین ئې ځان ته دکان جوړ کړی، خلك غولوي او شکرانې ترې اخلي، د پیسو په مقابل کې فتوی ګاني پلوري، د حکامو په خدمت کې وي، د هغوی د تخت او تاج د بقاء دعاء کوي چي څه زهر او زقوم په خوله کې ورواچوي، د سود خورو په ګټه سودي معاملات روا ګڼي، د دې لپاره چي سود خورو هغوی ته کومه چپنه او پګړۍ او غوړه مړۍ ورکړې وي.

دغو ټګمارانو به په دې توګه حرام مال تر لاسه کاوو: رشوت، سود، د الله په نامه څه تر لاسه کول او په خپله ئې خوړل، د ګناهونو د بخښلو، جنت ته د ننوتو او له دوزخ د ژغورل کېدو اسناد پلورل، د حکامو لپاره فتوی ګاني ورکول، په فال، تعویذ، کوډو او دم شکرانې او نذرانې تر لاسه کول. قرآن

د همدې لپاره د دوی په اړه فرمايي:

وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ لَبِئْسَ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿٦٢﴾ لَوْلَا يَنْهَىٰهُمُ ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ عَن قَوْلِهِمُ ٱلْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ لَبِئْسَ مَا كَانُواْ يَصْنَعُونَ ﴿٦٣﴾ المائدة

او ډېرى به ئې وګورې چي په ګناه، تېري او د حرامو په خوړلو کي تلوار کوي، څومره بد دئ هغه څه چي دوی ئې کوي. ولې ئې خدای پالونکي او علماء د ګناه له وینا او د حرامو له خوړلو نه منع کوي؟! ډېر بد دئ هغه څه چي دوی ئې کوي.

په ٦٢ آیت کي د ایمان منافي درې ستر ستر کارونه په ګوته شوي:

- په ګناه کي تلوار.
- د بل پر حق تېري او تجاوز کي تلوار.
- د حرامو په خوړلو کي تلوار.

له دغو بدو کړو وړو سره سره به الله تعالی څنګه د دوی د ایمان دعوی قبلوي؟

د دوی د علماءو او مشائخو حالت هم داسي دئ چي نه خلك له بدي او غلطي وینا منع کوي او نه د حرامو له خوړلو، د چا په ښه او بد کار نه لري، له بدو حساسیت په کي مړ شوی او له وضعیت سره ئې روغه جوړه کړې، د حکامو په خدمت کي دي، په یوه مفسد او ګنهګار قوم کي هغه څوك د منلي عالم او پیر په نامه شهرت مومي چي د عام ولس په څېر وي، د دوی د خوښي خبري کوي، نه د غلطي وینا مخالفت کوي او نه سمي او حق وینا ته خلك رابلي، له حکامو سره ئې لاس یو کړی وي، د کومي ټولني علماء او مشائخ چي داسي وي، حکام او عام ولس به ئې څنګه وي؟

که تاریخ ته رجوع وکړو نو په څرګنده توګه به وګورو چي د الله تعالی حق دین؛ یا ظالمو واکمنانو تباه کړی، یا دین پلورونکو بدو علماءو او یا دوکه مارو پیرانو؛ او دا همغه څه دي چي عبدالله بن مبارك رحمه الله په خپلي ښکلي وینا کي ویلي: و هل افسد الدین الا الملوك و احبار سوء و رهبانها؟:

آیا دین له پاچایانو، بدو علماءو او پیرانو پرته بل چا تباه او خراب کړی؟.

هر کله چې د الله دین د ټګمارو مذهبي مشرانو او دوکه مارو پیرانو په لاس کې پرېوتی، له دین ئې دام او دکان جوړ کړی، خلك ئې پرې غولولي او خپل جیبونه ئې ډك کړي، په دین کې ئې داسې لاسوهني کړې چې خلك دوی د خدای استازي وګڼي او په خپلو مالونو کې د الله تعالی برخه دوی ته وسپاري؛ زکات، عشر او صدقات د بې وزلو، فقیرانو او مسکینانو په ځای دوی ته ورکړي، الله تعالی هغه مهال نوی کتاب له نوي پیغمبر سره رالېږلی چې دغو ټګمارانو د الله مخکینی دین تحریف کړی او دوی په دې توانېدلي چې له دین د خلکو د تحمیق او ناوړه ګټې تر لاسه کولو وسیله جوړه کړي، د پیغمبر د لېږلو وجه ئې دا ښودلې چې هم الهي دین او هم د الله مظلوم بندګان د ټګمارانو له منګولو وژغوري، د دوی له خوا جوړ شوي خرافات او په دین پورې تړل شوي تورونه له منځه یوسي، د خلکو پر اوږو په ناحقه ایښودل شوي درانه بارونه کوز کړي او د همدې مکارو او دروغجنو له خوا د خلکو په لاس پښو کې اچول شوي زنځیرونه مات کړي، د الله تعالی او خلکو تر منځ جوړ شوي هغه حجابونه او خنډونه نسکور کړي چې خلك له خپل رب لري کوي او د دغو ټګمارانو پښو ته ئې غورځوي، خلکو ته دا وښیي چې دا د دېن دروغجن او مکار ټیکه داران، د بندګانو او الله تر منځ واسطه نه دي، الله تعالی ته د رسېدو لاره له دوی نه ده تېره شوې، هر بنده کولی شي له خپل رب سره مخامخ او له واسطې پرته؛ او چا ته له شکرانې او نذرانې ورکولو پرته راز او نیاز وکړي او دا ورته په ډاګه کړي چې خدای د ټولو رب دئ، هر چېري د هر چا دعاء او فریاد اوري، هر بنده ته د غاړې تر رګ ورنژدې دئ، هغه ته د رسېدو لپاره هیڅ وسیلې او واسطې ته اړتیا نشته، هیڅوك د هغه له اجازې او امر پرته د هیچا شفاعت نه شي کولی، چا ته چې الله تعالی د زیان اراده کړې وي هیڅوك خیر نشي وررسولی او چا ته چې ئې خیر غوښتی وي هیڅوك ضرر نشي وررسولی. او ټولو ته اعلانوي چې خدای ته رجوع وکړئ، یوازې د ده عبادت وکړئ او یوازې له ده مرسته وغواړئ.

بایبل په دین او الهي کتاب کې د (احبار) او (رهبان) په ناولو لاسونو د تحریف څرګنده بېلګه ده، محرف بایبل د زمکو او باغونو لومړی حاصل او د څارویو لومړي بچیان د خدای حق ګڼي؛ خو دا نه وایي چې دا به د خدای

په نامه د ده بې وزلو او نادارو بندګانو ته ورکوئ او د الله تعالی په لار کې به ئې مصرفوئ، بلکې دا د معبد د مجاور حق او برخه ګڼي. د بایبل له دغې برخې په ډاګه معلومېږي چې دا کتاب د هغه چا له لوري تحریف شوی چې له دین ئې دام جوړ کړی او جاهل عوام پرې غولوي، هر هغه دین او مذهب چې یوه مفت خوره ډله رامنځ ته کوي، د خلکو د قربانیو په اړه ئې د خدای ځای ناستې ګڼي او عوامو ته وایي: د خدای برخه دغې مذهبي ډلې ته وسپارئ؛ دا یو غولوونکی دین او مذهب دئ، دا همغه مذهب دئ چې ټول پیغمبران علیهم السلام ئې مقابلې ته لېږل شوي، دا همغه دین دئ چې تر ټولو د مخه؛ د الهي دین په وړاندې لومړنی او تر ټولو ستر او بد خنډ دئ او د حق دین مقابله کوي.

په دې مبارك آیت کې یو بل ظریف ټکی هم زموږ مخې ته ځلېږي او هغه دا چې احبار، رهبان او د سرو سپینو زرو کنز کوونکې ئې یو ځای یاد کړي او ټولو ته ئې په ګډه د دردناك عذاب زیری ورکړی. حقیقت دا دئ چې په هري ظلم ځپلې او جهل وهلې ټولنې کې مخکینې دوه د وروستني درېیم په خدمت کې وي او دا درې واړه د ظالمو واکمنانو د ښي او کیڼ لاس مرستیالان او مدافعان وي، یو ورته فتوی ورکوي، بل ورته دعاء کوي او درېیم د هغو پیسو یوه برخه ورکوي چې د عام ولس د شکولو او غارت کولو له لارې ئې تر لاسه کوي.

• یو مهال د فتوی ګانو بازار ډېر سوړ وو؛ په ځانګړې توګه د سیاست، حکومت، نظام او مهمو او حساسو اجتماعي قضایاوو په اړه؛ د هغو شمېر ډېر لږ وو چې د واکمنو د غیر إسلامي سیاستونو او ناروا تصرفاتو په اړه ئې د څه ویلو او فتوی ورکولو جسارت کولو؛ منبر د واکمنو او پاچایانو په خدمت کې وو؛ په هري خطبې کې به د پاچا د تخت او تاج د بقاء او دوام دعاء ګاڼې کېدلې؛ پیرانو، پاچایانو او حضرتانو به پادشاه د اعلی حضرت، ملِکه د علیا حضرت، شهزادګان د والا حضرت په نامه ستایل، د هغوی لاسونه به ئې ښکولول؛ او خپلو مریدانو ته به ئې ویل: هغه سترګې چې د اعلی حضرت د لیدلو سعادت ئې په برخه شي د دوزخ اور پرې حرام شي!!

د شاهي کورنۍ یو مستبد او د ډېرو سترو شخصیتونو قاتل پاڅېدو

او د مسکو په وینا او د کمونستانو په ملګرتیا ئې په یوې سپیني کودتا سره شاهي نظام نسکور کړ او د زوړ شاهي نظام پر ځای ئې داسي جمهوري نظام اعلان کړ چي د کابینې اکثر مؤثر غړي ئې کمونستان او په روسیې کي روزل شوي ملحدین ول؛ خو متأسفانه له هیڅ منبر د دې پېښي او بدلون د مخالفت غږ اوچت نه شو؛ بر عکس په خطبو کي د پاچا ځای د کودتا مشر ته ورکړی شو!!

په همدې پېښي سره مخکینی کاذب او له مطلقه واکمنۍ او استبداد زېږېدلی امنیت چي د هدېرې سکوت او امن ته ورته وو؛ له منځه ولاړ او د کودتاګانو، بهرنیو تېریو، اشغال، نیابتي جګړو او په وړاندي ئې د جهاد لړۍ پیل شوه؛ کمونستانو لومړی د شوروي اشغال ته لار آواره کړه او د شوروي ځواکونو د لومړۍ کرښي کرایي جنګیالي ترې جوړ شول؛ بیا چي د شوروي نیمګړی جنګ أمریکا او ناټو ته په میراث ورسېد؛ د دوی لپاره ئې همغه څه کول چي د مخکینیو بادارانو لپاره ئې کول.

اوس او د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته؛ أفغان ولس په مجموع کي او هغه مجاهدین چي د إسلامي نظام جوړولو لپاره ئې تر نیمي پېړۍ زیاته اوږده مبارزه کړې؛ کور کور د آزادۍ لپاره قربانیاني ورکړې؛ له دې ستري او تاریخي آزمویني سره مخامخ دي چي یو واقعي إسلامي نظام او خپلواک، سر لوړی، پر خپلو پښو ولاړ متحد او مترقي افغانستان به څنګه جوړوي؛ داسي چي د ژوند په ټولو برخو کي اسلام حاکم وي، هم په کورنۍ کي، هم په جومات کي، هم په دولتي اداراتو کي او هم په بازار او مارکیټ کي؛ او اقتدار د داسي صالح، امین او اهل کسانو په لاس کي وي چي له الله تعالی وېرېږي، اسلام ته ژمن وي او پر خپل ولس ترحم او زړه سوی لري، د زعیم په ټاکلو او له یوه بل ته د اقتدارپه انتقال کي نه وینه توی شي، نه وسله وکارول شي او نه د بهرنیو ځواکونو د مټو په زور څوك قدرت ته د رسېدلو هڅه وکړي؛ نظام مو قانونمن وي او د شوری پر إسلامي اصل ولاړ وي؛ درنه او داسي صلاحیتمنه إسلامي شوری ولرو چي د ټولو مهمو قضایاوو په اړه د پرېکړو وروستۍ مرجع وي؛ ټول ملت په واقعي معنی تمثیل کړي، فرد فرد، لوی او ووړ، امیر او مأمور، وزیر او سفیر، حاکم او محکوم، مدعي او مدعی علیه ئې پرېکړو ته منقاد وي، داسي إسلامي أساسي قانون ولرو چي د افرادو، ملت، حکومت

او واکمنو حقوق، وجائب، صلاحیتونه، مسئولیتونه، د عزل او نصب أسباب او مراجع مشخص کړي، د داخلي او خارجي سیاستونو، دوست او دښمن په اړه أساسي کرښي ترسیم کړي، په ټول ملت پوري مربوط ارزښتونه، امانتونه او شتمني؛ او په دې ارزښتونو او امانتونو کې د ملت په خوښه او رضایت د تصرف څرنګوالی او قواعد توضیح کړي، د ټولو قوانینو او مقرراتو اصلي او نهائي مرجع او منشأ او د تصامیمو او پرېکړو اړوند مراجع او ادارې بیان کړي؛ که دا د حقوقي قضایاوو په اړه وي او که د مذهبي او شرعي امورو په اړه؛ داسي درنه او معتبره دار الإفتاء ولرو چي له منلو، په قرآن او حدیث پوه، متقي او معروفو علماءو جوړه شوې وي، هر غړی ئې د دعوت او جهاد ځلانده سابقه او خلفیه ولري؛ چي وکولی شو له همدې لاري د هغو فتنو او خپلسریو مخنیوی وکړو چي د غلطو فتوی ګانو تور او تود بازار ئې رامنځته کوي. څوك جهل او خرافات خپروي، څوك د مریدانو پیدا کولو لپاره؛ ځان او خپل پیر ته داسي دروغجن کرامات ثابتوي چي نه پیغمبرانو درلودل او نه صحابه وو، چا ته په غیب پوهېدا او په الله تعالی پوري مختص صفات او أمور منسوبوي، شرك او خرافاتو ته بلنه ورکوي، د ذکر داسي حلقې جوړوي چي په هغې کې بد مستي، ګډا او نڅا، غورځې پرځې، د پیر او شیخ لاس پښې ښکلول، په غاړي کې ئې له لوښونو جوړ هارونه اچول، د هو هو چیغي وهل، د قرآن او حدیث خلاف ادعاء ګاني، له خپلي خوښې خوښېدلي فتوی ګاني؛ ټول هغه څه چي د جاهلیت په دور کې روان وو؛ الله تعالی خپل پیغمبر ولېږو او د هغه په لاس لارښود قرآن چي د شرك، فساد او ظلم ټغر ټول کړي، شرك ځپلې تیاره نړۍ د توحید په رڼا روښانه کړي، انسان د انسان له بندګي او غلامي وژغوري او د شرافت او کرامت هغه لوړ مقام ته ئې ورسوي چي له الله تعالی پرته ئې نه بل ته سر ټیټ وي او نه د احتیاج لاس اوږد؛ د الله تعالی په وړاندي ئې د هري ورځي مکرر شعار او ژمنه دا وي:

إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ۝٥

یوازي ستا عبادت کوو او یوازي له تا مرسته غواړو.

د هغي ورځي د رارسېدو په هیله.

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

# د مېرمنو د شرعي حجاب او غړ په اړه د ناسمو فتوی ګانو تصحيح

په دې وروستيو کې له فردي او دولتي آدرسونو دا فتواوي واورېدل شوې چې د مېرمنو ټول بدن؛ د مخ، لاس او پښو په شمول؛ د عوراتو ضمن کې راځي، له نامحرم ئې پټول فرض دي او حتی نا محرم نارينه ته د مېرمنو غړ اورېدل هم حرام دي؛ او دا په داسي حال کې چې ښاغلي مفتيان د دې شاذ ادعاء په تأييد کې نه يوازي هيڅ دليل نه لري؛ نه له قرآن او حديث او نه د ائمه او فقهاءو له آراء او اقوالو؛ بلکې ادعاء ئې هم د قرآن د صريح او څرګندو آيتونو خلاف ده، هم د رسول الله صلی الله عليه و سلم د مکررو او موثقو ارشاداتو، د صحابه وو د عملي سلوك او د ټولو مذاهبو د امامانو او فقهاءو د رأی خلاف. په ټول إسلامي امت کې؛ په تېرو ۱٤ نيمو پېړيو کې د هغو شمېر ډېر لږ دئ چې د مېرمنو مخ، لاسونه تر بندونو او پښې تر ښېډيو پورې په عوراتو کې شامل ګڼي او د هغو شمېر خو له نشت سره برابر دئ چې د مېرمنو د غړ په اړه همدا ناسمه رأی لري. څوك چې د قرآن له الف با خبر وي او هسي له مخي ئې لوستلی وي او څوك چې د احاديثو او رواياتو يو کتاب ئې هسي له نظر تېر کړی وي؛ په دې پوهېږي چې دا رأی هم د قرآني لارښوونو خلاف ده، هم د رسول الله صلی الله عليه و سلم د سنت او هم د صحابه وو د سلوك او منهج. هغو ته حيران يو چې څنګه د داسي فتوی ګانو جسارت کوي؟!! هغه څه حرام ګڼي چې د حرمت لپاره ئې هيڅ دليل او سند نه لري؛ د حرام حکم يوازي په هغه څه کولی شو چې الله تعالی حرام کړی او د حرمت په اړه ئې په قرآن کې صريح نص او حکم مومو؛ له دې پرته د حل او حرمت په ارتباط هر څه ويل؛ د الله تعالی په اړه افتراء ده!! د نړۍ د نيمايي نفوس په اړه داسي څه له ځانه او د شخصي تصوراتو، واهمو او

سليقې له مخې ويل چې مسلماني او غير مسلماني مېرمني ئې د ځان په اړه لوی ظلم او بې عدالتي ګڼي او د اسلام د حقانيت په اړه ئې شکمني کوي؛ يقيناً چې ستره ګناه ده؛ او بيا دې شخصي رأی او افتراء ته ديني او مذهبي رنګ ورکول؛ نه يوازي بې ځايه جسارت او د قرآن او حديث د ځرګندو لارښونو مخالفت دئ بلکي رسول الله صلی الله عليه و سلم، سليمان عليه السلام، يوسف عليه السلام، د رسول الله صلی الله عليه و سلم مېرمنو او د صحابه مېرمنو ته هتك حرمت دئ او هغوی ته ګناه او حرام کړني منسوبول او له ځانه داسي فتوی ګاني ورکول دي چې د قرآن، حديث، د صحابه وو منهج د فقهاءو د رأی خلاف دي. که څه هم ځينو علماءو له دې فتوی سره خپل مخالفت ځرګند کړ او وئې ويل: له فتوی ورکوونکو سره مناقشې ته چمتو دي؛ خو دا مناقشه رامنځته نه شوه او يوازي په همدې وينا ئې اکتفاء وکړه او دا ئې ونه ويل چې دلائل ئې کوم دي، قرآن څه ويلي او رسول الله صلی الله عليه و سلم څه فرمايلي؟

عام ولس نه پوهېږي چې حقيقت څه دئ او کومه رأی صحيح او سمه ده او د قرآن او سنت له لارښوونو سره مطابقت لري؛ که څه هم په دې اړه ځرګند آيتونه دومره دي چې لسګونو ته رسېږي او صحيح روايات دومره دي چې د احاديثو کتابونه ترې ډك دي؛ عجيبه ده چې د دومره آيتونو او احاديثو په شتون کي څوك داسي فتوی ورکوي. راشئ د قرآن څو لارښوونو او آيتونو په وړاندي لږ توقف وکړو:

قرآن په ډېر صراحت سره وايي چې د مېرمنو د بدن ځيني برخي له حجاب مستثنی او بهر دي؛ چې د (...إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَاۖ) په فقرې سره ئې دا برخي استنثاء کړې؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم د دې استثناء وضاحت کړی او مخ، لاسونه تر بندونو پوري او پښې تر بېډيو پوري ئې له حجاب ايستلي؛ د قرآن وينا داسي ده: (وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَاۖ: او خپله ګاڼه دي نه ځرګندوي مګر هغه ئې چې ځرګندي دي):

قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا۟ مِنْ أَبْصَٰرِهِمْ وَيَحْفَظُوا۟ فُرُوجَهُمْۚ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴿٣٠﴾ وَقُل لِّلْمُؤْمِنَٰتِ يَغْضُضْنَ

مِنْ أَبْصَٰرِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ۖ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ ۖ .... ﴿٣١﴾ النور

مؤمنانو ته ووايه چې د خپلو سترګو (کتل) راکم کړي او خپل عورت وساتي، دا ورته ډېر غوره دئ، يقيناً چې الله په هغه څه ښه خبر دئ چې دوی ئې کوي. او باايمانه ښځو ته ووايه چې د خپلو سترګو (کتل) راکم کړي، او خپل فروج وساتي او خپله ګاڼه ښکاره نه کړي، مګر هغه ئې چې ښکاره وي او خپل ټکري دي په خپل ګرېوان واچوي....

د حجاب په اړه د دغو مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

۱- مؤمنان په دې ګمارل شوي چې د خپلو سترګو کتل راکم کړي او خپل عورت وساتي، دلته د سترګو په اړه د (يغضوا) صيغه کارول شوې چې کمول افاده کوي، او دې ته په پام سره چې ترې وروسته د عورت (شرم ځای) ساتنه راغلې نو مطلب ئې نامحرم او پردي ته له داسي کتني ډډه کول دي چې شهوت پاروي، لکه پر له پسې او زيات کتل او هغه هم د شهوت په نظر، ورپسې ويل شوي چې دا ورته ډېر غوره دئ، يعني همدا کار له اخلاقي پلوه ورته غوره دئ، په ګناه کې له پرېوتو ئې ساتي، او د آيت په پای کې ويل شوي چې الله تعالی په هغه څه ښه خبر دئ چې دوی ئې کوي. يعني دا لارښوونې د هغه الله تعالی له لوري دي چې د انسان د کړنو او عملونو د پايلو او نتائجو په اړه بشپړ علم لري، د همدې جامع او کامل علم له مخې ئې دا لارښووني ورته کړې دي.

۲- با ايمانه ښځې هم په دې ګمارل شوې چې د خپلو سترګو کتل راکم کړي او خپل عورت وساتي او خپل زينت ښکاره نه کړي، مګر هغه ئې چې ښکاره وي. که څه هم په مخکيني آيت کې حکم ټولو مؤمنانو (نارينه وو او ښځو) ته متوجه وو، خو له دې کبله چې ښځو ته ځيني نوري لارښووني هم ضروري وې نو ځکه مخکينی حکم بيا تکرار شوی او پر هغه سربېره د خپل زينت نه ښودو لارښوونه هم ورته شوې.

دلته څو يادوني ضروري برېښي:

• په لومړۍ فقره کې د مېرمنو په اړه همغه سپارښتنه شوې چې په مخکیني آیت کې د نارینه وو په اړه شوې؛ یعني مېرمني دي نارینه وو ته له زیات او په التفات سره کتلو ډډه وکړي؛ دا ځکه چې د نارینه مخ لوڅ وي او کېدی شي داسي کتل ستونزي رامنځته کړي؛ او له همدې په څرګنده توګه معلومېږي چې د مېرمنو مخونه به د نارینه وو په څېر لوڅ وو؛ که داسي نه وي نو نارینه وو ته به ولې ویل کېدل چې سترګي مو کنټرول کړئ؟!

• که په حجاب کې مخ شامل وی نو په دېرشم آیت کې دې حکم مورد نه درلود چې مؤمنانو ته ووایه: خپلي سترګي ټیټي واچوي؛ دا حکم خو په هغه صورت کې وارد دئ او مجال لري چې د ښځو مخ لوڅ وي.

• نارینه وو ته هم ویل شوي چې سترګي ټیټي ساتئ او مېرمنو ته هم؛ د دې معنی دا ده چې د نارینه او ښځینه وو لپاره د حل او حرمت پولي یو شانته دي؛ که په معدودو مواردو کې ئې وجائب او مسئولیتونه معمولي توپیرونه لري؛ دا په هغو مواردو پوري تړلي وجائب دي چې د دواړو فطري توپیرونو ته په پام سره ټاکل شوي.

• نارینه وو ته دا لارښوونه چې سترګي ټیټي ساتئ؛ ښیي چې د مېرمنو مخونه به لوڅ وو؛ که پټ وی نو دې ته هیڅ ضرورت نه وو چې سترګي ټیټي واچوي. دواړو ته خو دا لارښوونه مخ ته د مکرر او زیات نه کتلو په ارتباط شوې.

• پوښتني راولاړېږي چې د زینت معنی څه ده؟ آیا مراد ئې ګاڼه او زینتي شیان دي، که د بدن سینګار شوي غړي او که په خپله جمال، ښکلا او ښایست؟ کوم څه ته څرګند زینت ویل شوي او له نه ښودلو مستثنی شوي؟ په دې اړه څو خبري باید په پام کې ولرو:

۱. د زینت معنی باید تر ټولو وړاندي په قرآن کې او مخصوصاً د دې آیت شاوخوا کې ولټوو او وګورو چې دلته په کومه معنی راغلی، دا صحیح نه ده چې د خپلي سلیقې او خوښي معنی ورواغوندو. په همدې آیت کې ویل شوي: (وَلَا يَضۡرِبۡنَ بِأَرۡجُلِهِنَّ لِيُعۡلَمَ مَا يُخۡفِينَ مِن زِينَتِهِنَّۚ: او خپلي پښې دي داسي (پر زمکه) نه وهي چې هغه ګاڼه ئې معلومه شي چې پټوي ئې)، دا فقره په ډېر وضاحت سره ښیي چې دلته زینت د ګاڼې په معنی راغلی، ځکه

پر زمکه د پښو په کلکو وهلو سره يوازي پټه ګاڼه څرګندېږي او غږ ئې اورېدل کېږي او د نامحرم توجه جلبوي، نه بل څه، که دلته زينت له ګاڼې پرته په بله معنی نه شو اخيستی نو په مخکينيو کې ئې هم په بله معنی اخيستل بې دليله خبره ده. دا صحيح نه ده چې څوك له خپله ځانه زينت د جمال او ښکلا په معنی تعبير کړي او ادعاء وکړي چې مراد ترې مخ، سترګې او شونډې دي، په دې فقرې کې او ترې وړاندې فقرې کې چې وايي: (وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا: او خپله ګاڼه دې نه څرګندوي، مګر هغه ئې چې څرګنده وي) زينت د ګاڼې په معنی راغلی او له ګاڼې پرته ئې په بلې معنی قطعاً نه شو اخيستی، له دواړو په څرګنده توګه معلومېږي چې له زينت مراد ګاڼه ده، ځکه په مخکيني کې (ما ظهر منها) او په دې کې (ما يخفين من زينتهن) ويل شوي، پر زمکه د پښې کلك وهلو سره له ګاڼې پرته بل څه نه څرګندېږي، نو اطلاق ئې په بل څه نشي کېدی. که له (ما يخفين) مراد ګاڼه وي نو له (ما ظهر منها) هم له ګاڼې پرته بل څه مرادول اشتباه ده. که څه هم زينت له ګاڼې علاوه په نورو معانيو هم راغلی وي. د قرآن په هيڅ آيت کې زينت د انسان د جمال، ښکلا او ښايست په معنی نه دئ راغلی، په مخ، شونډو او سترګو او نورو ښايسته برخو ئې اطلاق نه دئ شوی.

٢. له (ما ظهر منها)؛ نه مخ مراد دئ او نه جامه، بلکې هغه ګاڼه مراد ده چې ښځې ئې په مخ او لاسونو کې کاروي، لکه ګوتې، ټيك، ډيډې (والۍ)، او غاړګۍ. البته د ګاڼې د نه څرګندولو مراد په اصل کې د وجود هغه برخه نه څرګندول دي چې د تزئين لپاره ئې ګاڼه کارول کېږي، لکه غاړه، سينه، غوږونه، پزه او نور غړي. د آيت له دې برخې دا هم معلومېږي چې که ښځو خپل مخ سينګار کړی وي، سترګې ئې توري او شونډې ئې سرې کړې وي ورته روا نه دي چې لوڅ ئې کړي، ځکه چې د زينت له څرګندولو منع کړی شوې دي. او زينت په اصل کې د دې لپاره وي چې د بل توجه ځان ته جلب کړي، هر هغه کار چې ښځې ئې د نامحرم د توجه راجلبولو لپاره وکړي ناروا دئ.

• ښځو ته لارښوونه شوې چې خپل ټکري دې پر خپل ګرېوان واچوي او خپله ګاڼه دې له نژدې خپلوانو بل چا ته نه څرګندوي او خپلې پښې دې داسې پر زمکه نه وهي چې پټه ګاڼه ئې معلومه شي. دلته هم څو پوښتنې

راولاړېږي: پر ګرېوان د ټکري اچولو معنی څه ده؟ آيا معنی ئې دا ده چي خپل ټکری به پر مخ داسي اچوي چي ګرېوان ئې هم پټ کړي؟ او که ئې معنی دا ده چي د ټکري يوه پيڅه به پر خپلي غاړي داسي راتاو کړي چي غاړه او ګرېوان ئې هم ورپټ کړي؟ په دې اړه هم د صحابه وو تر منځ د رأيي اختلاف تر سترګو کېږي او هم د فقهاءو او محدثينو تر منځ، هم د مخکينيو او هم د وروستنيو، ځيني د ښځو مخ او لاسونه تر بند پوري عورت نه بولي او پټ ساتل ئې فرض او واجب نه ګڼي او د ښځو د بدن همدا برخي د (ما ظهر) مصداق بولي، خو ځيني نور د دې پټول هم فرض ګڼي او د (ما ظهر) مصداق يا د ښځو جامه ګڼي يا په غير قصدي توګه د مخ او لاسونو يا نورو برخو ښکاره کېدا ګڼي. احناف د لومړۍ رأيي پلوي کوي او يقيناً چي همدا رأيه دقيقه او سمه ده. دلائل ئې دا دي:

۳. د مخ پټول مو په هغه صورت کي فرض ګڼلی شو چي: ۱- د پټولو په اړه ئې صريح نص ولرو، حال دا چي په ټول قرآن کي د مخ پټولو په اړه صريح حکم نه مومو. ۲- که دا فرض وی نو د حج په دوران کي به ښځي د يوه فرض په ترك کولو نه مکلف کېدې او دا به نه ورته ويل کېدل چي د احرام په حالت کي به مخ او لاسونه نه پټوي. څوك چي حج ته د استثنايي حالت نوم ورکوي اشتباه کوي، په حقيقت کي حج معياري حالت دئ، څه چي په حج کي جائز وي په بل وخت کي په اولی درجه جائز دي.

٤. د نارينه او ښځي لپاره د فرض حجاب حد همغه دئ چي په حج کي بايد مراعات شي، تر دې زيات ئې په مستحباتو کي راځي.

۵. دې ته بايد متوجه وو چي د نارينه او ښځي لپاره د احرام لباس يو داسي معيار دئ چي ښيي مسلمان نارينه او مسلمانه ښځه په همدومره لباس مکلف دي، تر دې زيات ئې نه فرض دي او نه واجب، بلکي مستحب دي او د دوی خوښي او ظروفو ته پرېښودل شوي، که د حج په څېر ستر عبادت کي، د بيت الله خوا ته، د لکونو خلکو په منځ کي دومره لباس کافي وي؛ نو په نورو وختونو کي خو په اولی درجه کافي دئ، څوك چي وايي نارينه د سر په پټولو او ښځه د مخ او لاس په پټولو مکلف دي په دين کي غلو او بې ځايه سختي کوي او خلك په هغه څه مکلف کوي چي الله تعالی نه دي پرې

ګمارلي.

٦. که د ښځي لپاره مخ او لاسونه پټول ضروري وی نو الله تعالی به د حج په دوران کي پرې مکلفه کړې وه او که د نارینه لپاره سر پټول ضروري وی نو الله تعالی به په حج کي پرې مکلف کړی وو. ښځي به په دې نه ګمارل کېدې چي د حج په دوران کي به نه مخ پټوي او نه به لاس پوښي (دستکشي) په لاس کوي، نارینه به پر دې نه ګمارل کېدل چي سر به نه پټوي او داسي بوټونه به نه پښو کوي چي تر پښو ئې زیاتي پښې ورپټي کړي، که مخ او لاسونه پټول فرض وی نو ښځو ته به جائز نه وه چي په لوڅ مخ او لوڅونو لاسونو لمونځ وکړي. که څه هم خوا ته ئې کوم نامحرم نه وي!! له پکول، خولۍ، پټکي او لونګۍ سره لمونځ کول یو برابر دي، او حتی ویلی شو چي که څوك د الله تعالی په وړاندي د خپل عجز او انکسار ښودلو لپاره لوڅ سر ودرېږي نه یوازي ګناه ئې نه ده کړې بلکي د ثواب داسي کار ئې کړی چي د حج په دوران کي ئې کوي. د احنافو د فقهاءو رأيه همدا ده. اهل حدیث د احنافو له رأيي سره مخالفت کوي او هغه احادیث هم یا نه مني او یا ئې تأویلوي چي د احنافو د رأيي تأیید کوي. دوی وایي: د حج په دوران کي ښځي باید نقاب پر مخ راکش کړي خو داسي چي له مخ سره به ئې نه لګېږي!! ګواکي په دې سره ئې هم پر حدیث عمل کړی او هم ئې پر خپل مذهب!! ځیني بیا داسي دي چي وایي په لوڅ سر لمونځ کول مکروه دي!! که پوښتنه وکړو چي د کوم نص په استناد؟ قرآن خو دا خبره نه ده کړې، په احادیثو کي خو دا خبره نه ده شوې، رسول الله صلی الله علیه و سلم خو هم د حج په دوران کي لوڅ سر لمونځ کړی او هم په ځینو نورو وختونو کي، تاسو د څه په استناد دا خبره کوئ؟! داسي څه به ترې واورې چي حیران به شې، وایي: الله تعالی فرمایلي: خذوا زینتکم عند کل مسجد، د دې آیت ترجمه هم داسي کوي: هر جومات ته د تلو په وخت کي خپل زینتي لباس واغوندئ، خو نه د دې آیت ترجمه دغسي ده او نه ئې مطلب دا دئ چي پګړۍ یا خولۍ په سر کړئ، ځکه دلته مسجد د اسم زمان په توګه راغلی نه د اسم مکان، مراد ئې د سجدې او لمانځه وخت دئ نه جومات، او مقصد ئې دا دئ چي د هغو خلکو غلطه عقیده تردید کړي چي وایي په زړو، ځیرو، خیرنو،

پینه شوو، وړینو، کرباسي او ملنګي جامو کې لمونځ کول ډېر ثواب لري!! الله تعالی فرمايي چې تر ټولو ښکلې جامې مو د لمانځه لپاره واغوندئ، الهي شریعت مونږ ته وايي چې جومات ته د تلو په وخت کې ښې جامې واغوندئ، عطر ووهئ، که مو داسي څه خوړلي وو چې له خولې مو بد بوی تلو یا د ډېرو خولو په سبب بد بوی درنه تلو جومات ته له تللو ډډه وکړه، ځان پاکیزه او ستره کړه بیا جومات ته ولاړ شه. د خذوا زینتکم معنی او مراد دا دئ، نه د خولۍ او پګړۍ په سر کول.

۷. که په حجاب کې مخ شامل وی نو په دېرشم آیت کې دې حکم مورد نه درلود چې مؤمنانو ته ووایه: خپلې سترګې ټیټې واچوي، دا حکم خو په هغه صورت کې وارد دئ او مجال لري چې د ښځو مخ لوڅ وي.

په قرآن کې د ستر په ارتباط درې الفاظ راغلي: حجاب، خمر او جلابیب، ځیني دا درې واړه سره خلط کړي او د ټیکري او پړوني په معنی ئې ونیسي، حال دا چې حجاب هغه څه ته ویل شوي چې د دوو لوریو تر منځ د لیدا مانع شي، لکه د دروازې پر سر پرده، کومه دړه او دېوال، قرآن د حجاب لفظ هلته کارولی چې مؤمنانو ته وايي: کله چې له امهات المؤمنین (د رسول الله صلی الله علیه و سلم له مېرمنو) کوم څه غواړئ نو د حجاب (پردې) تر شا ئې وغواړئ، د حجاب له شا ورغږ کړئ چې اې د مؤمنانو مورې! دا شی مې په کار دئ. دغي لارښووني ته په پام سره ویلی شو چې ټیکري ته د حجاب نوم ورکول او مستوري ښځي ته محجبه ویل غلطه نومَوَنه ده. خمار هغه واړه ټیکري ته وايي چې مېرمني ئې پر سر کوي او غاړه او ګرېوان پرې پټوي، او جلباب هغه لوی پړوني ته وايي چې ښځي ئې پر خپل سر اچوي او پر خپل ټول ځان ئې راتاووي.

مونږ په هغه صورت کې ادعاء کولی شوی چې مخ هم په خمار (ټیکري) سره پټول ضروري دي چې تر جیوبهن مخکې د وجوههن ذکر راغلی وی، که مراد د مخ پټول وی نو دوه خبري ضروري وې: ۱- باید په صراحت سره د مخ (وجوههن) یادونه شوې وی، ۲- د مخ لپاره باید د غطاء (پټولو) لفظ راغلی وی نه د یضربن چې دلته د غوړولو او اچولو په معنی دئ، له مخ سره د غطاء لفظ ښايي او پر ګرېوان د ټیکري له اچولو سره د یضربن صیغه.

په ۳۱ آیت کې چې ویل شوي باایمانه ښځې دي خپل زینت له خپلو مېړونو، پلرونو، د خپلو مېړونو له پلرونو، خپلو زامنو، د خپلو مېړونو زامنو، خپلو وروڼو، وریرونو، خورییو، خپلو ښځو، خپلو وینځو، هغو تر لاس لاندې سړو چې بې شهوته دي او له هغو ماشومانو پرته چې د ښځو په عورت خبر نه دي بل چا ته نه ښکاره کوي، دلته څو پوښتنې راولاړېږي: دا کوم زینت دئ چې پر مېړه علاوه پورتنیو ته ئې هم ښوول مانع نه لري؟ او دا کوم زینت دئ چې له خپلوانو او شاوخوا ښځو پرته ئې نورو ښځو ته هم ښودل جائز نه دي؟ آیا د دې زینت اطلاق له ګاڼې پرته په بل څه کولی شو؟ دوه ځوابونه درلودی شو: یو دا چې د بدن ځینې برخې داسې دي چې له مېړه علاوه د ښځې نور خپلوان ئې هم له لیدو نه دي منع شوي، لکه وېښتان، غاړه، مټ، او ګواکې په دې آیت کې په زینت سره همدغو برخو ته اشاره شوې. بل دا چې ښځې له دې منع شوې چې خپله ټوله ګاڼه له مېړه او پورتنیو خپلوانو او نژدې خلکو پرته بل چا ته ونه ښیي. د دې پوښتنو مختصر او یوازینی ځواب دا دئ چې دلته له زینت مراد ګاڼه ده نه بل څه. که د آیت الفاظو ته ځیر شو نو په یقین سره ویلی شو چې دوهمه رأیه دقیقه ده، دا ځکه چې زینت په عامه صیغه راغلی د خاصولو لپاره ئې هیڅ موجه دلیل نه مومو، په کوم دلیل به یوازې څو غړي ترې مرادوو؟ مخ او لاس له پردیو ښځو هم ستر نه دئ او له مخ، لاس او پښې پرته نور غړي خپلوانو نارینه وو ته هم ښودل منع دي. دا به ډېره عجیبه وي چې څوك دلته (نساءهن) داسې تعبیر کړي چې ګواکې پردیو ښځو ته خپل جمال ښودل منع دي او خپلو ته ئې ښودل مانع نه لري!! حال دا چې معنی ئې له کوم شك پرته دا ده چې له خپلوانو پرته نورو ښځو ته د خپلو ګاڼو له ښودلو منع شوې، ښځو ته د سینګار او د ګاڼو د کارولو امتیاز ورکړی شوی، خو دا د خپل مېړه په وړاندې او د هغه د ارضاء او توجه جلبولو په موخه؛ نه د پردي نارینه د توجه جلبولو او یا له نورو ښځو سره د مسابقې، رقابت او ځان ښودنې لپاره. له داسې ځان ښودنو چې په ټولنې کې کومې فتنې راولاړېږي له هیڅ عاقل انسان پټې نه دي، که په یوې مېلمستیا او واده کې ځینو ښځو سینګار کړی وي او رنګ رنګ ګاڼې ئې اچولې وي او په خوا کې ئې داسې مېرمنې وي چې د سرو زرو

ګانې خو پرېږده حتی سمي جامې هم نه لري، په دې سره له يوې خوا د دوی تر منځ جدي کرکه او دښمني راپيدا کېږي، له بلې خوا نوري مېرمني دې ته هڅول کېږي چې خپل مېړونه دې ته اړ کړي چې دوی ته هم همداسي ګانې برابري کړي، که له حرامو لارو وي او که له حلالو!! دا يقيناً چې ټولنه د منفي رقابتونو او حسادتونو په لوري بيايي او فتنې راولاړوي. قرآن د قارون يادونه کوي چې په ګاڼو ئې ځان سينګار کړی خپل قوم ته راووت، ناپوهانو د ده حالت ته په پام سره وويل: کاش موږ هم د ده په څېر وی او همغه څه مو درلودی چې ده ته ورکړی شوي!!

دغو رواياتو ته هم ځير شئ چې وايي: د مېرمنو مخ او لاسونه تر بندونو پوري له ستر مستثنی کوي:

عَنْ عَائِشَةَ: أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِى بَكْرٍ دَخَلَتْ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم وَعَلَيْهَا ثِيَابٌ شَامِيَّةٌ رِقَاقٌ، فَأَعْرَضَ عَنْهَا، ثُمَّ قَالَ:«مَا هَذَا يَا أَسْمَاءُ؟ إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا بَلَغَتِ الْمَحِيضَ لَمْ يَصْلُحْ أَنْ يُرَى مِنْهَا إِلاَّ هَذَا وَهَذَا». وَأَشَارَ إِلَى وَجْهِهِ وَكَفَّيْهِ. سنن البيهقى. و قال الشيخ الألبانى: صحيح

له عائشې رضی الله عنها روايت دئ چې خور ئې اسماء بنت ابوبکر رضی الله عنهما په داسي حال کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته راغله چې نرۍ شامي جامه ئې اغوستې وه، مخ ئې ترې واړاوو او وئې فرمايل: اې اسماء! دا څه دي؟! ښځه چې پيغلتوب ته ورسېږي نو ورته روا نه ده چې له دې او دې پرته ئې بل څه ترې وليدل شي، خپل مخ او لاسونو ته ئې اشاره وکړه.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم:«لاَ تَتَنَقَّبُ الْمَرْأَةُ الْمُحْرِمَةُ وَلاَ تَلْبَسُ الْقُفَّازَيْنِ ». سنن البيهقى

له عبد الله بن عمر رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: محرمه (حج کوونکې) ښځه دي نه پر مخ نقاب اچوي او نه دي لاس پوښي (دستکشي) په لاس کوي.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ مَاذَا تَأْمُرُنَا أَنْ نَلْبَسَ مِنْ الثِّيَابِ فِي الْإِحْرَامِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَلْبَسُوا الْقَمِيصَ وَلَا السَّرَاوِيلَاتِ وَلَا الْعَمَائِمَ وَلَا الْبَرَانِسَ إِلَّا أَنْ يَكُونَ أَحَدٌ لَيْسَتْ لَهُ نَعْلَانِ فَلْيَلْبَسْ الْخُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْ أَسْفَلَ مِنْ الْكَعْبَيْنِ وَلَا تَلْبَسُوا شَيْئًا مَسَّهُ زَعْفَرَانٌ وَلَا الْوَرْسُ وَلَا تَنْتَقِبْ الْمَرْأَةُ الْمُحْرِمَةُ وَلَا تَلْبَسْ الْقُفَّازَيْنِ رواه البخارى

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي: يو سړی پاڅېدو او وئې ويل: يا رسول الله! څه امر راته کوې چي په احرام کي به څه جامه اغوندو؟ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: نه به کميس اغوندي، نه پرتوگونه، نه پټکي، نه چپني؛ او که څوك پڼې (څپلکي) ونه لري نو موزې دي واغوندي؛ خو داسي دي پرې کړي چي تر ښنگريو (بېډيو) لاندي شي؛ او نه دي داسي جامه اغوندي چي وَرْس (هغه بوټی چي جامې ته سور رنگ ورکوي) او زعفران (هغه بوټي چي جامې ته ژړ رنگ ورکوي او ښه بوی لري)؛ پرې وهل شوي وي؛ او مُحْرِمه ښځه دي نه نقاب اغوندي او نه لاس پوښي (دست کشي).

دا روايت دوه ځلي په بخاري کي راغلی او د حديث نورو کتابونو هم رااخيستی.

هغه ښاغلي مفتيان چي د مېرمنو ټول بدن پټول فرض گڼې؛ د دغو آيتونو او رواياتو په اړه څه وايي؟ څنگه د داسي څرگندو نصوصو په شتون کي د داسي فتوی ورکولو جسارت کوي. يقيناً چي د حجاب په اړه د هغو خلکو رأيه ډېره کمزورې ده چي د ښځو مخ او لاسونه هم په ستر کي شاملوي او فرض ئې گڼي، همغسي کمزورې لکه جومات او مدرسې ته د ښځو د تگ په اړه د دوی رأيه. په دې اړه ټول مسلمانان متفق دي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم په زمانې کي د هغه تر رحلت پوري او د څلورو خلفاءو په دوران کي ښځي جومات ته تلې او د جَماعت په لمونځونو کي ئې له نارينه وو سره يو ځای برخه اخيسته، داسي چي مخکي به نارينه، ورپسې ماشومان او

د صفوفو په وروستۍ برخي کي به ښځي ودرېدې، د اختر په لمونځونو کي به ئې هم برخه اخیسته، او کله کله به رسول الله صلی الله علیه و سلم د دوی لپاره بېله غونډه جوړوله او دوی ته به ئې ځانګړې موعظه اوروله. نه یوازې دا چي مسجد ته تلې او د جماعت په لمونځونو کي به ئې شرکت کولو بلکي ګڼ شمېر مېرمنو د امهات المؤمنین په شمول په غزواتو کي هم شرکت کړی. په دې اړه روایات دومره زیات او دومره صریح دي چي هیڅوك ترې انکار نشي کولی. راشئ وګورو چي قرآن په دې اړه څه حکم کړی، آیا په قرآن کي داسي لارښووني مومو چي جومات ته د ښځو د تلو جواز ترې استنباط شي؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې اړه څه لارښووني کړې؟

## د مېرمنو د غږ په اړه غلطه فتوی

په داسي حال کي چي په لسګونو نصوص؛ آیات او احادیث لرو چي ښیي مېرمنو له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره خبري کړې، د هغوی پوښتني ئې اورېدلې او لارښووني ئې ورته کړې؛ او د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمنو له نارینه وو سره لیدلي او د هغوی پوښتنو ته ئې ځوابونه ویلي؛ او قرآن ګڼ شمېر عملي مثالونه زموږ مخي ته ږدي او وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم او تر ده وړاندي سلیمان علیه السلام، یوسف علیه السلام او موسی علیه السلام له نا محرمو مېرمنو سره مخامخ خبري کړې؛ دا ئې څو مثالونه:

قَدْ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوْلَ ٱلَّتِي تُجَـٰدِلُكَ فِي زَوْجِهَا وَتَشْتَكِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَٱللَّهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَآۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٌ ۝١ المجادلة

یقیناً چي الله د هغي مېرمني وینا اورېدلې ده چي د خپل مېړه په اړه ئې له تا سره مجادله کوله او الله ته ئې شکایت کولو؛ او الله ستاسو دواړو محاوره اورېدله، یقیناً چي الله ښه لیدونکی اورېدونکی دئ.

په دې مبارك آیت کي د یوې مېرمني په اړه ویل شوي چي الله تعالی د هغې وینا هغه مهال واورېده چي د خپل مېړه په اړه ئې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره مجادله کوله او الله ته ئې خپل شکایت وړاندي کولو!! راشئ وګورو دا کومه بختوره مېرمن وه چي الله تعالی د هغې دومره درناوی

وکړ، په قرآن کې ئې د دې یادونه وکړه، د هغې د وینا او شکایت اورېدو او دعاء قبلېدو ډاډ ئې ورکړ؟! آیا له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د دې مجادله دومره ارزښتمنه وه چې په قرآن کې ئې یادونه وشي؟! آیا د دې وینا د الله تعالی په وړاندې دومره اهمیت درلود چې د هغې د اورېدو په اړه درې ځلې ووایي: (قَدۡ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوۡلَ ٱلَّتِي تُجَٰدِلُكَ فِي زَوۡجِهَا وَتَشۡتَكِيٓ إِلَى ٱللَّهِ)، (وَٱللَّهُ يَسۡمَعُ تَحَاوُرَكُمَآۚ)، (إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٌ)؟!! د دې وینا، مجادلې او محاورې ته دومره جدي اهتمام د څه لپاره؟!

لومړی باید په دې پوه شو چې د دې مېرمنې ستونزه او شکایت څه وو او بیا دې پوښتنې ته ځواب ولټوو چې ولې دومره اهمیت ورکړی شوی. د قصې تفصیل داسې دئ چې تر اسلام وړاندې او د جاهلیت په دوران کې معمول دا وه چې چا به د خپلې مېرمنې د طلاق په موخه هغې ته وویل: ته له نن وروسته پر ما داسې شوې لکه خپله مور، نو نه یوازې مېرمن به پرې طلاقه شوه بلکې د دوی بیا نکاح به د تل لپاره حرامه ګڼل کېده، په مدینه کې یوه صحابي چې اوس بن الصامت نومېدو خپلې مېرمنې خوله بنت ثعلبه رضی الله عنها ته همدا خبره وکړه، خو ډېر ژر په خپلې خبرې پښېمان شو، طلاق واقع شوی وو، د بېرته ستنېدو لارې ئې پر خپلې مخې بندې موندلې، خوله رضی الله عنها رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورغله، د آیت له الفاظو معلومېږي چې په دې اړه ئې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره مجادله کړې، دلائل ئې وړاندې کړي چې د دې خبرې او طلاق تر منځ څه فرق دئ؟ باید د خاوند وینا ئې یو طلاق وګڼل شي او د بیا نکاح حق ورکړی شي، رسول الله صلی الله علیه و سلم هغې ته ویلې: ما ته لا تر اوسه په دې اړه لارښوونه نه ده شوې، خو داسې انګېرم چې طلاق واقع شوی او هغه له تاسره نه شي یو ځای کېدی، خوله رضی الله عنها د خپل اولاد په اړه پرېشانه وه، که ئې له ځان سره ساتې نو د هغوی د پاللو او ساتلو توان نه لري، که ئې خاوند ته پرېږدي دا اندېښنه ورسره وه چې ضائع به شي، هغه اعتناء به ورته نه کوي چې یوه زړه سوانده مور ئې د اولاد په اړه لري، د همدې لپاره ئې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره مجادله او محاوره کوله، الله تعالی د دې دا مجادله او محاوره دومره خوښه شوه چې په قرآن

کې ئې د هغې يادونه وکړه؛ او همدا مهال او د دغې پېښې په ارتباط ئې د جاهليت د دور هغه ناوړه او جاهلي دود لغو کړ او مسلمانانو ته ئې ضروري لارښوونه وکړه. له دې په څرګنده توګه معلومېږي چې په الهي دين کې د يوې کورنۍ له شړېدو مخنيوی څومره ارزښت لري. د دې ارزښت په عظمت هغه مهال ښه پوهېدی شو چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم د يوه حديث په رڼا کې ورته ځېر شو، حديث دا دئ:

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم « إِنَّ إِبْلِيسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ ثُمَّ يَبْعَثُ سَرَايَاهُ فَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً يَجِىءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ فَعَلْتُ كَذَا وَكَذَا فَيَقُولُ مَا صَنَعْتَ شَيْئًا قَالَ ثُمَّ يَجِىءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ مَا تَرَكْتُهُ حَتَّى فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ؛ قَالَ: فَيُدْنِيهِ مِنْهُ وَيَقُولُ نِعْمَ أَنْتَ ». رواه مسلم

له جابر رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: يقيناً چې شيطان خپل تخت پر اوبو ږدي بيا خپل ټولګي (د شر او فساد خورولو لپاره) لېږي، نو ده ته تر ټولو نژدې ئې د مقام او منزلت له پلوه هغه وي چې تر ټولو لويه فتنه ئې رامنځته کړې وي، يو ئې ورشي او وايي: دا او دا مې وکړل، هغه ورته وايي: هيڅ دې نه دي کړي، بيا د دوی يو ورشي او وايي: تر هغه مې پرېنښود چې د ده او د ده د مېرمنې تر منځ مې بېلتون راوست، رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: نو شيطان ئې ځان ته ورنژدې کړي او ورته وايي: ته ډېر ښه يې!!

له دې حديث معلومېږي چې شيطان ته تر قتل، غلا، شراب او نورو سترو سترو ګناهونو دا کار مهم برېښي چې يوه کورنۍ له منځه ولاړه شي او د يوې مېرمنې او مېړه تر منځ بېلتون راشي. حقيقت دا دئ چې کورنۍ د يوې ټولنې د بنسټ لومړۍ خښته ده، يوه ټولنه هغه مهال د تباهۍ په درشل ودرېږي، له بشپړې شړېدا سره مخامخ کېږي او ماڼۍ ئې نسکورېږي چې د بنسټ دا لومړۍ خښتې ئې وشړېږي. او دا هغه څه دي چې نن غربي ټولنې او د غرب لادينه تمدن ورسره مخامخ دئ، په غرب کې هر کال د نکاح شمېر

تر طلاق په سرعت سره کمېږي، نوی نسل ئې له نکاح ډډه کوي، نکاح او ازدواج د آزادو جنسي اړیکو په وړاندي خنډ گڼي، زړه سواند مفکرین ئې د بدو پایلو وړاندویني کوي او وایي: که د دې خطرناك بهیر مخنیوی ونه شي نو غربي ټولنه به ډېر ژر او په نژدې راتلونکي کي له بشپړي تباهۍ سره مخامخ شي!!

د دې سورې نوم المجادله ده، د همدې پېښې په نامه یاده شوې، په دې پېښي او بیا د دې سورې په نزول سره نه یوازي د جاهلیت د دور یوه ستره ستونزه حل شوې بلکه دا حقیقت هم زموږ مخي ته ایښودل شوی چي مېرمني به رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورتلې، خپل شکایتونه او مشکلات به ئې ورسره شریکول، د مجادلې تر حده به ئې خبري ورسره کولې، نه دا خبري او مجادله گناه او حرام گڼل کېده، نه به ئې مخ پټ وو او نه به د مېرمنو وینا اورېدلو ته چا د گناه په سترگه کتل. عجیبه ده چي څوك د داسي څرگندو آیتونو له اورېدو سره سره دا ادعاء کوي چي نامحرم ته د مېرمنو غږ اورېدل هم حرام دي!! آیا دا بې علمه مفتیان دا وېره او اندیښنه نه لري چي په خپلو غلطو او جعلي فتوی گانو سره رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د گناه نسبت کوي؟!!

همدا راز قرآن فرمایي چي مېرمنو به د نارینه وو په څېر له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره په څو مهمو خبرو بیعت کولو:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُؤْمِنَـٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَىٰٓ أَن لَّا يُشْرِكْنَ بِٱللَّهِ شَيْـًٔا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَـٰدَهُنَّ وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَـٰنٍ يَفْتَرِينَهُۥ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِينَكَ فِى مَعْرُوفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَٱسْتَغْفِرْ لَهُنَّ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾ الممتحنة

اې نبي! کله چي مؤمني ښځي درشي د دې لپاره چي له تا سره په دې بیعت وکړي چي نه به له الله سره کوم څه شریکوي، نه به غلا کوي، نه به زنا کوي، نه به خپل اولاد وژني، نه به داسي دروغجن تور لگوي چي د خپلو لاسونو او پښو منځ کي ئې افتراء کوي؛ او نه به په کوم معروف کار کي له تا سرغړونه

کوي، نو بیعت ورسره وکړه او له الله بخښنه ورته وغواړه، يقيناً چې الله مهربان بخښونکی دئ.

په دې مبارك آيت کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د مېرمنو د بیعت په اړه دا لارښوونه شوې:

• کله چې مؤمني ښځې د دې لپاره درشي چې له تا سره په دغو خبرو بیعت وکړي چې نه به له الله سره کوم څه شريکوي، نه به غلا کوي، نه به زنا کوي، نه به خپل اولاد وژني، نه به داسي تور لګوي چې د خپلو لاسونو او پښو منځ کې ئې افتراء کوي؛ او نه به په کوم معروف کار کې له تا سرغړونه کوي؛ نو بیعت ورسره وکړه.

• دوی ته له الله تعالی بخښنه غواړه، يقيناً چې الله مهربان بخښونکی دئ.

دلته د څو خبرو وضاحت په کار دئ: ۱- مېرمنو به له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره په لوړ غږ دا ژمني او بیعت کولو؛ داسي ژمني او بیعت نه په پټ مخ اعتبار لري او نه له غږ پرته په اشارو؛ ۲- باید وګورو د دې خبري معنی څه ده چې (نه به داسي تور لګوي چې د خپلو لاسونو او پښو منځ کې ئې افتراء کوي)؟ آيا مراد ئې دا دئ چې له داسي دروغجن تور لګولو به ډډه کوي چې له خپله ځانه ئې جوړ کړی او هيڅ حقيقت نه لري، د لاسونو او پښو منځ يعني خپل نفس او هوس؟ او که ئې مراد دا دئ چې خپلي مخي ته ولاړ کوم بل انسان په اړه له افتراء ډډه کول او په خپل رحم کې اولاد په اړه له افتراء ځان ساتل؟ داسي معلومېږي چې دوهم تعبير دقيق دئ، دا ځکه چې که مراد دا وی چې لومړی مطلب افاده شي نو بيا دې ته څه اړتيا نه وه چې د (بين ايديهن و ارجلهن) فقره هم راوړل شوې وی، يوازي يفترينه کافي وو. ۳- رسول الله صلی الله عليه و سلم کله د غونډې په ترڅ کې او يو ځايي له مېرمنو په دغو خبرو بیعت اخيستی او کله په انفرادي توګه، پرته له لاس ورکولو، داسي هم شوي چې د يوه ټوکر يوه پيڅه بیعت کوونکې مېرمني په لاس کې نيولې او بله پيڅه رسول الله صلی الله عليه و سلم.

ښاغلو مفتيانو! د قرآن د دغه څرګند او صريح آيت په اړه څه وايئ؟ آيا کله مو د دې آيت په اړه فکر کړی او په مطلب ئې پوه شوي يئ؟ آيا دې ته

متوجه شوي يئ چي ستاسو فتوی د مېرمنو د مخ او غږ په اړه د دې آيت خلاف ده؟ او د نامحرمو مېرمنو غږ اورېدا او مخ ليدا ته د حرمت نسبت؛ په حقيقت کي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د گناه نسبت دئ؟

قرآن د قاضي او حَکَم په وړاندي د مېرمنو شهادت جائز گڼي او وايي:

... وَٱسْتَشْهِدُواْ شَهِيدَيْنِ مِن رِّجَالِكُمْۖ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَٱمْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ ٱلشُّهَدَآءِ أَن تَضِلَّ إِحْدَىٰهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَىٰهُمَا ٱلْأُخْرَىٰۚ وَلَا يَأْبَ ٱلشُّهَدَآءُ إِذَا مَا دُعُواْۚ .... ﴿٢٨٢﴾ البقرة

.... او له خپلو نارينه وو د شهادت لپاره دوه شاهدان ونيسئ؛ خو که دوه سړي نه وو نو ستاسي د خوښي له شاهدانو دي يو سړی او دوه ښځي وي چي که له دوی دواړو يوې خبره هېره کړه؛ بله به ئې ور په ياد کړي؛ او کله چي شاهدان (د شهادت لپاره) وبلل شي؛ ډډه دي نه کوي...

يعني د دوه متفق عليه نارينه شاهدانو د نه موندلو په صورت کي يو نارينه او دوه ښځي کولی شي د شاهدانو په توگه عمل وکړي؛ شاهداني مېرمني په دې مکلفي شوې چي د شهادت لپاره د قاضي په بلنه محکمې ته حاضري شي.

د يوه سړي په ځای د دوو مېرمنو شاهدانو د حضور دليل هم قرآن بيان کړی او ويلي ئې دي چي دا يوازي د دې لپاره چي که يوه ئې خبره هېره کړي بله ئې ورپه ياد کړي، دا ځکه چي د ښځي عاطفه هومره قوي ده چي د دې حافظه هم تر اغېز لاندي نيسي، گورئ چي عاطفه ئې د اولاد ټولي نادودي او غلط کارونه حتی جفاگاني پرې هېروي، هري مور ته خپل اولاد ډېر بې گناه معلومېږي، زوی ئې د گاونډي له زوی سره په جگړي کي سخت ملامت وي خو دا ترې په حقه او ناحقه دفاع کوي، خپله مورنۍ عاطفه ئې دې ته هڅوي چي له خپل زوی دفاع وکړي، همدغه عاطفه د بې وزلي پوروړي په نسبت د شهادت ورکولو په وخت کي په دې همغه کار کوي چي له خپل زوی د دفاع په وخت کي ئې پرې کوي.

هغه ناپوه کسان چي دا د ښځو په نسبت تبعیض ګڼي، په دې هم نه پوهېږي چي شهادت ورکول امتیاز نه بلکي یو مکلفیت دئ او اسلام د مکلفیتونو په برخه کي تل ښځو ته امتیازات ورکړي چي څو مثالونه ئې دا دي:

- سنګر ته له تلو ئې معاف کړې، مګر دا چي نفیر عام وي او دا په خپله خوښه تګ وغواړي.
- جومات ته ئې د تلو حق ورکړی خو پرې مکلفه کړې ئې نه ده. البته یوه رأی دا ده چي مېرمني هم جومات ته په تګ او په جماعت لمونځ مکلفي شوې دي؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم هغوی ته په دې اړه مکرر امر کړی؛ د قرآن پر دې آیتونو هم استناد کوي چي وايي:

يَٰمَرۡيَمُ ٱقۡنُتِي لِرَبِّكِ وَٱسۡجُدِي وَٱرۡكَعِي مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ۝٤٣ آل عمران

وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ۝٤٣ البقرة

په دې امر (وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ) کي دواړه نارینه او ښځینه مؤمنان شامل دي.

- نکاح د ښځي او نارینه تر منځ یوه برابره معامله ده، په دې سره د دواړو یوې طبیعي او انساني اړتیا ته ځواب ویل کېږي، خو اسلام نارینه د مهر په ورکولو مکلف کړی، د کور او د کورنۍ ټول مصارف ئې او د خپلي مېرمني او ماشومانو نفقه او جامه ئې د نارینه پر غاړه اچولې او ښځه ئې معافه کړې. دا په داسي حال کي چي ښځه له مېړه مهر اخلي او د مېړه په شمول له خپلوانو میراث تر لاسه کوي او دا حق ورکړی شوی چي کولی شي خپله دغه شتمني په کار واچوي او ګټه تر لاسه کړي. ګورئ چي په اقتصادي چارو کي هم امتیاز ورکړی شوی خو له مکلفیت معاف شوې دي.
- مېرمني د نکاح په وخت کي کولی شي او دا ئې حق دئ چي په خپله د شاهدانو او هغه چا په وړاندي حاضر وي چي نکاح تړي؛ خپله موافقه او رضایت اعلان کړي او د مهر مطالبه وکړي؛ دا نه په پټ مخ کېدی شي او نه له خبرو پرته او په اشارو.
- له دې لارښووني دا هم معلومېږي چي مېرمني کولی شي د قاضي په

وړاندي ودرېږي او د چا په اړه شهادت ورکړي؛ د شهادت په وخت کې به ئې مخ لوڅ او خبري به کوي، يعني چي نه د مخ په پټولو مکلفي دي او نه له نامحرم سره له خبرو منع شوې، دا ځکه چي شهادت او گواهي نه په پټ مخ د منلو وړ دئ او نه له ځرگندو واضح خبرو پرته او په اشارو؛ شاهد بايد وپېژندل شي او په واضح الفاظو شهادت ورکړي. لکه څنگه چي د مېرمنو شهادت او گواهي معتبر او جائز ده، د قضاء پر مسند کښېنستا ئې هم جائز او د اعتبار وړ ده، قضاوت هم نه په پټ مخ کېدی شي او نه له خبرو پرته او په اشارو.

- همدا راز اسلام مېرمنو ته د تجارت او پېر پلور اجازه ورکړې ده؛ د رسول الله صلی الله عليه و سلم لومړۍ مېرمن خديجه رضي الله عنها تجارت کولو!! رسول الله صلی الله عليه و سلم؛ له خديجې رضي الله عنها سره تر نکاح وړاندي؛ څه موده په تجارتي معاملاتو کې له هغې سره شراکت کړی؛ تجارت هم نه په پټ مخ او نه په اشارو او له خبرو پرته تر سره کېدی شي.

ښاغلو مفتياتو! آيا تاسو په خپلي ناسمي فتوی سره؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم او د ده درنې مېرمني ته د گناه نسبت نه دئ کړی؟! او تر نکاح مخکې د دوی تر منځ ليده کاته او خبري مو د گناه او حرام په فهرست کې نه دي نيولې؟! په داسي حال کې چي د هغې مقام او منزلت دومره لوړ دئ چي د مېرمنو په تاريخ کې د دريو لوړو شخصيتو په ضمن کې ده: مريم، آسيه او خديجه رضي الله عنهن؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم د دې آيت(وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَأَغۡنَىٰ: او نيازمند ئې وموندلې، خو غني ئې کړې)؛ په استناد ويلي: الله تعالی د خديجې په واسطه له فقر وژغورلم او غني ئې کړم. يعني همدې خديجې رضي الله عنها خپله ټوله شتمني د رسول الله صلی الله عليه و سلم په خدمت کې وقف کړه.

قرآن د موسی عليه السلام په قصه کې موږ ته ښيي چي هغه له ماشومتوب تر ځوانۍ پوري د فرعون په کور کې پاته شوی؛ د فرعون د کورنۍ ټولي مېرمني هغه ته نامحرمي وې، بيا کله چي له مصر فرار ته اړ شو او مدين ته ولاړ؛ هلته ئې لومړی د څاه خوا ته له دوو مېرمنو سره چي خپله رمه ئې پيايله؛ او د خړوبولو لپاره راغلې وې؛ ليدلي، خبري ئې ورسره کړې؛

او د هغوی رمې ته ئې له کوهي اوبه راایستلې او بیا د هغوی د پلار په بلنه کور ته ورسره تللی، ۸- ۱۰ کاله په همدې کور کې پاته شوی او شپني ئې کړې؛ د دې نېك انسان په وینا ئې له یوې لور سره نکاح کړې؛ تر نکاح وړاندې د دې کورنۍ ټولې مېرمنې هغه ته نامحرمې وې؛ د موسی علیه السلام دا ټول کارونه ځکه جائز وو چې دا د یوه ستر پیغمبر کارونه وو؛ هر پیغمبر د خپل عصر تر ټولو غوره او صالح شخصیت وې؛ هم تر رسالت وړاندې او هم وروسته؛ او موسی علیه السلام خو د ټولو انبیاءو له منځه د پنځو سترو اولوالعزمو پیغمبرانو له ډلې ګڼل شوی او یوازینی پیغمبر دئ چې الله تعالی ورسره تکلم او خبرې کړې او دوه ځلې ئې خپل حضور ته منلی. هغه شاغلي چې له نامحرمو مېرمنو سره لیدا او د هغوی غږ اورېدا ته د حرام په سترګه ګوري؛ آیا د قرآن دا قصې ئې اورېدلې دي؟ چا چې اورېدلې وي څنګه د دې جسارت کوي چې د هغوی داسې کړنو او عملونو ته د حرام په سترګه وګوري چې الله تعالی په قرآن کې یاد کړې؟! په قرآن کې د دغو قضایاوو بیانول د دې لپاره دي چې موږ پوه کړي د الله تعالی په دین کې څه حلال دي او څه حرام؛ دا حلال او حرام موږ ته د پیغبرانو علیهم السلام په سنت او سلوك کې انځوروي.

قرآن د سبإ له ملکې سره د سلیمان علیه السلام لیدنه، مذاکرات او د توحید لورې ته هغې بلنه او د همدې لیدنې او دعوت په نتیجه کې د هغې ایمان راوړنه په تفصیل سره یادوي او فرمايي:

فَلَمَّا جَآءَتْ قِيلَ أَهَٰكَذَا عَرْشُكِۖ قَالَتْ كَأَنَّهُۥ هُوَۚ وَأُوتِينَا ٱلْعِلْمَ مِن قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِينَ﴿٤٢﴾ وَصَدَّهَا مَا كَانَت تَّعْبُدُ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ إِنَّهَا كَانَتْ مِن قَوْمٍ كَٰفِرِينَ﴿٤٣﴾ قِيلَ لَهَا ٱدْخُلِي ٱلصَّرْحَۖ فَلَمَّا رَأَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً وَكَشَفَتْ عَن سَاقَيْهَاۚ قَالَ إِنَّهُۥ صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ مِّن قَوَارِيرَۗ قَالَتْ رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَٰنَ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴿٤٤﴾ النمل

نو کله چې راغله ورته وویل شول: آیا ستا تخت دغسې دئ؟ وئې ویل: داسې دئ لکه چې همغه وي او تر دې وړاندې پوهه راکړی شوې او موږ مسلمان

شوي يو. او له هغه څه ئې راوګرځوله چي له الله پرته ئې لمانځلو، يقيناً چي هغه له کافرو وګړو وه، ورته وويل شو: دې ماڼۍ ته ننوځه، کله چي ئې هغه وليده د اوبو د حوض ګمان ئې پرې وکړ او خپلي پونډۍ ئې لوڅي کړې، وئې ويل: دا خو يوه ماڼۍ ده چي فرش ئې د شيشو دئ، وئې ويل: اې زما ربه! يقيناً چي ما پر خپل ځان ظلم کړی او (اوس) له سليمان سره يو ځای د عالمونو رب الله ته منقاد شوې يم.

د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

سليمان عليه السلام وويل: د ملکي دا تخت د هغې لپاره ناآشنا غوندي کړئ چي وګورو هدايت کېږي او که له هغو ګرځي چي نه هدايت کېږي، ځينو مفسرينو دا وينا داسي تعبير کړې چي ګواکي سليمان عليه السلام دا ملکه آزمويله چي خپل تخت پېژندی شي که نه، خو د آيت له سياق و سباق او د ورپسې آيت له الفاظو په ډېر صراحت سره معلومېږي چي مراد ئې دا نه بلکي دا وو چي د دې تخت ئې لازيات سينګار کړی، غوښتل ئې دې ته وښيي چي ته هسي پر خپل تخت نازې او هغه درته دومره مهم او ارزښتناك برېښي چي ګمان کوې د نړۍ په هيڅ ګوټ کي به ئې بېلګه ونه موندل شي، دا دئ نن ستا په وړاندي تر هغه ډېر ښکلی تخت پروت دئ، ممرد قصر ته د دې بېول هم په همدې موخه وو، غوښتل ئې د دغو صحنو په ليدو سره د هغې بې ځايه غرور مات شي او ايمان راوړو ته چمتو شي، همداسي وشول، د دواړو صحنو په ليدو سره هغې داسي څه ويلي چي د سليمان عليه السلام د انتظار مطابق وو، الفاظ دا دي: کله چي راغله ورته وويل شول: آيا ستا تخت دغسي دئ؟ وئې ويل: داسي دئ لکه چي همغه وي، او تر دې وړاندي پوه شوي او مسلمان شوي يو. او له هغه څه ئې راوګرځوله چي له الله پرته ئې لمانځلو، يقيناً چي هغه له کافرو وګړو وه، ورته وويل شو: دې ماڼۍ ته ننوځه، کله چي ئې هغه وليده د اوبو د حوض ګمان ئې پرې وکړ او خپلي پونډۍ ئې لوڅي کړې، د قصر لار په ښويو شيشو فرش شوې وه، رنګ ئې داسي چي نابلد کس د اوبو ګمان پرې کاوو، نو ځکه ملکې خپلي پايڅې بډ وهلې، او کله چي ورته وويل شول: دا خو يوه ماڼۍ ده چي فرش ئې د شيشو دئ، نو وئې ويل: اې زما ربه! يقيناً چي ما پر خپل ځان ظلم کړی؛ او

اوس له سلیمان سره یو ځای د عالمونو رب الله ته منقاد شوې یم.

عجیبه ده چې څوک دا واضح تعبیر پرېږدي او داسي څه ترې جوړوي چې نه ئې عقل مني او نه له نقل سره اړخ لګوي. متأسفانه په ځینو تفسیرونو کې په دې اړه داسي ناپړیتي خبري راغلې چې یوازي د یوه بیمار ذهن زېږنده ئې ګڼلی شو، لکه دا چې سلیمان علیه السلام غوښتل د ملکې پونډۍ وګوري چې وېښتان لري که نه!! دې ته ورته ډېري نوري کچه خبري، دا هم باید واضح کړو چې په (قَالَ نَكِّرُواْ لَهَا عَرْشَهَا)کې به یا څه کمول مراد وي یا څه پرې زیاتول، کمول ئې د بحث له مطلب سره اړخ نه لګوي او خاص مطلب نه ترې راوځي. ځکه مو سینګارولو ته ترجیح ورکړې.

پوښتنه کوو: له دې نامحرمي مېرمني سره د سلیمان علیه السلام تفصیلي لیدنه، خبري او مذاکرات، هغې ته په ښکلي مرمرین قصر کې مېلمستیا، د الله لوري ته د هغې بلنه او د همدې بلني او دعوت په نتیجه کې د هغې ایمان راوړل او له شرك د ایمان په لوري راګرځېدل... آیا د دې معنی دا ده چې دا کارونه جائز دي، له نامحرمو مېرمنو سره نه لیدنه کتنه حرام ده او نه مذاکرات او خبري؟! آیا دې ته د حرام په سترګه کتل؛ د قرآن خلاف وینا او ادعاء نه ده او د سلیمان علیه السلام په څېر یوه ستر پیغمبر ته د ګناه نسبت کول نه دي؟

قرآن همداسي چې د سلیمان علیه السلام لیدنه او خبري د سبإ له مَلِکې سره زموږ مخي ته ږدي؛ د یوسف علیه السلام خبري د عزیز مصر له مېرمني سره او کلونه کلونه د هغې په خدمت کې پاته کېدا یادوي؛ دا په داسي حال کې چې الله تعالی د خلکو له منځه او د دوی د لارښود په توګه داسي لوړ او مثالي شخصیتونه د رسالت لپاره غوره کوي چې د دې ستر الهي امانت د حمل لپاره وړ وي، له شرك او ګناه خوندي او مصون، د غوره او مثالي شخصیت خاوند، صادق او امین، لمن ئې بې داغه او له ناپاکیو پاکه، او بیا د دغو پیغمبرانو د ژوند هغه برخې او کړني، قول او عمل، د انسانانو په وړاندي ږدي او ورته وایي: که غواړئ د دنیا او آخرت فلاح او بریا مو په برخه شي نو زما د رسولانو متابعت وکړئ، که غواړئ پوه شئ څه حلال او جائز دي؛ او څه حرام او ناجائز؛ څه تاسو ته مفید دي او څه مضر، په څه الله تعالی

راضي کېږي او په څه ناراض؛ نو زما له رسولانو ئې زده کړئ؛ هر پیغمبر هم تر رسالت وړاندې د مثالي او اسوه شخصیت خاوند وي او هم تر بعثت وروسته؛ یوسف علیه السلام تر رسالت وړاندې او د عزیز مصر په کور کې هم مثالي شخصیت وو او تر رسالت وروسته هم؛ که تقدیر داسې څه درسره وکړل چې له یوسف علیه السلام سره وشول، وروڼو ورسره جفا وکړه، څاه ته ئې وغورځاوو، په ارزانه بیه وپلورل شو، د مصر یوه مخور شخصیت وپېرو، د مصر بد لمنو مېرمنو هڅه وکړه هغه په دام کې واچوي او عصمت او پاك لمني ئې لوټ کړي؛ خو هغه په دې سختې آزموینې کې بریالی شو؛ زندان ته په لېږلو وګواښل شو خو هغه د ګناه په ډنډ کې تر غرقېدو د زندان توري خونې ته تګ غوره کړ. قرآن د هغه دا له عظمت ډك دریځ او غوراوی داسې انځوروي:

وَرَٰوَدَتۡهُ ٱلَّتِي هُوَ فِي بَيۡتِهَا عَن نَّفۡسِهِۦ وَغَلَّقَتِ ٱلۡأَبۡوَٰبَ وَقَالَتۡ هَيۡتَ لَكَۚ قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ رَبِّيٓ أَحۡسَنَ مَثۡوَايَۖ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ۝٢٣

یوسف

هغې مېرمنې چې دی ئې په کور کې اوسېدو، نفسي غوښتنه ئې ترې وکړه، دروازې ئې وتړلې او وئې ویل: ژر شه، درته تیاره یم، هغه وویل: پناه خدای ته، هغه مې رب دئ، زما مېشت ځای ئې راته ښه او ښایسته کړ، یقیناً چې ظالمان نه ژغورل کېږي.

د قرآن دا برخه څو لارښووني او ظریف ټکې زموږ مخې ته ږدي:

- الله تعالی یوسف علیه السلام د خورا ستر مأموریت او لویې دندې لپاره غوره کړی وو، د یوه ستر انقلاب لپاره، د یوه سیاسي، اجتماعي، فکري او اخلاقي انقلاب لپاره، د مصر په څېر په یوې داسې ټولنې کې چې له مدني لحاظه ډېره مخکې تللې خو له فکري او اخلاقي لحاظه ډېره وروسته پاته، ظلم، فساد او بې عدالتي خپل تور وزر پرې غوړولی، واکمنان ئې په فساد کې تر ستوني غرق، مظلومان له خپلو ټولو انساني حقوقو محروم، د واکمنانو د هوسونو قرباني، په نه ګناه زندان ته درومي او د اربابانو د مزاج خلاف په

یوه معمولي کار په دار ځړول کېږي، دا ستر مأموریت سپېڅلی، مهذب، مدبر او د ډسپلین خاوند قیادت او زعامت ایجابوي، هغه کسان چې د اسلامي ټولني د جوړولو په لاره کې مبارزه کوي، (هغه ټولنه چې پیغمبران علیهم السلام ئې پر جوړولو مأمور شوي)، باید دغسې لوړ شخصیت ولري او د مبارزې په لوړو ژورو کې د دوی دا وړتیاوې راڅرګندې شي.

• که چېرې ظروف او شرائط په ګناه کې د انسان د پرېوتو مشوق وي او هغه ګناه ته وهڅوي، نو د ډېرو سترو شخصیتونو د لوېدو او سقوط احتمال هم شته، له هغو ظروفو او شرائطو چې انسان ګناه ته رابولي یا ئې ورته را کاږي باید ځان وساتو.

• که چېرې یوسف علیه السلام د خپل رب برهان نه وی لیدلی، د هغې مېرمنې په لوري به ښویېدلی وو، راشئ وګورو چې دا الهي برهان څه وو؟ د آیت له فحوی معلومېږي چې دا برهان د یوسف علیه السلام هغه احساس وو چې په دغو الفاظو سره ئې بیان کړ: الله تعالی مې رب او پالونکی دئ، دې غوره مقام ته ئې راورسولم، ظالمان نه ژغورل کېږي؛ همدغه احساس د دې باعث شو چې د ځوانۍ په هغه طوفاني دوره کې د شیطان او نفس له وسوسو خوندي پاته شي. که څه هم ځیني مفسرین په دې اړه نور تعبیرونه لري خو د هیڅ یوه لپاره ئې معقول دلیل نه دئ وړاندې کړی او د آیت له الفاظو سره اړخ نه لګوي.

• قرآن فرمایي چې په دې کار سره یوازې دا نه چې دی له دغې ګناه وژغورل شو بلکې په همدې سره بې حیایي او بدکارې له ده په شا وتمبول شوه!! د قرآن دا وینا په سطحي نظر سره انسان ته عجیبه برېښي، خو په لږ دقت سره پوهېدی شي چې په دې الفاظو کې ډېر ژور او ظریف مطالب پراته دي: څوك چې په لومړي ځل د خپل نفس ناروا غوښتنې او د خپل هوس د هڅونې په وړاندې صبر وکړي، تسلیم نه شي او پښې ئې له ښویېدو وژغورل شي، دغه کار په ده کې د ځان ساتنې هغه ځواك او احساس کمال او قوت ته ورسوي چې په راتلونکې کې د داسې هڅونو په وړاندې ئې پښې ونه ښویېږي، چا چې په لومړۍ مقابلې کې د بدیو په وړاندې ماته ونه خوړله، د بدیو د مقابلې ځواك ئې لازیات پیاوړی او مضبوط شي او چا چې په لومړۍ مقابلې

کې ماته وخوړه، بیا بیا به تر بریدونو لاندي راځي او ماته به خوري، څوك چي د بدکاریو دروازه پرانیزي ترل ئې ورته گران شي او څوك چي په لومړي ځل د هغې له پرانستلو ډډه وکړي د تل لپاره ترې خوندي پاته شي، یوه گناه نورو گناهونو ته لار پرانیزي، یوې گناه ته په منفي ځواب ویلو سره د نورو مخه نیول کېږي، یوسف علیه السلام هغي لومړۍ بلني ته په منفي ځواب ویلو سره ټولو هغو کسانو ته ځواب ورکړی چي د ده د بې لاري کولو طمع ئې کوله، ټول په دې پوهېدلي چي دا هوښیار ښکار په لومي کې نه نښلي، چي د عزیز مصر مېرمن په دې ونه توانېده نور به څنگه هغه ښکار کړی شي او څنگه به د هغه د ښکار کولو جسارت او طمع کوي؟!! هو؛ په دې سره الله تعالی له یوې خوا دی د ځوانۍ په هغو شېبو کې چي احساسات ښه په ځوښ کې وي او هوس ډېر څپانده؛ په گناه کې له پرېوتو وساتو او له بلي خوا ئې بد کارۍ ته بلونکي ځواکونه په فرسخونو له ده لري کړل.

• الله تعالی هغه د مصر د ټولني د زعامت لپاره غوره کړی وو، د مصر د هغه وخت پر ټولني د فحشاء، اخلاقي فساد او جنسي آزادۍ تور وزر غوړېدلی وو، په خاصه توگه د ټولني په لوړ پوړیو او اشرافي کورنیو کې دا بیماري په پراخه پیمانه خوره وه، له دې پلوه ئې حالت داسي وو لکه د نن ورځي د لوېدیځي نړۍ د گنده ټولنو حالت، جنسي بې لاریتوب ته نه یوازي د گناه په سترگه نه کتل کېدل بلکي یو عادي کار گڼل کېدو، د یوسف علیه السلام دا کار د دې باعث شو چي د مصر ټولي هغه مېرمني چي په خپلو نخرو سره ئې د مصر هر واکمن په آسانۍ سره ښکار کاوو له ده ناهیلي شي او د ده د بې لاري کولو طمع ونه کړي، که د عزیز مېرمن ونه توانېده چي یوسف علیه السلام د خپلي ځوانۍ په موسم کې دوکه کړي، هغه وخت چي احساسات څپانده وي او په داسي حالت کې چي دی ئې مریي او خدمتگار وو، نو له هغه وروسته چي د عمر پوخوالي ته ورسېږي او د مصر واکمن شي، نو څنگه به هغوی وکولای شي چي دی ښکار کړي!! د قرآن دا الفاظ څومره دقیق دي: لِنَصۡرِفَ عَنۡهُ ٱلسُّوٓءَ وَٱلۡفَحۡشَآءَ: چي په دې توگه بدکاري او بې حیائي ترې ایساره کړو!!، داسي ئې نه دي ویلي چي هغه مو له بدکارۍ او بې حیایۍ راایسار کړ؛ نه بلکي بدکاري او فحشاء ترې ایساره شوه، یعني

هغه کار ئې وکړ چې نور بدکارې او بې حیائې ورته نژدې نه شي.

د هغو ټولو آزموینو له جملې چې یوسف علیه السلام ورسره مخامخ شوی، خورا لوی او خطرناك ئې همدغه آزمېښت وو، د ورونو مخالفت، کینه او حسادت، په څاه کې لوېدل، مریيتوب ته لېږدېدا او بندي کېدا... دا ټول تر دې آزمېښت ډېر ډېر آسانه ول.

ګورئ چې د قرآن د وینا په لفظ لفظ کې څومره ژوري لارښووني او ظریف ټکي مخې ته راځي، دوه څېرې ئې په ډېره دقیقه او اغېزمنه توګه انځور کړې: یو د خدای بنده او بل د نفس بنده، یو له ګناه تښتي او بل په ګناه پسي زغلي، یو د ځوانۍ په جذباتي موسم کې له ګناه ځان ساتي او بل په داسي حال کې د ګناه هڅه کوي چې ټولي جسمي او جنسي اړتیاوي ئې رفع شوې، دواړه د بندي دروازې په لوري منډې وهي خو یو ئې د پرانستلو او له ګناه د ځان ژغورلو په نیت او بل ئې د دې لپاره چې خلاصه نه شي او ښکار ئې له منګولو ونه وځي، دواړو د دروازې په لوري وځغاستل، یو ئې له ګناه د تېښتي لپاره او بل ئې د سرکښ نفس د اشباع لپاره، یو ئې له خدایه ویري تېښتي ته اړ کړی او بل ئې د زړه له مراد د محرومېدو وېرې، عجیبه صحنه ده، دوه متضادې څېرې په یوه تګلورې کې، د یوه منزل په لور په منډه، مګر له بېلا بېلو موخو سره، څه عجیبه صحنه ننداري ته ایښودل شوې، هغه صحنه چې زړه په لړزا او درزا راولي، مشاعر هڅوي، په انسان کې وجد راپاروي. ډېر داسي کسان مومې چې دوی او هڅې ئې د دې صحنې له څېرو سره ورته دي، ټول په یوه تګلورې کې، د یوه هدف او مقصد په لور تلوار کې، کله نا کله له ورتو شعارونو او ادعاءګانو سره، خو یو ئې د رحمن خدای لپاره او بل ئې د نفس او شیطان په حکم، یو ئې له پاك زړه او په پاك ملتوب سره او بل ئې له لړلو عزائمو او ملوثو لاسونو او ملني سره، یو ئې له الله تعالی د وېرې په ډك زړه سره او بل ئې له خیرن، خچن او ګنده ضمیر سره.

دواړه د خپل محسن په وړاندي ودرېږي، د یوه د ژوند ملګری او د بل آقا، یوه ته دې محسن هر څه ورکړي؛ هم زړه او هم مال او د خپل ژوند

شریکه ئې ګرځولې، خو له بل سره ئې یوازې دومره کړي چې په نوکرۍ ئې نیولی، یو خپل محسن ته صادق او وفادار او بل ورته خائن او بې وفا، مجرم تر بې ګناه مخکې د ځان د برائت ادعاء کوي او بې ګناه تورنوي او د هغه لپاره د سزا غوښتنه کوي!! پاك لمنی بېګناه له دې ډډه کوي چې بل تورن کړي، له ځان دفاع ته اړ کېږي.

وَٱسْتَبَقَا ٱلْبَابَ وَقَدَّتْ قَمِيصَهُۥ مِن دُبُرٍ وَأَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا ٱلْبَابِۚ قَالَتْ مَا جَزَآءُ مَنْ أَرَادَ بِأَهْلِكَ سُوٓءًا إِلَّآ أَن يُسْجَنَ أَوْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٥﴾ یوسف

دواړو د دروازې په لوري وځغاستل، له شا (ئې تر لمنې ونیولو او د) کمیس (لمنه ئې) وروشکوله، (له پرانستلو سره سم ئې) په دروازې کې د ښځې خاوند (په خپلې مخې کې) وموند، (مېرمنې ئې) وویل: د هغه چا چې غوښتل ئې ستا مېرمنې ته سپکاوی ورواړوي؛ سزا به ئې له دې پرته بل څه وي چې بندي شي او یا دردناك عذاب (ئې په برخه شي؟!

همدا مېرمن چې د خپل خاوند په وړاندې یوسف علیه السلام تورنوي او د زندان او دردناك عذاب غوښتنه ورته کوي؛ خو هغه مهال چې له خپلو سیالو او ملګرو مېرمنو سره وخامخ کېږي؛ نو په خپل دې عمل او کړنې نه یوازې اعتراف کوي بلکې دفاع ترې کوي او د تکرار هوډ څرګندوي او وایې: یا به یوسف خبره مني او به زندان ته ځي:

قَالَتْ فَذَٰلِكُنَّ ٱلَّذِى لُمْتُنَّنِى فِيهِۖ وَلَقَدْ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفْسِهِۦ فَٱسْتَعْصَمَۖ وَلَئِن لَّمْ يَفْعَلْ مَآ ءَامُرُهُۥ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونًا مِّنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ رَبِّ ٱلسِّجْنُ أَحَبُّ إِلَىَّ مِمَّا يَدْعُونَنِىٓ إِلَيْهِۖ وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّى كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُن مِّنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٣٣﴾ یوسف

(د عزیز مېرمنې) وویل: دا همغه ځوك دئ چې تاسو پرې ملامتولم، هو؛ ما ترې د زړه مراد وغوښتو او ده ځان لرې وساتو، که هغه څه ونه کړي چې زه ئې پرې ګمارم، نو هرو مرو به زنداني شي او حتماً به خوار او سپك شي، (یوسف) وویل: زما ربه! تر هغه څه چې دوی مې وربلې زندان راته غوره

دئ او که ته د دوی مکرونه رانه وانه ړوې دوی ته به مائل او د جاهلانو له ډلي به شم، نو رب ئې دعاء قبوله کړه او د دوی مکر ئې ترې وګرځاوو، بې شکه چي هغه پوه اورېدونکی دئ.

کله چي د مصري عزيز مېرمني د خپلو سيالو مېرمنو مکرجني خبري واورېدې نو په هغوی پسي ئې استازی ولېږو او د دوی لپاره ئې د ناستي ځای جوړ کړ، بالښتونه ئې ورته کښېښودل او ( د خوراك او مېوو پر دستر خان ئې) هري يوې ته چاړه کښېښوده او (يوسف عليه السلام ته ئې ) وويل: د دوی مخي ته ورووځه! کله چي د هغوی نظر پرې ولګيدو، نو هغه ئې (له خپل ګمان او تصور) ډېر لوړ وموندو (د ټولو سترګي پرې ښخي پاته شوې او د مېوو پرځاي ئي) خپلي ګوتي پرې کړې او وئې ويل: خداي ته پناه! دا خو بشر نه دئ، دا خو له يوې قدرمني فرشتې پرته بل څه نه دئ!! د عزيز مصر مېرمن (له کوم شرم او حياء پرته د خپل راز او د عياشۍ د مجلسونو سيالو او هم مسلکو ملګرو ته) وايي: زه مو په دې ملامتولم چي خپل مريي ته مي زړه ورکړی، دا دئ هغه غلام! هو ما ترې د زړه مراد وغوښتو خو هغه ډډه وکړه، لوړه کوم چي يا به مي مراد پوره کوي او يا به زندان ته درومي، له ذلت او سپکاوي سره به مخامخېږي او له دې ټولو نعمتونو به محرومېږي!!

ګورئ چي قرآن د مصر د اشرافي کورنيو اخلاقي وضعيت څنګه انځور کړی: د عزيز مصر د مېرمني د عياشۍ په محفل کي مېلمنې، آزاد خيالي، د مصر د اشرافو په کورنيو پوري مربوطي بدلمني ښځي چي کله يوسف عليه السلام ويني، خپل حواس بايلي، خپل کنټرول له لاسه ورکوي، ټول د هغه د جمال په ننداره کي ډوبېږي او له ډېري وارخطايۍ د مېوو پر ځای خپلي ګوتي پرې کوي، بې له دې چي د شرم او حياء احساس وکړي د ده د حسن ستاينه کوي، د عزيز مېرمني ته برائت ورکوي او دې ته دا مجال برابرېږي چي په پوره جسارت سره پر خپل کار اعتراف وکړي!!

قرآن په دغو څو لنډو جملو سره د مصر د درباريانو او زعيمانو د کورنيو د بد اخلاقيو وضعيت او د هغوي د شخصي ژوندانه ټول اړخونه، پټي او ښکاره زاويې او ګوښې په ډېر دقت سره انځوروي او دا ښيي چي په غير اسلامي ټولنو کي او د هغو خلکو په منځ کي چي پر خدای او آخرت ايمان نه

لري، زعماء او مشران ئې له اخلاقي لحاظه تر دې حده په فساد کې غرق وي، دومره سپك او ذليل وي چې آزاد جنسي روابط په هغوی کې عادي کار ګڼل کېږي او هيڅوك هم پرې اعتراض نه کوي.

دې ټکي ته مو بايد پام وي چې له دې قصې او له هغو تبصرو او تحليلونو چې د مصر د مشرانو اخلاقي وضعيت په کې څېړل شوی، د قريشو د سردارانو انتباه به څه وه؟ له دې به ئې څه پيغام اخيستو؟ آيا د دې قصې حرف حرف به ئې ځان ته متوجه نه ګاڼو او هغه به ئې په ټولني کې پر خپل عزت، اعتبار او رسوخ يو خطرناك بريد او تېری نه بالو؟ آيا د مکې عامو خلکو به د دې قصې په هينداري کې د خپلو سردارانو او د دوی د کورنيو څېره نه ليدله؟ او هر آيت به ئې د دوی پر بدي وضعي نه تطبيقولو؟

په دې آيتونو کې د يوسف عليه السلام هغه وضعيت چې ورسره مخامخ وو په ډېر زړه راښکونکې، جالبي او ښوونکې بڼې کې انځور شوی، هغه چې تازه ځوانۍ ته رسېدلی ١٨-١٩ کلن ځوان دئ، د صحراء په ويړه غېږه او د هغې په صافه او شفافه هوا کې دنيا ته راغلی او د ځوانۍ پړاو ته رسېدلی، الله تعالی ورته ښکلی صورت ورکړی، د ورونو جفا ئې ليدلې، په څاه کې د لوېدلو بده ورځ ئې ګاللې، د غلامۍ شپې او ورځې ئې ليدلې او اوس د نړۍ په خورا متمدنه سيمه کې (د مصر په پلازمېنه کې) د مصر د عزيز په کور کې ژوند کوي، په هغه کې د بدوي او مدني ژوند آثار او نښې له ورايه ښکارېدې، د هغه راښکونکې څېره د جلال او جمال، ښايست او تقوی، وقار او مهربانۍ، متانت او ساده توب ښکلی امتزاج وو، هر ليدونکی به ئې ځان ته راښکو او د ځان مجذوب به ئې ګرځاوو، د يوسف عليه السلام ذاتي ښېګڼې ورته حادثې او پېښې رامنځته کړې، لومړی ئې د ورونو له کينې سره مخامخ کړ او دا دئ اوس د عزيز په کور کې له هغه لوي آزمېښت سره مخامخ شو، د عزيز ښځه ورپسې شوه، هره شېبه ئې د ګناه په ناولي ډنډ کې د لوېدو وېره وه، په هرګام کې ئې مخي ته دام، له هغه محفل وروسته خو د مصر د سردارانو ټولي مېرمني پرې ميني او د هغه د اغوا لپاره ئې پايڅې رابډوهلې وې، د هغه ستونزه ئې لازياته کړې وه، هري خوا ته چې ګوري، ګناه ورته خپله غولوونکې غېږه پرانستې ده او په هر ګام کې د شر داعي او بلونکی

ورته په کمین کې دئ، په ناز او نخرو ئې ځان ته رابلي، که نور خلك په ګناه پسې منډې وهي، دلته ګناه په ده پسې ځغلي او هره شېبه د دې انتظار کوي چې هغه غافل ومومي او ګوزار پرې وکړي، غافل ئې کړي، اراده ئې کمزورې ووینې، ګناه ته تمایل په کې څپاند کړي او ډېر ژر ئې ښکار کړي، څومره خطرناکه صحنه ده او څومره ارواح سوزوونکې آزموینه؟ هغه په دې سخته مبارزه کې ثابت قدمه او کوټلی دئ، له هر پړاو په بري سره فاتح او سر لوړی تېرېږي، د عزیز د ښځې ګواښونه ئې اورېدلي او لیدلي، چې یوسف باید له دغو دوو یو غوره کړي، یا په ګناه کې سقوط او د دې غوښتنو ته تسلیمېدا، یا زندان ته تګ او د خواریو او ذلتونو منل، خو هغه د دغو دوو بدیلونو د یوه په انتخاب کې ځنډ ونه کړ، بې له ځنډه ئې زندان غوره کړ، په پوره اشتیاق سره هغه بدیل انتخابوي چې پرې وېراوو ئې، په پوره سوز او د زړه له تله خپل رب ته دعاء کوي او وایي: زما پالونکیه خدایه! زندان له هغه څه ډېر راته محبوب دئ چې دوی مې وربلي!! هر مؤمن او مخلص داعي او حقپال مجاهد باید دې ته متوجه وي چې ښایي په خپلې مبارزې کې به له همداسې حالتونو سره مخامخ شي چې یوسف علیه السلام ورسره مخ شوی؛ د ده صداقت، اخلاص، فکري او اخلاقي ځانګړتیاوې او امتیازات به ستونزې ورته زېږوي، د ده وړتیاوې او لوړ شخصیت به د ده کمظرف او بې شخصیت مخالفین او رقیبان؛ حتی ورونه ئې؛ حسادت او دښمنې ته هڅوي؛ باید د یوسف علیه السلام په څېر د صبر او تقوی لمن کلکه ونیسي؛ او ډاډه وي چې وروستۍ بریا د حق او حقپالو ده.

دا برخه له یوې خوا موږ ته دا راښیي چې له دې محفل وروسته د عزیز مصر مېرمن د یوسف علیه السلام په ښکارولو کې یوازې نه وه، د مصر د سردارانو ډېرې مېرمنې ورسره شریکې شوې وې او له بله پلوه یوسف علیه السلام دغه صحنه دومره خطرناکه ګڼلې چې د الله تعالی له لطف او مرحمت پرته ئې په بل څه خلاصون ترې ګران لیدلی، د همدې لپاره ئې خپل رب ته په دې الفاظو دعاء کړې: که د دوی مکر له ما دفع نه کړې، نو د دوی په دام کې به ولوېږم.

د قرآن دا وینا هم خاصه توجه غواړي چې فرمایي: یوسف علیه السلام جنسي بې لاریتوب او شذوذ د جاهلیت له مظاهرو ګڼي، د قرآن له نظره په

هري ټولني کې چې د دې ګنده او ناولي عمل مظاهر راڅرګند شي نو هغه ټولنه له تمدن وروسته پاته او جهل وهلې ټولنه ده. علم او تمدن انسان د قانونمنۍ خوا ته کاږي او ټولي اړيکي د همدغي قانونمنۍ په سيوري کې تنظيموي او ټولنه له دې ژغوري چې قانون تر پښو لاندي شي، له حدودو تېرى وشي، نظم له منځه ولاړ شي، يو د بل پر حق او حد تېرى وکړي، د انسان په ژوند کې تر ټولو مهمه او اساسي قضيه د ده جنسي اړيکي دي چې د ده او د ده د نسل ژوند او دوام ورپوري تړلى دئ. د انسان د ژوند د دغه اساسي اړخ روغوالى، د قانون په چوکاټ کې د هغه تنظيمول او په دې برخه کې د پولو او حدودو د تر پښو لاندي کېدو مخنيوى د علم او تمدن له لومړنيو غوښتنو ده. جهل او د انسان له فطرت او د هغه د جسم د سلامتيا او روغتيا له غوښتنو او د هغه د روح او بدن له صحي اړتياوو بې خبري د دې سبب کېږي چې د انسان د ژوند دغه اړخ ته لازمه اعتناء ونه شي، ضوابط ئې تر پښو لاندي شي او له حدودو ئې تېرى وشي، مګر دا نه ګورئ چې د لوېديځي نړۍ بې مهاره ټولنه له دې جهته څومره رنځ وړي او له څومره خطرناکو ناروغيو سره مخامخ ده؟ د ايډز وژونکې ناروغي د دې ټولني له مظاهرو يوه ده، د لوېديځي نړۍ زړه سوانده پوهان په چيغو چيغو د خطر اعلان کوي چې يا آزادي جنسي اړيکي کنټرول کړئ او يا د هغه د بدو او تباه کوونکو عواقبو انتظار وکړئ.

الله تعالى د يوسف عليه السلام دعاء قبوله کړه، ده زندان تر دې لړلي چاپېريال غوره وګاڼو، زندان ورته خوندي پناځى ښکاره شو، د مصر د واکمنانو له مکرجنو او نخره ګرو ښځو ئې الله تعالى ته پناه يووړه، د دعاءګانو اورېدونکي عليم خداي د ده دعاء اجابت کړه، له هغه چټل او لړلي چاپيريال او په ګناه کې له سقوط او لوېدو ئې وژغورو، الله تعالى د خپل مخلص بنده دعاءګاني اوري او قبلوي ئې، هغه د خپل بنده له هر حالته خبر دئ، په دې پوهېږي چې د څه ډول معاملې وړ او مستحق دئ؟

خلاصه دا چې نه د سليمان عليه السلام ليدنه او خبري د سبإ له ملکې سره د تقوى خلاف وې، نه د مصري عزيز په کور کې د يوسف عليه السلام پاته کېدا؛ او نه د فرعون او د مدين د نېك انسان په کور کې د موسى عليه

السلام کلونه کلونه پاته کېدا؛ نه له لوڅ مخو مېرمنو سره لیدا حرام ده او نه د نامحرمي مېرمني خبري اورېدا. مه ځان تر رسول الله صلی الله علیه و سلم، سلیمان، یوسف او موسی علیهم السلام ډېر متقي ګڼئ او مه تر عائشې رضي الله عنها او نورو صحابه وو د دین په اصولو او رموزو د ډېر پوهېدا ادعاء کوئ؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمنو هره ورځ له ګڼ شمېر نارینه او ښځینه صحابه وو سره لیدل او الله تعالی په قرآن کې د دې یادونه کړې چي نارینه به د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمنو ته ورتلل او له هغوی به ئې څه پوښتني درلودي او یا به ئې څه ترې غوښتل؛ او الله تعالی په همدې ارتباط دوی ته لارښوونه کړې چي له نامحرم نارینه سره به ئې خبري باید څنګه وي؛ فرمایي:

يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ لَسۡتُنَّ كَأَحَدٖ مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِنِ ٱتَّقَيۡتُنَّۚ فَلَا تَخۡضَعۡنَ بِٱلۡقَوۡلِ فَيَطۡمَعَ ٱلَّذِي فِي قَلۡبِهِۦ مَرَضٞ وَقُلۡنَ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا ٣٢ الأحزاب

اې د پیغمبر مېرمنو! تاسو د هیڅ بلي ښځي په څېر نه یئ که تقوی وکړئ، نو په وینا کې پوستوالی مه کوئ داسي چي هغه څوك څه طمع وکړي چي په زړه کې ئې کوم مرض وي؛ او په معروفې غوره وینا سره خبري کوئ.

دا آیت په ډېر صراحت او وضاحت سره ښیي چي د نامحرم سړي او ښځي تر منځ یو له بل سره خبري نه یوازي جائز دي بلکې الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمنو ته د امر په صیغه فرمایي: (وَقُلۡنَ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا: او په معروفې غوره وینا سره خبري کوئ).

پر قرآن سربېره په لسګونو داسي روایات لرو چي مېرمني رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغلې؛ پوښتنه ئې ترې کړې او ځواب ئې ترې اورېدلی. که د مېرمنو غږ اورېدا نارینه وو ته حرام وی نو همداسي به د نامحرمو نارینه وو غږ اورېدا مېرمنو ته حرام وه؛ مېرمنو ته به دا اجازه نه ورکول کېده چي په نامحرم امام پسي په جمع لمونځ وکړي او د هغه جهري قرائت واوري؛ خو تاریخ او د روایاتو ټول کتابونه شهادت ورکوي چي د نبوي مسجد له لومړۍ ورځي بیا د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر رحلت پوري؛ مؤمنو مېرمنو په پنځه وخته لمونځو کې هم او د جمعې او اخترونو په

لمونځونو کي هم جومات ته تللې، په رسول الله صلى الله عليه و سلم پسي ئې لمونځونه کول او د ده خطبې به ئې اورېدلې.

الله تعالى د مېرمنو او نارينه وو لپاره د حلال او حرام يو ډول پولي ټاکلې؛ که د دوی د ځانګړي او خاص جوړښت او فطرت په ارتباط کوم استثنائي حکم ته ضرورت وو نو هغه ئې په صراحت سره بيان کړی؛ خو نه ئې د نامحرمو نارينه وو او مېرمنو غږ اورېدا يو بل ته تحريم کړې او نه ئې يو حلال او بل حرام ګڼلی او د دې معنی دا ده چي د دواړو حکم يو ډول دئ؛ که مېرمنو ته د نارينه وو غږ اورېدل جائز وي نو له شك پرته به نارينه ته د مېرمنو غږ اورېدل جائز وي.

د انس رضي الله عنه مور رسول الله صلى الله عليه و سلم ته مېلمستيا کړې؛ ورغلی، هغې ئې مخې ته د ده د خوښې خواړه ايښي، بيا ئې مور دی له ځان سره د رسول الله صلى الله عليه و سلم خوا ته بېولی او ترې غوښتي ئې چي انس ته دعاء وکړي.

عَنْ أَنَسٍ قَالَ: جَاءَتْ بِي أُمُّ سُلَيْمٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا غُلَامٌ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أُنَيْسٌ ادْعُ لَهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اللَّهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ وَوَلَدَهُ وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ» قَالَ: فَلَقَدْ رَأَيْتُ اثْنَتَيْنِ وَأَنَا أَرْجُو الثَّالِثَةَ.

له انس رضي الله عنه روايت دئ چي (مور ئې) ام سُلَيم؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وروستم په داسي حال کي چي زه لا ماشوم وم؛ وئې ويل: يا رسول الله! دا وړوکی انس دئ؛ دعاء ورته وکړه؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: باري ربه! مال او اولاد ئې ورته زيات کړې او جنت ته ئې داخل کړې؛ انس وايي: دوه مي وليدل (د مال او اولاد زيات والی) او د دريیم (جنت ته داخلېدو) هيله لرم.

د أبو سفيان مېرمن رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ورغلې او ورته ويلي ئې دي: يا رسول الله! أبو سفيان د خپلو اولادونو په اړه بخل کوي؛ آيا کولی شم د ځان او د ده د اولاد د ضرورتونو رفع کولو لپاره له اجازې پرته

څه مصرف کړم؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته ویلي: هو؛ خو دومره چي ستا لپاره کفایت کوي:

عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ هِنْدَاً قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ، وَلَيْسَ لِي إِلَّا مَا يَدْخُلُ بَيْتِي قَالَ: «خُذِي مَا يَكْفِيكِ وَوَلَدَكِ بِالْمَعْرُوفِ» مسند احمد

له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چي هندا وویل: یا رسول الله! ابو سفیان بخیل سړی دئ؛ او له ما سره له هغه پرته بل څه نشته چي کور ته مي راننوځي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: هومره په سمه توګه واخله چي ستا او اولاد لپاره دي کفات کوي.

صحابه رضي الله عنهم؛ نارینه او ښځینه ئې؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمنو ته ورغلي؛ مخصوصاً عائشه رضي الله عنها ته او په مختلفو امورو؛ په ځانګړې توګه د کورنیو مسائلو په اړه ئې پوښتني ترې کړې او ځوابونه او لارښووني ئې ترې اورېدلې؛ عائشه رضي الله عنها د صحابه لپاره هم مفتي وه او هم استاد او معلم. په هري مسئلې کې چي د دوی تر منځ اختلاف راولاړ شوی نو عائشې رضي الله عنها ته به ورتلل او همدلته به ئې د اختلاف حل موندلو.

څوك چي نامحرم ته د مېرمني غږ اورېدا حرام ګڼي؛ هغه باید له قرآن او حدیث د حرمت صریح نص وړاندي کړي او د دې تر څنګ چي د مېرمني غږ اورېدا نارینه ته حرام بولي نو د نارینه غږ اورېدا به مېرمنو ته هم تحریموي!! دواړه به همهاله ثابتوي؛ هم به له قرآن او حدیث سند وړاندي کوي او هم د صحابه وو له دور عملي بېلګي او تاریخي شواهد.

خو نه هیڅ عالم او عاقل انسان دا خبره کړې؛ نه په قرآن، حدیث او د فقهاءو آراءو کې د دې شائبه مومو؛ قرآن په محکمه کې د مېرمنو شهادت او ګواهي معتبر ګڼي او فقهاء د مېرمنو قضاوت هم جائز بولي. نه شهادت په پټ مخ او له خبرو پرته په اشارو کېږي او نه قضاوت.

که نارینه ته د نامحرمي مېرمني غږ اورېدل حرام وي نو مېرمنو ته به د نامحرم نارینه غږ اورېدل هم حرام وو؛ مېرمني به نه په نارینه پسي لمونځ

کولی شو او نه به ئې خطبه اورېدله؛ خو د رسول الله صلی الله علیه و سلم او خلفاء راشدینو په ټول دوران کې به مېرمني جومات ته تللې او په جمع کې به ئې په رسول الله صلی الله علیه و سلم او نورو پسي اقتداء کوله او خطبې به ئې اورېدلې.

مېرمني کولی شي تجارت او پېر پلور وکړي، کولی شي په محکمه کې د شاهد په توګه عمل وکړي، کولی شي قاضي شي؛ دا کارونه نه په پټ مخ کېدی شي او له وينا پرته او په اشارو!!

## جومات ته د مېرمنو تګ

که قرآن ته ځېر شو نو په دې خبري پوهېدا به راته ګرانه نه وي چي الله تعالی مؤمنانو ته په جماعت د لمونځ کولو امر کړی؛ مخکيني امتونه هم پرې مکلف وو او د رسول الله صلی الله علیه و سلم امت هم.

وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾ البقره

او لمونځ قائم کړئ او زکات ورکړئ او له رکوع کوونکو سره رکوع وکړئ.

په (وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ) کې ټول مؤمنان (نارينه او ښځينه) شامل دي.

مريم عليها السلام ته داسي لارښوونه شوې:

يَٰمَرۡيَمُ ٱقۡنُتِي لِرَبِّكِ وَٱسۡجُدِي وَٱرۡكَعِي مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾ آل عمران

اې مريمې! خپل رب لره تسليم اوسه، سجده کوه او له رکوع کوونکو سره يو ځای رکوع کوه.

د مريمې عليها السلام يادونه د دې لپاره راغلې چي وښيي يوه مؤمنه مېرمن بايد څنګه وي، مريم عليها السلام ته د عالم پر ټولو ښځو فضيلت ورکړی شوی، قرآن هغه د مؤمنو مېرمنو لپاره د غوره مثال او بېلګي په توګه معرفي کوي او فرمايي:

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱمۡرَأَتَ فِرۡعَوۡنَ إِذۡ قَالَتۡ رَبِّ ٱبۡنِ لِي عِندَكَ بَيۡتٗا فِي ٱلۡجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِن فِرۡعَوۡنَ وَعَمَلِهِۦ وَنَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ

ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١١﴾ وَمَرۡيَمَ ٱبۡنَتَ عِمۡرَٰنَ ٱلَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا وَصَدَّقَتۡ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ وَكَانَتۡ مِنَ ٱلۡقَٰنِتِينَ ﴿١٢﴾ التحريم

او الله د مؤمنانو لپاره د فرعون د مېرمني مثال بيانوي چي وئې ويل: اې زما ربه! ما ته په خپلي خوا کي په جنت کي يو هستوګنځي جوړ کړه او له فرعون او د ده له عمله مي وژغوره او له دغو ظالمانو مي وژغوره. او د عمران لور مريمي (مثال) چي د خپل فرج ساتنه ئې وکړه، نو موږ له خپلي روح څه په کي پو کړل، د خپل رب ويناوي ئې رښتيني وګڼلې او د الله کتابونه ئې هم، او له غاړه ايښودونکو وه.

د مريم عليها السلام روزنه په مدرسه او جومات کي شوې او هغه ستر شخصيت ترې جوړ شوی چي د انساني تاريخ له پيل تر پای پوري هيڅ ښځه د هغې مقام ته نشي رسېدی، دې ته له نورو لمونځ کوونکو سره د لمونځ کولو سپارښتنه نه ځانګړې او خصوصي سپارښتنه ده او نه منسوخ شوې سپارښتنه. البته ښځو ته دا لارښوونه د نارينه وو له اړوند سپارښتني يوازي دومره توپير لري چي نارينه جومات ته پر تلو مکلف شوي او ښځو ته دا رخصت ورکړی شوی چي کولی شي جومات ته ولاړي نشي او په خپل کور کي لمونځ وکړي، خو که ئې وغوښتل جومات ته ولاړه شي هيڅوك ئې د مخنيوي حق نه لري. دا د رسول الله صلی الله عليه و سلم داسي مکرره سپارښتنه ده چي د حجة الوداع په تاريخي او مهمي خطبې کي ئې هم د نورو سترو سترو او مهمو امورو تر څنګ يو ځل بيا تکرار کړه.

د صحابه وو په دور کي جومات ته د مېرمنو پنځه وخت تګ او د جَمعي په ټولو لمونځونو کي د اخترونو په شمول؛ په انهماك و اهتمام سره د هغوی شرکت ښيي چي دوی ته رسول الله صلی الله عليه و سلم د جَمعي لمانځه د فضيلت او اهميت په اړه داسي څه ويلي وو چي له دې ستر فضيلت محرومېدا ئې نه خوښوله. دا روايت همدغه حقيقت ته اشاره کوي:

عن أُمُّ عَطِيَّةَ انها سَمِعتِ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ " يَخْرُجُ الْعَوَاتِقُ وَذَوَاتُ الْخُدُورِ، أَوِ الْعَوَاتِقُ ذَوَاتُ الْخُدُورِ وَالْحُيَّضُ، وَلْيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ وَدَعْوَةَ

الْمُؤْمِنِينَ، وَيَعْتَزِلُ الْحُيَّضُ الْمُصَلَّى ". قَالَتْ حَفْصَةُ فَقُلْتُ الْحُيَّضُ فَقَالَتْ أَلَيْسَ تَشْهَدُ عَرَفَةَ وَكَذَا وَكَذَا. (بخارى:٣٢٤)

له ام عطيه رضى الله عنها روايت دئ چي وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چي وئې فرمايل: (نوې رسېدلې نجلۍ، پېغلې او حائضې ښځي دي وځي او د خير په كارونو (د عيد لمونځ) او د مسلمانانو په دعاء كي دي گډون كوي، خو حائضې ښځي دي له مصلیٰ گوښه ودرېږي، حفصه وايي: ومي ويل: آيا حائضې ښځي هم؟ دې وويل: آيا حايضې ښځي عرفات او...او... ته نه حاضرېږي؟!

دا روايت په بخاري كي شپږ ځلي نور په دغو شمېرو ٣٥١، ٩٧١، ٩٧٤، ٩٨٠، ٩٨١، ١٦٥٢ راغلی.

لكه چي گورئ په دغو روايتونو كي ويل شوي چي موږ ته به امر كېدو چي د عيد د لمانځه لپاره ووځو، پيغلې، زړې او حتى حائضې به هم وتلې، په خپل ټاكلي ځاى كي به ودرېدې، په لمانځه كي به ئې برخه اخيستله، حائضې به له مصلى بهر په يوه گوښه كي وې او دا صحنه به ئې ليدله، يوې مېرمني له رسول الله صلى الله عليه و سلم پوښتنه كړې وه چي كه څوك جلباب ونه لري او د همدې لپاره د عيد لمانځه ته ونه وځي څه گناه پرې شته؟ ورته وئې فرمايل: د هغې خورلڼې دي خپل جلباب ورواغوندي.

په دې كي ډېر لوى حكمت دئ، له داسي غونډو انسان ډېر زيات متأثره كېږي، د همدې لپاره رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمنو ته امر كاوو چي په دغو غونډو كي برخه واخلي. ډېره عجيبه ده چي د داسي څرگندو نصوصو په شتون كي ځيني خلك جومات ته د ښځو تلل ناروا گڼي!!

## په جهاد كي د مېرمنو شركت

د رسول الله صلى الله عليه و سلم مېرمنو او د صحابه وو مېرمنو په جهاد كي عملاً شركت كړی؛ زخميان او بېماران ئې تداوي كړي؛ اوبه ئې ورته راوړې، پخلی او نور كارونه ئې كړي؛ نه ئې مخونه پټ ول او نه ئې له خبرو

کولو او اوربېدلو ډډه کړي.

حفصه بنت سیرین وایي چې ما ته یوې مېرمنې وویل: زما مېړه له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره په دولسو غزواتو کې برخه اخیستې وه چې په پنځو کې زه هم ورسره وم، موږ به مریضان او زخمیان تداوي کول.

حَدَّثَتْنَا حَفْصَةُ بِنْتُ سِيرِينَ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، (نسيبة بنت كعب) قَالَتْ: «غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ، أَخْلُفُهُمْ فِي رِحَالِهِمْ، وَأَصْنَعُ لَهُمُ الطَّعَامَ، وَأَجْبُرُ عَلَى الْجَرِيحِ وَأُدَاوِي الْمَرِيضَ» المعجم الكبير للطبرانی

حفصه بنت سیرین موږ ته ویلي؛ له ام عطیه (نُسَیبة بنت کعب) ئې اورېدلي چې وئې ویل: ما له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره په اوو غزواتو کې شرکت کړی، د مجاهدینو د تم ځای او د دوی د سامان حفاظت به مې کولو، خواړه به مې ورته تیاروله، د زخمیانو پر ټپونو به مې پټۍ لګولې او بېماران به مې تداوي کول.

۵۷۲۱ - عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ، أَنَّ امْرَأَةً حَدَّثَتْهَا قَالَتْ: غَزَا زَوْجِي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ غَزْوَةً، فَخَرَجْتُ مَعَهُ فِي خَمْسٍ مِنْهُنَّ، فَكُنَّا نَقُومُ عَلَى الْمَرْضَى، وَنُدَاوِي الْكَلْمَى، وَأُمِرْنَا فِي الْعِيدَيْنِ أَنَّ مَنْ لَمْ يَكُنْ لَهَا جِلْبَابٌ أَنْ يُلْبِسَهَا صَاحِبَتُهَا مَعَهَا مِنْ جِلْبَابِهَا قَالَتْ حَفْصَةُ: "فَقَدِمَتْ عَلَيْنَا أُمُّ عَطِيَّةَ الْأَنْصَارِيَّةُ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهَا، فَقَالَتْ: «نَعَمْ بِأَبِي هُوَ وَأُمِّي أَمَرَنَا أَنْ نُخْرِجَ فِي الْعِيدَيْنِ الْعَوَاتِقَ وَذَوَاتِ الْخُدُورِ وَالْحُيَّضِ» قَالَتْ: «فَأَمَّا الْحُيَّضُ فَيَعْتَزِلْنَ الْمُصَلَّى وَيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ وَدَعْوَةَ الْمُسْلِمِينَ». مصنف عَبْدُ الرَّزَّاقِ الصنعانی،

له حفصه بنت سیرین روایت دئ چې یوې مېرمنې ورته وویل: زما مېړه له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره په دولسو غزواتو کې شرکت کړی؛ په

پنځو کې ئې زه هم ورسره تللې یم؛ مورږ به د مریضانو پالنه کوله، زخمیان به مو تداوي کول، د دواړو عیدونو په اړه مورږ ته امر شوی وو چې (په لمانځه کې شرکت وکړو او) که د چا جلباب (لویه سونۍ) نه وي چې وائې غوندي؛ نو ملګرې دې له ځان سره تر سونۍ لاندې کړي؛ حفصه وویل: انصاریه ام عطیه راغله نو دا خبره مې ورته یاده کړه؛ نو وئې ویل: هو؛ پلار او مور مې ترې جار؛ مورږ ته ئې امر کړی وو چې په دواړو اخترونو کې نجلۍ، پېغلې او په حیض کې مېرمنې وباسو؛ خو حائضه مېرمنې دې د لمانځه له ځای ګوښه اوسي او دا د خیر کار او د مسلمانانو دعاء دې وګوري.

عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، قَالَتْ: " أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نُخْرِجَ يَوْمَ الْفِطْرِ الْعَوَاتِقَ، وَذَوَاتِ الْخُدُورِ، وَالْحُيَّضَ فَأَمَّا الْحُيَّضُ فَيَعْتَزِلْنَ الصَّلَاةَ، وَيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ، وَدَعْوَةَ الْمُسْلِمِينَ، فَقَالَتِ امْرَأَةٌ: يَا رَسُولَ اللهِ فَإِذَا كَانَتْ إِحْدَانَا لَيْسَ لَهَا جِلْبَابٌ؟ قَالَ: «تُلْبِسُهَا أُخْتُهَا جِلْبَابَهَا» المعجم الكبير للطبرانی

له ام عطیه (نُسَیبة بنت کعب)؛ روایت دئ چې: مورږ ته رسول الله صلی الله علیه و سلم امر کړی وو چې په واړه اختر کې نجلۍ، پېغلې او په حیض کې مېرمنې وباسو؛ خو په حیض کې مېرمنې به؛ د لمانځه له ځای ګوښه اوسي او دا د خیر کار او د مسلمانانو دعاء دې وګوري. یوې مېرمنې وویل: یا رسول الله! که زمورږ کومه یوه جلباب (لوی ټیکری) ونه لري؟ وئې فرمایل: خپله خورلڼه دې خپل ټیکری پرې واغوندي.

له دغو روایاتو او په لسګونو نورو معلومېږي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم او صحابه وو مېرمنو په جهاد کې شرکت کولو؛ ځینو ئې د زخمیانو درملنه کوله؛ ځینو اوبه راوړلې او ځینو ئې توري وهلې.

٢٥٣١ - عَنْ أَنَسٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُو بِأُمِّ سُلَيْمٍ، وَنِسْوَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ لِيَسْقِينَ الْمَاءَ، وَيُدَاوِينَ الْجَرْحَى» سنن ابی داؤد، أخرجه مسلم، والترمذی واللفظ له، والنسائی فی السنن الکبری

له انس بن مالك روايت دئ چې وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم داسې وو چې کله به غزواتو ته تللو؛ نو ام سليم او ورسره د انصارو ځينې مېرمنې به ئې له ځان سره بېولې؛ د دې لپاره چې خلك خړوب او زخميان تداوي کړي.

يعني چې ام سليم رضي الله عنها د مجاهدو مېرمنو د ټولې مشره وه، او رسول الله صلى الله عليه و سلم به غزواتو ته د تگ په مهال دې ته ويل چې خپل ټولی د تگ لپاره چمتو کړي.

د احد په جگړې کې د نسيبه په نامه يوې مېرمنې؛ چې د ام عماره په نامه يادېده؛ د زخميانو په درملنه لگيا وه؛ کله چې ئې وليدل؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم يوازې پاته شوی او د قريشو تر بريدونو لاندې دئ؛ توره ئې واخيستله او تر پايه ئې له رسول الله صلى الله عليه و سلم دومره دفاع وکړه چې څو ځايه ټپي شوه؛ ويل شوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په همدې اړه فرمايلي: ما چې به کوم لوري ته هم مخ واړولو نو ام عماره به مې ليدله چې له ما ئې دفاع کوله!! همدې ام عماره په ځينو نورو جنگونو کې هم شرکت کړی؛ په يوې جگړې کې ئې لاس هم قطع شوی؛ آيا په پټ مخ داسې کارونه کېدی شي؟!

## علم پر مېرمنو د نارينه وو په څېر فرض دئ

الله تعالی خپل قرآن او خپل پيغمبر د ټولو انسانانو؛ نارينه او ښځينه وو د هدايت او لارښوونې لپاره لېږلی؛ که ئې څه فرض کړي پر ټولو ئې فرض کړي؛ که ئې څه حرام کړي پر دواړو ئې حرام کړي، دواړو ته ئې د حلال او حرام پولې، د ښه او بد معيارونه، وجائب او مسئوليتونه، مکافات او مجازات يو ډول او برابر ټاکلي، که دا ايمان او علم دئ او که لمونځ، روژه، حج، زکات، له حق دفاع، د حق لوري ته بلنه، امر بالمعروف، نهی عن المنکر ده او که له محرماتو؛ دروغ، منافقت، غلا، زنا، شراب ، قمار، سود، ظلم، او نورو گناهونو ځان ساتنه ده؛ د دواړو ثوابونه او عقابونه ئې هم يو برابر او يو شان ټاکلی؛ د نارينه او ښځينه مؤمنانو ټول حقوق، وجائب، مسئوليتونه، کرامت، اجتماعي حيثيت او مقام، مکافات او مجازات ئې يو برابر کړي، هغه چې وايي علم پر نارينه فرض دئ او پر ښځو نه؛ دروغ وايي او د الله تعالی په

دين پسي افتراء کوي؛ څه چي پر رسول الله صلی الله عليه و سلم فرض شوي پر ټولو مؤمنانو؛ نارينه او ښځينه فرض دي؛ که موږ ټول مؤمنان د الله او د هغه د رسول په اطاعت مکلف يو؛ څه چي هغه کړي همغه به کوو؛ له څه چي هغه ډډه کړې له هغه به ډډه کوو؛ په دې کي نارينه او ښځينه مؤمنان يو برابر شامل دي، د رسول الله صلی الله عليه و سلم مېرمن؛ عائشه رضي الله عنها د علم او پوهې له پلوه د صحابه وو لپاره هم استاد او معلمه وه او هم مفتي. هغه مېرمني چي حديثونه ترې روايت شوي، درسي حلقې ئې درلودلې او نورو ته ئې دين ښودلو؛ سلګونو ته رسېږي؛ ابن حجر عسقلاني د داسي ۲۰۰ مېرمنو نومونه ياد کړي.

## علم په ديني او دنيوي وېشل غلط وېش دئ

څوک چي علم په ديني او دنيوي علم وېشي؛ اشتباه کوي او دا ادعاء او خبره ئې له ځانه جوړه کړې؛ نه الله تعالی دا ويلي او نه رسول الله؛ دين زموږ د دنيايي چارو د تنظيم او سمبالولو لپاره راغلی؛ داسي څه نشته چي دين نه وي احتوی کړي، د الله تعالی کتاب زموږ د ټول ژوند لارښود دئ؛ د دنيايي ژوند هيڅ څه ترې پاته نه دي، د قرآن يوازي ۵۰۰ آيتونه د احکامو په اړه دي او د دې احکامو ډېره برخه هم د دنيايي چارو په اړه دي، څه باندي ۶۰۰۰ ئې د نورو مسائلو په اړه دي؛ لکه د الله تعالی معرفي، د عالم معرفي، د انسان معرفي، د آسمانونو، زمکي، ورېځو، باران، بحرونو، سمندرونو، غرونو، د عالم پيدايښت، د انسان پيدايښت، د حيواناتو پيدايښت، تاريخ، د پيغمبرانو د دعوت او مبارزې قصې، د قومونو د عروج او زوال عوامل، د حق او باطل تر منځ د اوږدې او تلپاتي مبارزې څرنګوالی، فردي او اجتماعي حقوق او مسئوليتونه، قيامت، آخرت، الهي محاسبه، جنت او دوزخ، او... او ...؛ الله تعالی آدم عليه السلام ته پر فرشتو د هغه علم له امله فضيلت ورکړ چي د اشياءو په پېژندو او معرفي کي تر فرشتو وړاندي شو؛ د صرف، نحو، منطق، فلسفه او څو فقهي احکامو آزموينه ئې نه ده ترې اخيستې. څوک چي د اشياءو د پېژندو وړتيا او علم نه لري د زمکي د خلافت وړ نه دئ؛ د آدم عليه السلام اولاد بايد د علم په ډګر کي د خپل جد په څېر تر فرشتو وړاندي وي؛ که نه نو د خلافت مستحق نه دي.

رسول الله صلی الله علیه و سلم مدینې ته له هجرت سره سم؛ لومړی مهم کار ئې د داسي جومات بنسټ اېښودل وو چي هره ورځ به پنځه ځلي؛ نارینه او ښځینه په کې راغونډېدل او د رسول الله صلی الله علیه و سلم په امامت به ئې لمونځ کولو؛ په دې لمونځونو کې به ئې درې ځلي سحر، ماښام او ماخستن؛ د ورځي پیل او پای کې؛ په جهر او جګ غږ او د رسول الله صلی الله علیه و سلم له خولې د قرآن تلاوت اورېدو؛ هره جمعه به ئې د هغه مهمه خطبه اورېدله؛ دا جومات د صحابه وو د روزنې مرکز او مدرسه وه؛ په همدې جومات کې د داسي ستر، سرلوړي او فاتح امت بنسټ کېښودل شو چي د تاریخ ستره او پراخه امپراطوري ئې رامنځته کړه؛ تر نیمي پېړۍ کمي مودې کې ئې پولې له مراکش او هسپانیا تر اندونیزیا او مالیزیا ورسېدې، دا د تاریخ نومیالي فاتحین په دغه جومات کې روزل شوي؛ د علم، دعوت، قیادت، سیادت، اجتماعي چارو کې پوهه او بصیرت، د ژوند د چارو په مدیریت کې لازم درایت، او نورو ډګرونو کې نومیالي شخصیتونه؛ نارینه او ښځینه؛ په دې نبوي مدرسه کې روزل شوي. آیا عجیبه نه ده چي نن ځوک پاڅي او د همدې دین داسي تعبیر وړاندي کوي چي له مخي ئې د مېرمنو په وړاندي د جومات او مدرسې دړه تړل کېږي او همدې ته د (تقوی) او د دین په رموزو د پوهېدا نوم ورکوي! ولې ئې چي د نبوي جومات

اکثریت محدثین او مفسرین په دې متفق دي چي د قرآن لومړني آیتونه چي پر رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ د حراء په سمڅي کې نازل شول او په همدې سره د وحي د راتلو لړۍ او د ده رسالت پیل شو؛ دا پنځه آیتونه دي چي اساسي پیغام ئې قرائت، علم، قلم او د انسان د پیدایښت ځرنګوالی دئ:

ٱقْرَأْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلَّذِى خَلَقَ ﴿١﴾ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِنْ عَلَقٍ ﴿٢﴾ ٱقْرَأْ وَرَبُّكَ ٱلْأَكْرَمُ ﴿٣﴾ ٱلَّذِى عَلَّمَ بِٱلْقَلَمِ ﴿٤﴾ عَلَّمَ ٱلْإِنسَٰنَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴿٥﴾ العلق

١- ولوله په نوم د خپل رب، هغه چي پیدا ئې کړ. ٢- انسان ئې له ځوړندو پیدا کړ. ٣- ولوله چي رب دي ډېر کریم دئ. ٤- آ چي په قلم ئې پوهه ورکړه. ٥- انسان ته ئې ورزده کړل څه چي نه پرې پوهېدو.

په لومړي آيت کې څو مهمي لارښووني زموږ پام ځان ته جلبوي:

- د الله تعالی له لوري وحي د اقرأ (ولوله) په امر پيل شوې او دا ښيي چي د اسلام له نظره د (لوست) مقام او منزلت څومره لوړ دئ او څومره اهميت لري، دا د الله تعالی لومړی امر دئ، په دغه امر سره ئې د وحي لړل پيل کړي.
- لوستل د خپل رب په نامه او د هغه په مرسته پيل کړه، هغه رب چي هر څه ئې پيدا کړي، ته او دا هر څه يوازي يو رب لرئ، چي هم ستا رب دئ او هم د نورو ټولو مخلوقاتو رب.
- د (اقرأ) له امر معلومېږي چي د وحي فرشتې بايد دا لومړی وحي په ليکلې بڼې کې د پيغمبر عليه السلام مخي ته ايښې وي. په دې اړه لاندي روايت پوره وضاحت کوي:

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ أَنَّهَا قَالَتْ أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم مِنَ الْوَحْيِ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ فِي النَّوْمِ، فَكَانَ لاَ يَرَى رُؤْيَا إِلاَّ جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ، ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الْخَلاَءُ، وَكَانَ يَخْلُو بِغَارِ حِرَاءٍ فَيَتَحَنَّثُ فِيهِ- وَهُوَ التَّعَبُّدُ- اللَّيَالِيَ ذَوَاتِ الْعَدَدِ قَبْلَ أَنْ يَنْزِعَ إِلَى أَهْلِهِ، وَيَتَزَوَّدُ لِذَلِكَ، ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى خَدِيجَةَ، فَيَتَزَوَّدُ لِمِثْلِهَا، حَتَّى جَاءَهُ الْحَقُّ وَهُوَ فِي غَارِ حِرَاءٍ، فَجَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ اقْرَأْ. قَالَ « مَا أَنَا بِقَارِئٍ ». قَالَ «فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ اقْرَأْ. قُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ. فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ اقْرَأْ. فَقُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ. فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ، ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ ( اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِى خَلَقَ * خَلَقَ الإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ * اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ ) ». رواه البخارى

عروة بن زبير له عائشې رضي الله عنها روايت کوي چي پيغمبر عليه السلام ته تر وحي د مخه رښتينو او صادقو خوبونو مخه کړه، هيڅ خوب به ئې نه ليد مگر دا چي د سباوون د رڼا په څېر به روښانه ختلو، بيا يوازيتوب ته

متمایل شو، څو شپې ورځې به ئې د حراء په غار کې په عبادت تېرولې، څه خوراك څښاك به ئې له ځان سره واخیست، غره ته به ولاړ، څه وخت به ئې هلته یوازې تېر کړ، بیا به د خدیجې رضي الله عنها خوا ته راغی، ورته توښه به ئې له ځان سره واخیسته او غره ته به ولاړ، په همدغو شپو ورځو کې ناڅاپي یوه فرشته ورته راغله او ورته وئې ویل: ولوله! رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي چې ما ورته وویل: زه لوستونکی نه یم، فرشتې په غېږ کې دومره کلك ونیولم چې حوصله مې سر ته ورسېده، نو پرې ئې ښودم او راته وئې ویل: ولوله! ما ورته وویل زه په لوستلو نه پوهېږم، هغې بیا په غېږ کې ټینګ کړم، دومره چې طاقت مې سلب شو، نو پرې ئې ښودم او راته وئې ویل ولوله! ما بیا ورته وویل زه لوستونکی نه یم، هغې بیا ټینګ ونیولم، هومره چې بې طاقته شوم، نو پرې ئې ښودم او راته وئې ویل: ولوله په نوم د خپل رب، هغه چې پیدا ئې کړ. انسان ئې له ځوړندو پیدا کړ، ولوله چې رب دې ډېر کریم دئ، هغه چې په قلم ئې ښودنه وکړه، انسان ته ئې هغه څه ورزده کړل چې نه پرې پوهېدو.

د دې حدیث له الفاظو معلومېږي چې حتماً کومه لیکنه د پیغمبر علیه السلام په مخې کې نیول شوې او ترې غوښتل شوي چې وئې لولي، که داسې نه وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به نه ورته ویل چې زه لوستونکی نه یم، د دې په ځای به ئې ورته ویل چې څه ووایم؟

په دې اړه چې (انسان له ځوړندو پیدا شوی) څو خبرې د توجه وړ دي:

الف: علق د علقة جمع ده، اصلي معنی ئې ځوړند ده او دلته له دې کبله د جمع په صیغه راغلې چې له انسان مراد ټول انسانان دي، یعني ټول انسانان ئې له ځوړندو شیانو پیدا کړي.

ب: قرآن د ټولو ژوو پیدایښت له اوبو او د انسان د پیدایښت لومړۍ ماده خاوره او د لومړي او دوهم پیدایښت او جوړښت پیل ئې له نطفې ګڼلی، باید وګورو چې ولې په دې آیت کې د انسان د پیدایښت پیل له (علقه) ښودل شوی؟ دوه توجیه مومو:

١- ادبي ترکیب د دې تقاضی کوي چې د مخکیني آیت په پای کې د (خَلَق) صیغې ته ورته صیغه د دې آیت په پای کې راغلې وی، د دې لپاره چې د

دواړو فواصل او وزن يو شانته شوی وی.

٢- دلته د انسان د پيدايښت دوه ډېر متفاوت حالتونه (كامل انسان) او (يو ځوړند توكی) يو د بل څنگ كې ايښودل شوي، چې په دې سره خپل مخاطب ته وواېي: لكه څنگه چې الله تعالى انسان له يوه ځوړند توكي پيدا كړي، وده وركړي او بشپړ انسان ترې جوړ كړي، همداسي په (وحي)، (قرائت) او (تعليم بالقلم) سره انسان د پوهي او علم داسي پوړۍ ته رسوي چې په ډېرو اسرارو پوه شي، په هغه څه چې تر دې وړاندي او له دې لاري پرته نه شو پرې پوهېدی.

ج: انسان ډېر وروسته او په تېرې پېړۍ كې په دې پوه شو چې د مور په رحم كې او د انسان د جوړښت په پيل كې د ماشوم لومړۍ جوړه شوې نطفه د رحم په جدار پوري راځوړنده وي چې وروسته بيا د ژوول شوې غوښي ټوټې ته ورته بڼه غوره كړي. دا آيت هم د قرآن يو داسي علمي اعجاز زموږ مخي ته ږدي چې ساينس د ډېرو پرمختللو وسائلو په مرسته څوارلس پېړۍ وروسته پرې پوه شو.

• ولوله چې ستا رب ډېر كريم دئ، دا د الله تعالى د كرم او پېرزويني څرگنده نښه ده چې انسان د يوه (ځوړند توكي) له حالت هغه ځای ته رسوي چې (كامل انسان) ترې جوړ شي، ليك او لوست ورښيي، انسان يوازينی مخلوق دئ چې كولی شي د (لوستلو) له لاري د بل په خبره پوه شي او د (ليكلو) له لاري خپل معلومات خوندي كړي او خپل پيغام نورو ته ورسوي او په دې سره د خپل سلف له قيمتي تجاربو گټه واخلي، د معلوماتو د ضائع كېدو مخه ونيسي او راتلونكي نسل ته ئې انتقال كړي، له انسان پرته دا وړتيا او امتياز په هيڅ ذيروح كې نه گورو، الله تعالى په انسان كې دا استعداد او وړتيا ايښې ده چې له (قلم) د تعليم او تعلم وسيله جوړه كړي، له دې اړخه ئې انسان ته پر ټولو نورو مخلوقاتو فضيلت وركړی. له دې مبارك آيت څو اساسي مطالب استنباطولی شو:

الف: په (قرائت)، (علم) او (قلم) سره هم انسان ته پر نورو مخلوقاتو فضيلت وركړی شوی او هم په خپله د انسانانو تر منځ يوه ته پر بل فضيلت.

ب: (قلم) د زده كړي او پوهي ډېره اغېزمنه وسيله ده، په دې سره انسان

د دې مجال تر لاسه کوي چې په ډېرو هغو حقائقو پوه شي چې له بلې لارې پرې پوهېدل ورته ممکن نه وو

ج: لکه څنګه چې دلته د ((الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ) الفاظ په دې معنی دي چې انسان ته له قلم د استفادې استعداد ورکړی شوی، الله تعالی د هغه په فطرت کې دا مَلَکه ایښې چې قلم جوړ کړي، خپل ما فِي الضمیر ولیکي او نورو ته ئې انتقال کړي او له دې د زده کړي او تعلیم او تعلم وسیله جوړه کړي، همدا راز په نورو آیتونو کې دې ته ورته راغلي الفاظ لکه (عَلَّمَهُ الْبَيَانَ) او ((وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاءَ كُلَّهَا)؛ هم هغو استعدادونو ته اشاره کوي چې انسان ته ورکړی شوي، انسان ته د (بیان) ملکه ورکړی شوې، کولی شي خپل (مافِي الضمیر) اظهار کړي او له کلماتو او الفاظو په استفادې سره خپل قصد، هدف، نظر او پیغام تشریح او توضیح کړي، هغه ته د هر څه د پېژندو او په هر څه د یوه مناسب نوم ایښودو استعداد ورکړی شوی، هغه کولی شي خپله پوهه د نومونو په قالب کې ترتیب، تنظیم او حفظ کړي او نورو ته ئې انتقال کړي. دا د انسان یوه ځانګړتیا ده، دا صفت په نورو مخلوقاتو کې نشته، په دې سره الله تعالی انسان ته پر ټولو مخلوقاتو فضیلت او شرف ورکړی. هغه محترم مفسرین چې د (علم آدم الاسماء کلها) آیه په بلې بڼې تفسیروي او وایي چې اسماء توقیفي دي، د الله له لوري وضع شوي او آدم علیه السلام ته ښودل شوي، سخته اشتباه ئې کړې، تفسیر ئې هم تفسیر بالرأی دئ نه تفسیر قرآن بالقرآن او هم د واقع خلاف، عملاً ګورو چې ټول نومونه انسان په خپله وضع کوي، د هر نوي توکي لپاره نوی نوم غوره کوي، که د دوی دا تعبیر ومنل شي د (علم بالقلم) او (علمه البیان) آیتونه به د دوی د اسلوب له مخې څنګه تفسیروو؟ که خبره داسي وی لکه دوی چې وایي، نو باید د ټولو شیانو نومونه، په ټولو ژبو کې سره ورته وی، خو عملاً ګورو چې خبره د دې عکس ده.

- دلته (عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ) راغلي؛ خطاب عام دئ او په دې کې د انسانانو نارینه او ښځینه دواړه شامل دي؛ قرآن دواړو ته راغلی، پر دواړو یو برابر فرض ده چې قرآن زده کړي، ایمان پرې راوړي او عمل پرې وکړي؛ د نارینه او ښځینه ټول فرائض همداسي دي.

سره له دې چې قرآن (قلم)، (ليك) او (لوست) ته دومره اهميت ورکړی او سره له دې چې پيغمبر عليه السلام ته د وحي په پيل کې لومړی لارښوونه د قرائت او قلم په اړه ده او ورته ويل شوي چې قلم د تعليم او تعلم ستره وسيله ده، خو متأسفانه زموږ په زړو ديني مدرسو کې (قلم) هېر شوی، له دغو مدرسو چې څوك فارغېږي په ليكلو نه پوهېږي!! نن د قلم ځای کمپيوټر نيولی، هغه كار چې موږ ئې په قلم سره په څو ورځو مسلسل ليکلو سره نه شو کولی؛ د کمپيوټر په مرسته ئې په څو ساعتونو کې کولی شو؛ ښايي تفاوت به ئې دومره وي لكه د اوښ سفر او د موټر او جهاز سفر. نن چې څوك په کمپيوټر نه پوهېږي؛ داسي دئ لكه هغه چې پرون د قلم له كارولو عاجز وو. د زړو مدرسو په نصاب کې د قلم تر څنګ، رياضي، فزيك، كيميا، تاريخ، جغرافيه، او نور ضروري علوم؛ حتی د پښتو او فارسي ژبو تدريس هم نه وو؛ په داسي حال کې چې دا د ژوند ضروري علوم دي؛ له دې پرته به انسان په هرڅه کې بل ته محتاج وي؛ همداسي لكه نن چې زموږ جامه، خوراك، دواء، ساعت، قلم، عينكې، ستن، تار، موټر، سيكل، کمپيوټر، مبايل... تر ۹۰ سلنه زيات شيان مو د نورو په لاس جوړ شوي. امام احمد حنبل رحمه الله وايي: خلکو ته د دين تر څنګ د کسب او كار علم او هنر هم وروښيئ که نه نو دوی به بيا د روزي لپاره دين پلوري؛ همداسي شوي؛ ډېرو له دين دکان جوړ کړی؛ پر دم، تعويذ، د مړي پر قبر وعظ، په فاتحه کې د قرآن تلاوت، د ماشوم غوږ کې اذان او دې ته ورته كارونو کې له خلكو شكرانې، سقاط، صدقات او خيرات اخلي او ځيني ئې فتوی ګاني پلوي!!

- د پنځم آيت څو مطالب تر لاسه کولی شو:

الف: د انسان پر مخ چې د معرفت هره دروازه پرانيستل كېږي او په هري نوې خبري چې د پوهېدو توفيق تر لاسه كوي، د ده هر( كشف) او په هر سر او راز پوهېدل ئې په حقيقت کې د الله تعالی يوه پېرزوينه ده، دا دروازه د ده له لوري ورته پرانيستل كېږي، په دغو حقائقو د پوهېدو توفيق دی ورکوي او د دغو اسرارو د کشف توان دی ورکوي، لكه څنګه چې قرآن دا مطلب په بل ځای کې په دې الفاظو بيانوي:

وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ.... ﴿٢٥٥﴾ البقرة

او دوی د ده له علم یوازي په دومره څه احاطه کولی شي چي دی ئې وغواړي.

هر چا ته علم او پوهه دی ورکوي، سترګي، زړه، غوږونه، دماغ او اعصاب ئې د ده په اراده ورته کار کوي، لار ورته ښيي او د ښه او بد، مفید او مضر په پېژندلو کې ئې مرسته کوي، په هر څه چي انسان علماً احاطه کوي او په کوم څه د پوهېدو توفیق تر لاسه کوي نو دا ټول د الله په خوښه او اذن او په همغه حد کې وي چي الله ئې وغواړي.

ب: د دې عالم یوه برخه داسي ده چي انسان ئې له وحي پرته له بلې هیڅ لاري نه شي پېژندی، الله تعالی د وحي په لېږلو سره انسان ته په هغه څه د پوهېدو امکان هم میسر کړ چي له دې پرته ئې درك کول او پېژندل ورته ممکن نه وو.

ج: په اصل کې انسان (بې علمه) دئ، په تدریج سره زده کړه کوي او علم تر لاسه کوي. د انسان د پوهي او علم تفاوت د نورو ژوو له شعور او پوهي سره په دې کې دئ چي نور ژوي ثابت او محدود علم لري، له مخکي د دوی په خټه او دماغ کې ایښودل شوی، په فطري او الهامي توګه ورته تفهیم شوې چي څنګه ژوند وکړي، کوم کوم کارونه وکړي، څه وخوري او د څه له خوراکه ډډه وکړي، څنګه مفید او مضر سره بېل کړي، خو انسان کولی شي چي تر هغه څه زیات هم زده کړي چي په فطري او الهامي توګه ورښودل شوي او په ضمیر کې ئې ایښودل شوي. دی کولی شي زده کړه وکړي، د خپلي پوهي سطح لوړه کړي، اسرار کشف کړي او پټ حقائق ځان ته معلوم کړي، په (لوستلو)، (لیکلو) او له (قلم) په استفادې سره د خپلي حافظې ظرفیت لوړ او پراخ کړي او په هغه څه هم پوه شي چي نور پرې پوهېدلي او دی ترې غافل وو او له پېژندو ئې عاجز. که انسان ته له (قلم) د استفادې استعداد نه وی ورکړی شوی او په لیك او لوست نه پوهېدی نو د هر چا علم او پوهه به له ده سره پاته کېده، نه به په دې توانېدو چي د نورو له پوهي او تجربو ګټه واخلي او نه به ئې خپل تجارب او علم نورو ته انتقالولی شو.

## ښځو ته په سپکه سترګه کتل

د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر بعثت وړاندې هم د یهودانو په ټولنې کې ښځه نجس ګڼل کېده او هم د عربانو په ټولنې کې په ټیټه سترګه ورته کتل کېدل، په کورنۍ کې ئې پیدایښت د پېغور او ننګ باعث وو، ژوندۍ ئې ښخولې، جومات او معبد ته ئې تګ او ننوتل ممنوع وو، وینځه وه، پېر او پلور ئې عام وو؛ اسلام راغی، مېرمنو ته ئې هومره حقوق او امتیازات ورکړل چې د تاریخ په هیڅ مذهب او مسلك کې ئې بېلګه او مثال نه شو موندلی، د نکاح صحت او مشروعیت ئې د دې په خوښې او رضایت پورې مشروط کړ، د مَهْر فوق العاده امتیاز ئې ورکړ، اندازه ئې هم د دې خوښې او موافقې ته پرېښوده، د جومات دروازه ئې د هغوی په وړاندې پرانیستله، د نارینه او ښځینه مؤمنانو ټول حقوق، وجائب، مسئولیتونه، کرامت، اجتماعي حیثیت او مقام، مکافات او مجازات ئې یو برابر کړل، د حلال او حرام ټولې پولې ئې ورته یو شان وټاکلې. نن چې د مېرمنو د حقوقو او په ټولنې کې د دوی د مقام او حیثیت په اړه غلطې فتوی ګانې اورو منشأ ئې یا له اسلامي لارښوونو جهل او بې خبري ده، یا شخصي سلیقه او مزاج، یا ښځو ته په ټیټه او سپکه سترګه کتل او یا غرور او کبر او له ښځو وینځې جوړول.

## د تصوف تر نامه لاندې شرك او خرافات

د بشري تاریخ په هر پړاو کې چې الله تعالی کوم رسول او د هغه په لاس کوم لارښود کتاب لېږلی؛ انسانانو ته د ټولو الهي کتابونو او انبیاءو د بلنې او دعوت ګډه او محوري موضوع او د رسالت خلاصه دا وه چې یوازې د الله تعالی عبادت وکړي، بل هیڅ څه او هیڅوك په دې عبادت کې ورسره شریك نه کړي، او د انسانانو ځینې ځینې نور د رب په توګه ونه منځي؛ قرآن په همدې اړه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسې فرمایي:

قُلْ يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا

نُشۡرِكَ بِهِۦ شَيۡـٔٗا وَلَا يَتَّخِذَ بَعۡضُنَا بَعۡضًا أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُولُواْ ٱشۡهَدُواْ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ٦٤ آل عمران

ووایه: اې اهل کتاب! هغه خبري ته راشئ چي زموږ او ستاسو تر منځ یو شانته ده او هغه دا چي: له الله پرته به (د بل چا) عبادت نه کوو او هیڅ څه به ورسره نه شریکوو او زموږ ځیني به ځیني نور له الله پرته ارباب نه نیسي، خو که ئې ډډه وکړه نو ورته ووایئ: شاهد اوسئ چي موږ منقاد او مسلمان یو.

رسول الله صلی الله علیه و سلم ته امر شوی چي اهل کتاب ته دا بلنه ورکړه: هغي خبري ته راشئ چي ستاسو اصلي دین ئې هم غوښتنه کوي او زموږ دین هم؛ او هغه دا چي:

- یوازي د یوه الله عبادت به کوو، له ده پرته به نه د بل چا عبادت کوو او نه به بل ته دعاء.
- هیڅ څه به له الله سره نه شریکوو.
- ځیني به د ځینو نورو لپاره (رب) نه وي، دا غلطي به نه کوو چي د ځان په څېر یوه انسان ته د رب مقام او منزلت ورکړو، دا ظلم به نه کوو چي ځیني د ځینو نورو لپاره له ځان رب جوړ کړي.

له دې آیت څو بنیادي خبري معلومېږي:

- د دین اصلي او بنیادي خبري همدا درې خبري دي. ټول الهي دینونه همدا خبري کوي. په کوم مذهب او دین کي چي د دغو دریو خبرو خلاف څه ومومندل شي هغه محرف مذهب او جعلي دین دئ.
- کله انسان هومره جاهل او ذلیل شي چي د ځان په څېر انسان ته د رب مقام ورکړي!! د هغه بنده شي، هغه ورته حلال او حرام ټاکي او دی ئې مني!! هغه له الله تعالی سره په الوهیت او ربوبیت کي شریك کړي، هغه ته دعاء کوي او له هغه غیبي مرسته غواړي.

قرآن د اهل کتاب د مذهبي مشرانو په اړه فرمایي:

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبٗا مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡجِبۡتِ وَٱلطَّٰغُوتِ

وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ هَٰٓؤُلَآءِ أَهْدَىٰ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ سَبِيلًا ﴿٥١﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَمَن يَلْعَنِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ نَصِيرًا ﴿٥٢﴾ النساء

[٥١]- آيا هغو ته دي پام ونه کړ چي د کتاب څه برخه ورکړی شوې، خو په جبت او طاغوت ايمان راوړي او د کافرانو په اړه وايي: دوی تر مؤمنانو ډېر په سمه لار دي. [٥٢]- دوی همغه دي چي الله رټلي دي او الله چي څوك ورټي نو هيڅ ملاتړی به ورته ونه مومې.

په مخکيني آيت کي د ټولو يهودانو ذکر وو خو دلته د دوی علماءو ته اشاره شوې، کله چي د اهل کتاب د علماءو په اړه بحث کېږي نو قرآن ئې په دغه صيغه يادوي، د دې وړ ئې نه گڼي چي د عالم په نامه ئې ياد کړي؛ بلکي وايي: هغه چي له کتابه ئې نيمگړی علم په برخه شوی، علم ئې ناقص دئ، هسي ئې د کتاب څو خبري زده کړې دي. دلته د دوی درې ځانگړتياوي په گوته کوي:

- په اوهامو، خرافاتو، فال، کوډو، منتر، جادو او دې ته ورته شيانو باور لري.
- د طاغوت په خدمت کي دي، د هر ظالم، عاصي، سرکښ او مفسد واکمن ملاتړ کوي، په خوله ئې د الله نوم وي خو په زړه کي ئې له طاغوت وېره او طمع، دين د طاغوت په پښو کي ذبح کوي او د طاغوت په گټه ئې کاروي.
- تر مؤمنانو کافران غوره گڼي، تبليغات ئې د هغوی په گټه وي، خلکو ته وايي چي د کافرانو مسلك او مذهب تر مؤمنانو غوره دئ.

دا داسي وگڼئ لکه د روسانو او امريکايانو په لاس د افغانستان د اشغال په وخت کي چي ځيني دين پلورونکي ملايان له دوی سره يو ځای شول او د واقعي علماءو او مجاهدينو په ضد به ئې تبليغات کول، د امريکايانو کرکجنه او په وينو لړلې ديموکراسي به ئې تأييدوله او د مجاهدينو په اړه به ئې ويل چي دوی متعصب او افراطي دي، د هېواد د آزادۍ او بيا ودانولو دښمنان دي.

دا خلك او په هر چا کې چې دا صفات وي هغوی د الله تعالی د لعنت وړ دي، د الله له خوا رټل شوي؛ نه په دنيا کې مرستندوی موندلی شي او نه په آخرت کې. دوی خو د کافرانو د مرستو د تر لاسه کولو لپاره دا طريقه غوره کړې وه، د دوی په ګټه او د مسلمانانو په ضد به ئې تبليغات کول، تاسو به وګورئ چې د دوی هيلي به تر سره نه شي، دا کافران به ئې مرسته ونکړی شي.

رسول الله صلی الله علیه و سلم چې کله کوم والي او داعي کومې سيمې ته د دعوت لپاره لېږلی نو هغه ته ئې داسې لارښووني کړې چې دا روايت ئې زموږ مخې ته ږدي:

٧٠٢- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّه عَنْهُمَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُعَاذًا رضی الله عنه إِلَى الْيَمَنِ، فَقَالَ: «ادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدِ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً فِي أَمْوَالِهِمْ، تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ». (بخاری: ١٣٩٥)

٧٠٢- له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې نبي صلی الله عليه و سلم معاذ رضي الله عنه يمن ته ولېږو او وئې فرمايل: (هغوی (يمنيان) دې ګواهي ورکولو ته راوبله چې له الله پرته بل معبود نشته؛ او دا چې زه د الله رسول يم، که هغوی دا ومنله نو خبر ئې کړه چې الله تعالی پر دوی په هرې شپې او ورځې کې پنځه لمونځونه فرض کړي، که دا ئې ومنله نو خبر ئې کړه چې الله تعالی په خپلو مالونو کې داسې صدقه (زکات) پرې فرض کړی چې د دوی له شتمنو اخيستل کېږي او فقيرانو ته ئې ورکول کېږي.

١٤٩٦ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ حِينَ بَعَثَهُ إِلَى اليَمَنِ: «إِنَّكَ سَتَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ، فَإِذَا جِئْتَهُمْ، فَادْعُهُمْ إِلَى أَنْ يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ،

فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ، فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ، فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ»

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضى الله عنهما - قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ حِينَ بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ « إِنَّكَ سَتَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ، فَإِذَا جِئْتَهُمْ فَادْعُهُمْ إِلَى أَنْ يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ، وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ، فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ »

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي نبي صلى الله عليه و سلم معاذ رضي الله عنه ته هغه مهال چي دی ئې یمن ته ولېږو وفرمایل: ته داسي یو قوم ته درومې چي اهل کتاب دي؛ نو کله چي ورغلې هغوی دې ته وبله چي گواهي ورکړي له الله پرته بل معبود نشته؛ او دا چي محمد د الله رسول دئ، که هغوی دا درسره ومنله نو خبر ئې کړه چي الله تعالی پر دوی په هري شپې او ورځي کي پنځه لمونځونه فرض کړي، که دا ئې درسره ومنله نو پوه ئې کړه چي الله تعالی په خپلو مالونو کې داسي صدقه (زکات) پرې فرض کړی چي د دوی له شتمنو اخیستل کېږي او فقیرانو ته ئې ورکول کېږي؛ که دا ئې درسره ومنله؛ نو د دوی له غوره مالونو ډډه کوه، د مظلوم له دعاء ځان ساته، یقیناً چي د ده او الله تر منځ هیڅ حجاب نشته.

دا حدیث موږ ته ښیي چي په اسلامي نظام کې؛ د ولس په وړاندي؛ د

حکومت او چارواکو مهم مسئولیتونه او دندي کومي دي او د اهمیت ترتیب او تسلسل ئې څنګه دئ؛ د دې حدیث د لارښونو په رڼا کي په څرګنده توګه ګورو چي د حکومت او چارواکو مسئولیتونه په دې توګه دي:

- توحید ته د خلکو بلل؛ په دې ئې پوهول چي له الله پرته بل معبود نشته؛ او دا چي محمد د الله رسول دئ.
- له دې وروسته لومړی ستر او مهم کار چي حکومت باید تر ټولو زیات او په لومړي سر کي ورته اهتمام ولري؛ د لمونځ اقامه او خلك په دې پوهول چي الله تعالی پر دوی په هري شپې او ورځې کي پنځه لمونځونه فرض کړي، د دغي فریضې اداء کولو ته خلك چمتو کول.
- درېیمه مهمه دنده ئې دا ده چي له فقر او مسکنت سره مقابله وکړي؛ فقیران له لوږي او فقر وژغوري؛ هغه هم په دې توګه چي خلکو ته دا لارښوونه وکړي: الله تعالی د دوی په شتمنیو او مالونو کي داسي (زکات) پرې فرض کړی چي له شتمنو به ئې اخیستل کېږي او فقیرانو ته به ئې ورکول کېږي؛ یعني د زکات راغونډول او پر فقیرانو وېشل ئې د اسلامي حکومت درېیمه اساسي دنده ده.
- د اسلامي نظام چارواکي مکلف شوي چي له خلکو به یوازي هغه څه تر لاسه کوي چي الله تعالی پرې فرض کړي؛ نه دا چي د خپلي خوښي مالیات پرې وضع کړي؛ او څه او څومره چي زړه ئې غواړي او خوښ ئې شي؛ ترې وائې خلي؛ همغسي لکه چي غیر اسلامي حکومتونه او حکام ئې کوي؛ له خلکو په مختلفو نومونو او څومره چي ئې خوښه وي مالیات، محصولات او ګمرکات اخلي؛ هغه هم نه یوازي له شتمنو بلکي تر دوی وړاندي او زیات له عام ولس او له غیر شتمنو وګړو؛ خو د فقیرانو په وړاندي او له فقر او احتیاج د دوی د ژغورلو په اړه نه د مسئولیت احساس کوي او نه دا خپله دنده او وظیفه ګڼي؛ نن چي د ګمرك په نامه څه اخیستل کېږي؛ په حقیقت کي له نادارو او اړمنو اخیستل کېږي؛ په اسلام کي داسي مالیات نشته؛ دا حدیث موږ ته همدا لارښوونه کوي.
- له ظلم او تېري ډډه کول، د مظلوم له ښېراوو ځان ساتل؛ او په خپلو تصرفاتو او اجراءاتو کي تل او په دقت سره دا په پام کي لرل چي د مظلوم او

الله تعالی تر منځ هیڅ حجاب نشته.

په دې روایاتو کې دا وضاحت نه دئ شوی چې د زکات اموال به په اړوند سیمي کې پر فقراءو وېشل کېږي که بلي سیمي ته ئې انتقال او پر نورو فقیرانو ئې وېشل هم جائز دي. د روایت له فحوی او د رسول الله صلی الله علیه و سلم له سنت او د صحابه وو له منهج معلومېږي چې د زکات لومړني مستحقین د اړوند سیمي فقیران دي، د روایت الفاظ هم وایي: د دوی له شتمنو اخیستل کېږي او د دوی فقیرانو ته ورکول کېږي، خو د مسلمانانو امیر کولی شي او دا صلاحیت لري چې د ضرورت په صورت کې د زکات اموال بلي سیمي ته انتقال او پر نورو فقیرانو ووېشل شي. دې ته مو هم باید پام وي چې د زکات مستحقین یوازي فقیران نه دي، قرآن د زکات د مصرف موارد موږ ته جوت کړي، د التوبه سورې په ٦٠ آیت کې دغه وګړي د زکات مستحقین ګڼل شوي:

١. فقیران: هغه چې هیڅ نه لري،
٢. مسکینان: هغه چې څه لري خو ورته کفایت نه کوي،
٣. عاملین: د زکات اړوند مأمورین،
٤. مؤلفة القلوب: هغه چې په څه مرستو سره ئې د اسلام لوري او د مسلمانانو ملګرتیا ته د دوی راغب کول مفید او ګټور وي،
٥. د غلامانو آزادول؛ او له هغه غلام سره مرسته کول چې غواړي له مالك سره د مکاتبې له لاري خپله آزادي وپېري،
٦. د پوروړو ژغورل،
٧. د الله په لار کې: په جهادي امورو او په عام المنفعه چارو کې،
٨. او له هغو مسافرانو سره مرسته چې محتاج شوي وي.

دې ته په پام سره چې اسلام یوازي په توحید، لمونځ او زکات کې نه خلاصه کېږي؛ نور عقائد، فرائض او احکام هم شته، لکه په آخرت ایمان، په کتابونو ایمان، په قضاء او قدر ایمان، روژه، حج، امر بالمعروف، نهي عن المنکر، جهاد... نو په یقین سره ویلی شو چې په دې روایت کې د هغو لارښوونو یوازي یوه وړه برخه ذکر شوې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به معاذ

رضي الله عنه ته کړې وي، د نورو لارښوونو تر څنګ به ئې هغه ته دغه لارښوونې هم کړې وي چې په دې روايت کې ورته اشاره شوې.

په روايت کې دا هم نه دي ويل شوي چې معاذ رضي الله عنه ټول يمن ته لېږل شوی که ئې يوې برخې ته، له نورو رواياتو معلومېږي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د يمن پنځو برخو ته پنځه کسان لېږلي: خالد بن سعيد صنعاء ته، مهاجر بن أبي أمية کنده ته، زياد بن لبيد حضرموت ته، معاذ بن جبل جندل ته او أبي موسى؛ زبيد، عدن او ساحل ته.

د روايت په الفاظو کې اجمال او اختصار د دې باعث شوی چې په تعبير کې ئې د علماءو تر منځ اختلاف رامنځته شي، ځينو ويلي چې له هر غني به زکات اخيستل کېږي؛ که بالغ وي او که نابالغ؛ ګواکې زکات پر مال فرض کېږي او هر غني احتواء کوي؛ دوی وايي چې عمر، علي، عائشة او ابن عمر رضي الله عنهم هم دغه رأيه درلوده؛ ځيني نور وايي چې د يتيم په مال کې تر هغه زکات نشته چې بلوغ ته ورسېږي؛ سفيان الثوري، عبد الله بن المبارك، أبو حنيفة او ياران ئې؛ أبو وائل، سعيد بن جبير، النخعي، الشعبي او الحسن البصري رحمهم الله په دې ډلې کې دي. په دوی کې ځيني په دې باور دي چې ټولو صحابه وو پر دې رأيي اتفاق کړی؛ سعيد بن المسيب وايي: زکات يوازې پر هغه چا فرض دئ چې لمونځ او روژه ورباندې فرض شوي.

ځيني د دې روايت په استناد وايي: په مال کې له زکات پرته بل حق نشته؛ خو په مقابل کې ئې نور په دې باور دي چې پر زکات سربېره نور مالي وجائب او حقوق هم شته؛ ځيني رسول الله صلى الله عليه و سلم ته دا روايت منسوبوي:

عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ؛ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «فِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزَّكَاةِ؛ وَتَلَا هَذِهِ الْآيَةَ (لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ )

او ځيني دا روايت:

عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، أَنْهَا سَمِعَتْهُ تَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَيْسَ فِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزَّكَاةِ»

خو حقیقت دا دئ چې د مسلمان مالي وجائب په زکات کې نه خلاصه کېږي، نه یوازې دا چې مسلمان پر زکات علاوه ډېر نور مالي مکلفیتونه لري، ډېر نور د ده په مال کې ورسره شریك دي او دی ئې په وړاندې مسئولیتونه لري، مېرمنې ته مهر ورکول، د خپلې کورنۍ مېرمنې او اولاد ورځنې ضروري مصارف په غاړه اخیستل، په همدې ضمن کې دي، د دغو دوو اختلافي آراءو تلفیق داسې کېدی شي چې د خلکو په مالونو کې یو هغه حق دئ چې اسلامي حکومت ئې پر اخستلو گمارل شوی او حکومت ته به ورکول کېږي؛ دا په زکات کې محدود او مختص شوی او حکومت نشي کولی پر زکات علاوه کوم څه له خلکو واخلي؛ لکه پر زمکې، کور او دکان مالیه، گمرکي محصول، په یوه بل نامه کمیشن، او تر بل هر نامه لاندې؛ له خلکو څه په زور اخستل منع دي او ظلم او تعدي گڼل کېږي؛ اما هغه مالي وجائب چې مسلمان ئې د خپلې کورنۍ، مېرمن، اولاد، خپلوان، گاونډیان، هر فقیر، مسکین، محتاج او مضطر انسان په وړاندې لري، یا مکلف دئ د جهاد لپاره وسائل او تجهیزات برابر کړي او دې ته ورته مواردو کې مصارف کول د هر شتمن مسلمان په مالي مکلفیتونو او وجائبو کې راځي.

دا هم باید په پام کې ولرو چې اسلامي حکومت هم کولی شي د ضرورت په صورت کې په ځانگړې توگه هغه مهال چې د اضطراري حالت له کبله د ولس مزید مرستو ته اړ شي؛ له هغوی پر زکات سربېره نورې مرستې وغواړي؛ چې فقهاءو د مصالح مرسله او سد ذرائع نوم ورکړی؛ خو په داسې مواردو کې به هره پرېکړه د ټولو مسلمانانو په اتفاق او رضایت سره کېږي؛ نه د امراءو په فوق العاده فرمانونو سره؛ د مسلمانانو هغه شوری به داسې پرېکړې کوي چې ټول ملت تمثیلوي، غړي ئې د ملت معتمد وکیلان وي؛ دا ځکه چې شریعت له یوې خوا په داسې مواردو کې شوری او د مسلمانانو رضایت واجب کړی او له بلې خوا وایي: هیڅوك حق نه لري حدود، احکام او وجائب وضع کړي، یا په حدودو او احکامو کې کمی او زیاتی وکړي او له ځان شارع جوړ کړي. قرآن وایي: الله تعالی د احکامو په وضع کولو کې هیڅوك له ځان سره نه شریکوي؛ دغه روایات هم په واضح الفاظو وایي چې (لَيْسَ فِي الْمَالِ حَقٌّ سِوَى الزَّكَاةِ: په مال کې له زکات پرته بل حق نشته)؛

یعني هغه څه چې حکومت ئې له خلکو تر لاسه کوي فقط زکات دئ چې نصاب، مقدار او د مصارفو ټول موارد ئې د شریعت له لوري ټاکل شوي؛ مقدار ئې پنځمه، لسمه، شلمه او څلوېښتمه دئ؛ نه ئې څوك نصاب بدلولی شي او نه مقدار.

د مثال په توګه وایو: شریعت په شتمنیو کې د زکات نصاب او مقدار ټاکلی؛ په شتمنیو کې ئې د هستوګنې خپل کور، د کور ضروري او تر استعمال لاندې وسائل، د سورلۍ آس، اوښ او موټر، د مېرمنو ګاڼه.... له زکات مستثنی کړي؛ نو حکومت حق نه لري چې له چا د کور، دکان، موټر، کراچۍ... مالیه واخلي، د دکان، موټر، لاسي کراچۍ، لوحې او بل هر نامه کمیشن او مالیه ترلاسه کړي، حکومت حق نه لري له هغه چا څه واخلي چې شتمني ئې د زکات نصاب ته نه وي رسېدلې؛ زموږ د ولس اکثریت داسې دي چې په زحمت سره کولی شي خپل ورځنۍ ضرورتونه پوره کړي او د خپلې کورنۍ د خوراك، لباس، دواء، د تعلیم مصارف، د کور کرایه،... له عهدې ووتلی شي؛ فقیر او مسکین په بیت المال کې تر ټولو وړاندې مسلم حق لري؛ اما متأسفانه اوس له ټولو افغانانو؛ که شتمن دي او که فقیر او مسکین؛ په مختلفو نومونو مالیې اخستل کېږي، پر ټولو وارداتي اجناسو؛ د خوراکي توکیو، دواء او جامو په شمول ناروا او لوړ ګمرکي محصول اخستل کېږي؛ دا نه یوازې حرام دي او هیڅ شرعي مجوز ورته نه شو موندلی؛ بلکې څرګند ظلم دئ؛ د ګمرکاتو اصلي اداءکوونکي نه تاجران دي او نه شتمن؛ هغه عام ولس ئې تأدیه کوي چې غوڅ اکثریت ئې د فقر او مسکنت حالت کې دي؛ د اسلام له نظره حکومت د فقیرانو او مسکینانو متکفل دئ، په بیت المال کې لومړي مستحقین دوی دي، داسې نظام رامنځته کول چې فقیران، مسکینان او هغه چې شتمني ئې د نصاب حد ته نه وي رسېدلې؛ په هر نامه څه ترلاسه کول؛ په قطعي توګه حرام دي؛ او که دا ظلم د اسلام تر لاندې کېږي نو یقیناً چې دا هم له اسلام سره جفا ده او هم له ولس سره؛ او که له دغو لارو تر لاسه شوي مبالغ حکامو ته د اشرافي ژوند په برابرولو

لګېږي؛ له دې جفا او ظلم الله تعالی ته پناه وړو!!

د روایت له دغي فقرې (تؤخذ من اغنیاءهم) معلومېږي چي زکات د اسلامي حکومت له لوري له اغنیاءو اخیستل کېږي او په خپلو خاصو مواردو کي مصرف کېږي؛ او دا هغه څه دي چي د التوبې د سورې په دغه آیت کي ورته اشاره شوې:

خُذۡ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ صَدَقَةٗ تُطَهِّرُهُمۡ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيۡهِمۡۖ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٞ لَّهُمۡۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ١٠٣ التوبه

له مالونو ئې داسي صدقه تر لاسه کړه چي پرې پاك او تزکیه ئې کړې او دعاء ورته وکړه، یقیناً چي ستا دعاء ورته یوه ډاډېینه ده؛ او الله پوه اورېدونکی دئ.

خو دا باید په پام کي ولرو چي زکات د هغه اسلامي حکومت له لوري اخیستل کېږي چي د سیمي اداره ئې په واك کي وي او د ولس امنیت تأمینوي او له هغو مسلمانانو به ئې اخلي چي د همدې اسلامي حکومت تر واك لاندي سیمي کي ژوند کوي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د مدني دور په وروستیو کي د زکات غونډولو لړۍ پیل کړه؛ نه په مکه کي؛ متأسفانه ځیني دې اصل ته له پام پرته د زکات د اخیستلو فتوی هر هغه چا ته ورکوي چي پر کومي سیمي د زور او وسلې په مرسته مسلط شي، د جهاد په دوران کي داسي خلك هم راڅرګند شول چي په کومي غرنۍ سیمي کي به ئې جبهه پرانیستله او بیا به ئې د سیمي له خلکو په زور د زکات په نامه پیسې اخیستلې، حتی د هېروئینو او چرسو عشر به ئې هم اخیستلو!! خو کله چي به سیمي ته دولتي ځواکونه ورغلل نو له معمولي مقاومت پرته به ئې سیمه خوشې کړه؛ او بیا به دولتي ځواکونو له همدغو مظلومانو مالیه تر لاسه کوله!!

دې ته هم باید متوجه وو چي د اسلامي حکومت د بیت المال او خزانې مهم شرائط دا دي: ۱- دا د ملت امانت دئ؛ حکام په کي په خپل

سر او خوښه د تصرف حق نه لري؛ هر لوی او ووړ تصرف به د ملت په خوښه او مشوره او د اسلامي لارښوونو مطابق وي؛ د امیر المؤمنین او نورو حکامو تر معاش پوري؛ ۲- په دې کي حرام مال او شتمني نه شي جمع کېدی او په حرامو لارو نه شي مصرف کېدی؛ د مصارفو موارد او ترتیب او تسلسل به ئې همغي وي چي قرآن ښودلی؛ ۳- که اسلامي حکومت نه وي نو شتمن باید خپل زکات په خپله پر مستحقینو ووېشي؛ اسلامي حکومت هغه دئ چي مشر ئې د مسلمانانو له لوري غوره شوی وي؛ شریعت ته التزام لري او کارونه ئې له ولس سره په مشوره وي؛ د داسي حکومت په نه شتون کي؛ غوره دا ده چي مسلمانان خپل زکات کوم ډاډمن او صالح اسلامي تنظیم ته وسپاري او د مصرف څرنګوالی او موارد ئې همدې تنظیم ته پرېږدي.

له روایت دا هم معلومېږي چي الله تعالی د مظلوم دعاء قبلوي که څه هم کافر وي.

۷۰۳ - عَنْ أَبِی أَيُّوبَ رضی الله عنه: أَنَّ رَجُلاً قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبِرْنِی بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِی الْجَنَّةَ. قَالَ: «مَا لَهُ مَا لَهُ» وَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: «أَرَبٌ مَا لَهُ، تَعْبُدُ اللَّهَ وَلا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلاةَ، وَتُؤْتِی الزَّكَاةَ، وَتَصِلُ الرَّحِمَ». (بخاری: ۱۳۹۶)

۷۰۳- له ابو ایوب رضي الله عنه روایت دئ چي یوه سړي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وویل: له داسي عمل مي خبر کړه چي جنت ته مي داخل کړي، یوه صحابي وویل: څه غواړي؟ څه غواړي؟ نبي صلی الله علیه و سلم وفرمایل: څه چي غواړي یوه اړتیا ده، بیا ئې سؤال کوونکي ته وفرمایل: "د الله عبادت کوه، هیڅ څه مه ورسره شریکوه، لمونځ کوه، زکات ورکوه او خپلوي پاله".

۷۰٤- عَنْ أَبِی هُرَيْرَةَ رضی الله عنه: أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: دُلَّنِی عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ. قَالَ: «تَعْبُدُ اللَّهَ لا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا،

وَتُقِيمُ الصَّلاةَ الْمَكْتُوبَةَ، وَتُؤَدِّى الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ». قَالَ: وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لا أَزِيدُ عَلَى هَذَا. فَلَمَّا وَلَّى، قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا». (بخارى: ۱۳۹۷)

۷۰۴- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي: يو كوچى نبي صلى الله عليه و سلم ته راغى او وئې ويل: داسي عمل راوښيه چي په كولو سره ئې جنت ته داخل شم. وئې فرمايل: د الله تعالى عبادت كوه او هيڅ څه مه ورسره شريكوه، فرض لمونځونه كوه، فرض زكات وركوه او د رمضان روژه نيسه، هغه وويل: قسم په هغه ذات چي زما سا ئې په واک كي ده پر دې به هيڅ څه زيات نه كړم، كله چي ئې شا واړوله او ولاړ، نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: (كه څوک په دې خوښېږي چي يو جنتي سړى وګوري نو ده ته دي وګوري).

دغه مطالب د بخاري په څلورو نورو رواياتو كې هم راغلي چي شمېرې ئې دا دي: ٤٦، ١٧٩٢، ٢٥٣٢، ٦٥٥٦

له دې او دې ته ورته رواياتو معلومېږي چي كه څوك فرائض تر سره كړي؛ نو د دنيا او آخرت بريا ئې په برخه كېږي؛ كه څه هم په فضائلو او تر فرائضو رالاندي امورو كې كمى او قصور ولري؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم چي د هغه كوچي په اړه څه ويلي او په فرائضو اكتفاء ئې د جنتي كېدو لپاره كافي ګڼلي؛ موږ هم بايد د هر مؤمن په اړه همدا قضاوت ولرو؛ نه دا چي د مستحباتو او فضائلو په ترك سره څوك تكفير كړو او د اسلام له دائرې ئې وتلى وګڼو او د پايڅو او مسواك له مخي د بل په اړه قضاوت وكړو؛ جنتي او دوزخي ئې كړو.

۷۰۵- عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ: لَمَّا تُوُفِّىَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ رضى الله عنه، وَكَفَرَ مَنْ كَفَرَ مِنَ الْعَرَبِ، فَقَالَ عُمَرُ رضى الله عنه: كَيْفَ تُقَاتِلُ النَّاسَ؟ وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا: لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، فَمَنْ قَالَهَا فَقَدْ

عَصَمَ مِنِّي مَالَهُ وَنَفْسَهُ إِلاَّ بِحَقِّهِ، وَحِسَابُهُ عَلَى اللَّهِ» فَقَالَ: وَاللَّهِ لأُقَاتِلَنَّ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الصَّلاةِ وَالزَّكَاةِ، فَإِنَّ الزَّكَاةَ حَقُّ الْمَالِ، وَاللَّهِ لَوْ مَنَعُونِي عَنَاقًا كَانُوا يُؤَدُّونَهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَاتَلْتُهُمْ عَلَى مَنْعِهَا. قَالَ عُمَرُ رضى الله عنه: فَوَاللَّهِ مَا هُوَ إِلاَّ أَنْ قَدْ شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ رضى الله عنه لِلْقِتَالِ، فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ. (بخاری: ۱۳۳۹، ۱۴۰۰)

۷۰۵- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: كله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفات شو او أبو بكر رضي الله عنه (خليفه) شو؛ او له عربانو څيني كافران شول؛ عمر رضي الله عنه (ابو بكر رضي الله عنه) ته وويل: څنگه له خلكو سره جگړه كوې؟ په داسې حال كې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (په دې گمارل شوی يم چې تر هغه له خلكو سره وجنگېږم چې ووايي: له الله پرته بل معبود نشته، چا چې دا كلمه وويله نو ځان او مال ئې له ما خوندي كړ، مگر په حق سره ئې او حساب ئې پر الله دئ)؛ نو ابو بكر رضي الله عنه وويل: قسم په خدای له هغو سره به حتماً جنگېږم چې د لمانځه او زكات تر منځ توپير كوي؛ دا ځكه چې زكات مالي حق دئ؛ قسم په الله كه يو سېرلی چې رسول اكرم صلى الله عليه و سلم ته ئې وركولو له ما وسپموي نو حتماً به د دې امتناع له كبله ورسره وجنگېږم؛ عمر رضي الله عنه وويل: قسم په الله چې دا له دې پرته بل څه نه دي چې الله د ابو بكر رضي الله عنه سينه جنگ ته پرانيستلې ده؛ او زه پوه شوم چې حق همدا دئ.

په دې رواياتو كې د ابو بكر رضي الله عنه د خلافت په لومړيو كې هغې فتنې ته اشاره شوې چې د زكات د مانعينو له لوري راولاړه شوه؛ ابو بكر رضي الله عنه د هغوی په ضد د جگړې اراده وكړه؛ د عمر رضي الله عنه په شمول څينو صحابه وو دا مناسب نه گڼله چې په هغه حساس وخت كې د دوی په ضد جگړه پيل شي؛ عمر رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه و سلم پر دې حديث استناد كولو چې وايي: په دې گمارل شوی يم چې تر هغه له خلكو سره وجنگېږم چې ووايي: له الله پرته بل معبود نشته، چا چې

دا کلمه وویله نو ځان او مال ئې رانه خوندي کړ...، ابو بکر رضي الله عنه د التوبه د سورې پر پنځم آیت استناد کولو چي وایي:

فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلۡأَشۡهُرُ ٱلۡحُرُمُ فَٱقۡتُلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡ وَخُذُوهُمۡ وَٱحۡصُرُوهُمۡ وَٱقۡعُدُواْ لَهُمۡ كُلَّ مَرۡصَدٖۚ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ۝٥

بیا کله چي دا محترمی میاشتی تېري شوې؛ نو هر ځای چي دا مشرکان مومئ وئې وژنئ، وئې نیسئ، محاصره ئې کړئ او په هر کمینځي کې ورته کښېنئ؛ نو که ئې توبه وکړه، لمونځ ئې قائم کړ او زکات ئې ورکړ؛ نو لاره ئې خوشې کړئ؛ بې شکه چي خدای بخښونکی مهربان دئ.

له دې آیت په څرگنده توگه معلومېږي چي د لمانځه له تارکینو او د زکات له مانعینو سره جگړه کېدی شي؛ ابو بکر صدیق رضی الله عنه پر همدې آیت استناد وکړ او د هغو خلکو په خلاف ئې د جگړې فیصله وکړه چي د اسلام دعوی ئې درلوده خو د زکات له ورکړې ئې امتناع کوله.

متأسفانه ځیني د دې پېښي ظواهرو ته په پام سره داسي انگېري چي د مسلمانانو امیر کولی شي له مسلمانانو سره له مشورې پرته پرېکړه وکړي؛ په داسي حال کې چي خبره قطعاً داسي نه ده؛ مشوره یو شرعي مکلفیت دئ؛ هیڅوك حق نه لري دا الهي لارښوونه له پامه وغورځوي؛ ابو بکر رضي الله عنه د قرآن په څرگند آیت استناد کړی، د عمر رضي الله عنه په شمول له چا سره چي بله رأیه وه له خپلي رأیي تېر شوي او له ابو بکر رضي الله عنه سره ئې توافق کړی؛ او د جنگ پرېکړه په اتفاق سره شوې؛ د روایت الفاظ په ډېر صراحت سره وایي چي عمر رضي الله عنه په ډېر تأکید سره وویل: قسم په الله چي دا له دې پرته بل څه نه دي چي الله د ابو بکر رضي الله عنه سینه جنگ ته پرانیستلې ده؛ او زه پوه شوم چي حق همدا دئ.

د خیبر یهودانو په اړه چي عمر رضي الله عنه؛ له ټولو مسلمانانو سره له مشورې وروسته کومه پرېکړه کړې؛ او اجماع ئې رامنځته کړې؛ او د همدې متفقه پرېکړې له مخي ئې عمل کړی؛ د دې واضح عملي مثال دئ؛ په هغه

روايت کې راغلي: عمر رضي الله عنه وويل: نو زما رأی دا ده چي دوی تبعيد شي؛ ابن عمر وايي: کله چي عمر رضي الله عنه په دې اړه اجماع رامنځته کړه؛ د بني ابی الحُقَيْق يو تن ورته راغی او وئې ويل: يا امير المؤمنين! آيا موږ باسې؛ په داسي حال کي چي محمد صلی الله عليه و سلم پريښودلو؛ او پر خپلو اموالو (زمکو او باغونو) ئې وگمارلو چي کار په کې وکړو؛ او دا شرط ئې موږ ته وټاکلو؟

دې ته بايد متوجه وو چي د زکات له ورکړي امتناع له نظام بغاوت دئ او د باغي خلاف تر هغه جنگ جائز دئ چي له بغاوت لاس واخلي.

## د الله تعالی ذکر او آداب ئې

قرآن د واقعي او صحيح ذکر د آدابو او څرنگوالي په اړه فرمايي:

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ﴿٢٨﴾ [الرعد]

هغه چي ايمان ئې راوړی او د الله په ذکر سره ئې زړونه مطمئن کېږي؛ خبر دار چي د الله په ذکر او يادولو سره زړونه مطمئن کېږي.

پر الله تعالی ايمان او د ده ذکر او يادونه انسان ته د زړه هغه ډاډ او اطمئنان ورپه برخه کوي چي د انسان لپاره تر ټولو ستر نعمت دئ او له هغه اضطراب، پرېشانۍ او تشويش ئې ژغوري چي د انسان لپاره تر ټولو ستر عذاب دئ، د الله تعالی ذکر انسان د ډاډ او اطمئنان هغه پوړ ته رسوي چي قرآن د (مطمئن نفس) ښکلی لقب ورته غوره کړی، مطمئن نفس همغه دئ چي رابطه ئې له خپل رب سره ټينگه ساتي، زړه ئې د الله په ياد سره ډاډه کېږي، د الله تعالی په پرېکړو راضي او قانع وي او خپل خير په هغه کې لټوي، څوك چي خپل رب نه پېژني، خپله رابطه ئې له الله تعالی سره شلولې، تل په وېري، اضطراب او پريشانۍ کې ژوند کوي، نه ئې زړه ډاډه وي او نه ئې روح آرامه؛ اضطراب او پرېشاني به حتماً د هغه روح او زړه په برخه وي چي خپل رب ئې هېر کړی. دا اوس تاسو په غربي ټولنو کې گورئ چي هري خوا ته او د هر چا په څېره کې د ژور اضطراب او ناآرامۍ نښي له ورايه برېښي، د

غربي ټولني اکثر وګړي له خوب راوړونکو او مسکن دوا پرته خوب نه شي کولی، غواړي په شراب، چرس، سګریټ، هیروئین، موروفین او نورو مخدره موادو خپل روحي اضطراب علاج کړي او څو شیبې خپل ناآرامه زړه ته کاذب ډاډ او سکون ورپه برخه کړي، ورو ورو ئې کار هغه ځای ته ورسېږي چي له سخت روحي اضطراب د نجات لپاره ځان وژني ته ملا تړي، دا پراخي ځان وژني چي په هر غربي هېواد کي ئې ګورو او حکومتونه ئې له مخنیوي عاجز او راتلونکي ته سخت پرېشانه، ټول په خدای له عدم باور او له الله سره د خپلو اړیکو د شلولو نتیجه ده، دا ځان وژني ښیي چي غربي تمدن، افکار، عقائد، د ژوند طریقه او اسلوب ئې د انسان له سالم فطرت سره اړخ نه لګوي، نه شي کولی انسان ته روحي آرامي او د زړه سکون ورپه برخه کړي، په دې غیر فطري او په الحاد او بې دینۍ ولاړ تمدن کي انسان د اضطراب او پرېشانۍ احساس کوي، روح ئې ناآرامه، هیڅ څه ئې نه شي ډاډه کولی، زغم، حوصله، صبر او استقامت نه شي ورکولی، د معمولي کړاو په نتیجه کي له ژوند بې زار شي، یا مخدره موادو ته پناه وړي او یا ځان وژني ته. دا ولي آسیایي او افریقایي انسان په سختو ستونزو او کړاونو کي، په فقر او لوږې کي؛ په ژوند راضي وي او له کړاوونو د نجات لپاره ځان وژني ته پناه نه وړي، په یوه ستر آسیایي هېواد کي په یو کال کي دومره کسان ځان وژنه نه کوي لکه چي د غربي هېوادونو په یوه یوه ښار کي تر دې په کمه موده کي ځان وژني کېږي، دا ولي؟ آیا د دې لپاره کومه بله توجیه موندلی شو؟ آیا له دې پرته بل څه ویلی شو چي هلته زړونه له ایمان تش شوي او دلته پر خدای باور په یوه او بله بڼه کي شته!! مخدره او نشه ئې موادو ته د پناه وړلو اصلي او بنیادي وجه روحي اضطراب دئ، په دې خطرناکي بیمارۍ هغه څوك اخته کېږي چي له روحي سکونه محروم وي، د دې بیمارۍ علاج له دې پرته په بل څه نه شي کېدی چي انسان بېرته الله ته راوګرځي، له الله تعالی سره خپلي شلېدلي اړیکي ټینګي کړي. عظیم الشأن قرآن د جنت مستحق مؤمن بنده د نفس مطمئنة په نامه یادوي او په دې سره موږ ته لارښوونه کوي چي فقط ایمان کولی شي انسان ته ډاډ او اطمئنان ورپه برخه کړي، ایمان د انسان روح ته سکون او زړه ته ئې ډاډ ورکوي، عقل ئې قانع کوي، پوښتنو

ته ئې ځواب وایي، په ټولني کې ئې عدالت راولي او له اضطراب او پرېشانۍ ئې ژغوري.

هغه چي ایمان لري، د الله د نوم په اخیستلو او د الله په ذکر سره او چي کله الله ور په یاد شي؛ په دې سره ئې زړه مطمئن شي. دا ځکه چي کله شیطان درته وسوسې تلقین کړي او خوف دي په زړه کې راپیدا کړي؛ خو چي کله ته دې خبري ته متوجه شې چي ستا مرګ ژوند د الله په اختیار کې دئ او دلته هر څه د الله په اراده تر سره کېږي، هغه لکه چي ستا پیدا کوونکی دئ همدا راز ستا پالونکی او ساتونکی هم دئ، د هغه رحمت او پېرزوینه بې انتهاء ده او هغه د دې ملك مالك دئ، په دې زمکه کې د هغه اراده حاکمه او نافذه ده او هر څه د ده ارادې ته منقاد دي، دا اعتقاد او دا ایمان پخپله د دې باعث شي چي ته ډاډه او مطمئن وې او متیقن وې چي له تصادفي حوادثو او پېښو سره نه مخامخ کېږې، بلکي دلته چي هر څه کېږي د یوه مالك الملك الله په اراده کېږي، له همدې امله ته مطمئن او ډاډه وې.

قرآن د الله تعالی ذکر آداب داسي بیانوي:

ٱدۡعُواْ رَبَّكُمۡ تَضَرُّعٗا وَخُفۡيَةًۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ۝٥٥ وَلَا تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بَعۡدَ إِصۡلَٰحِهَا وَٱدۡعُوهُ خَوۡفٗا وَطَمَعًاۚ إِنَّ رَحۡمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ۝٥٦ الأعراف

خپل رب په زاریو او په پټه (ټیټ غږ) دروبلئ، یقیناً چي هغه تېری کوونکي نه خوښوي. او په زمکي کې د هغې له اصلاح وروسته فساد مه خوروئ او له وېري او طمعي سره ئې دروبلئ، بې شکه چي د الله رحمت نېکانو ته ورنژدې دئ.

دلته د دعاء په اړه څو مهمي لارښووني شوې:

- په زاریو زاریو سره خپل رب ته دعاء کوئ، له دې احساس او باور سره چي ستاسو رب د هر څه پیدا کوونکی، ورکوونکی او اخیستونکی دئ او هر څه د ده په امر تر سره کېږي.
- په پټه او په ټیټ غږ دعاء کوئ.

- الله تعالی اعتداء کوونکي نه خوښوي، دلته د اعتداء کوونکو یادونه د دعاء په ارتباط شوې او معنی ئې دا ده چي دعاء ځان ته ادب لري، دا ادب باید مراعات کړئ، دا دوه ادبه (تضرع او اخفاء) په پام کي ولرئ، مه په غافل زړه دعاء کوئ او مه په چیغو چیغو سره، له دې صریح حکم د هغو خلکو په اړه قضاوت کولی شئ چي د دعاء په وخت کي نڅا او مستي کوي، څنې غورځوي، له ډول او دبلې سره یو ځای د هو هو بې معنی چیغي وهي.
- په زمکي کي د اصلاح او امن له تأمین وروسته فساد مه خوروئ، الله تعالی د مفسدینو دعاء نه قبلوي.
- په داسي حال کي ورته دعاء کوئ چي هم ترې وېرېږئ او هم طمع ترې لرئ.
- د نېکانو دعاء ژر قبلېږي، دوی ته د الله تعالی رحمت ډېر ورنژدې دئ.

وَٱذۡكُر رَّبَّكَ فِي نَفۡسِكَ تَضَرُّعٗا وَخِيفَةٗ وَدُونَ ٱلۡجَهۡرِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ ﴿٢٠٥﴾ الأعراف

او (تل) سبا او ماښام، له ځان سره د خپل رب ذکر کوه، په زاریو او وېري سره او له لوړ غږ راټیټ؛ او له غافلانو مه کېږه.

دلته د الله تعالی د ذکر په ارتباط څو مهمي او اساسي سپارښتني شوې:

- تل د الله تعالی په یاد او ذکر مشغول اوسه، شپه ورځ، سبا او ماښام ئې یادوه.
- له ځان سره او په خپل زړه کي ئې یادوه.
- په زاریو او زګېرویو سره ئې یادوه، ستا ذکر باید له زاریو او وېري سره توأم وي، غږ دي باید د زاري کوونکو په څېر وي، د یوه محتاج او مضطر بنده په څېر، له دې احساس سره چي په هر څه کي الله تعالی ته محتاج یې، د ذکر په حال کي باید ستا په الفاظو، غږ او څېرې کي د وېري او خوف آثار څرګند وي، داسي چي زړه دي پوړېږي، داسي چي د یوه ستر ذات په وړاندي ولاړ یې، هغه ستا غږ اوري، حرکات دي ګوري او د زړه کیفیت دي ورته معلوم دئ.

- د غافلانو په ډېر مه کېږه، چې خپل رب هېر کړې یا ئې په داسې حالت کې نوم په خوله اخلې چې زړه دې ترې غافل وي.

ځوك چې په قرآن ایمان لري؛ هغه ته همدا آیتونه کافي دي چې د ذکر په حقیقت او ځرنګوالي پوه شي او د هغو ټګمارانو او ریاء کارانو خباثت او منافقت درك کړي چې ذکر ئې له نڅا، ګډا، چیغو او مستي سره جوخت وي.

د ذکر او دعاء تر ټولو غوره وخت، حالت، کیفیت او ځرنګوالی ځمونږ او وخت، حالت او کیفیت ئې دئ؛ تر ټولو ښه، غوره او جامع دعاء د فاتحې سوره ده، او د دعاء د اجابت تر ټولو ښه حالت سجده ده؛ په سجدو او د سجدو تر منځ جلسه کې دعاء وکړئ، رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: په سجده کې انسان تر بل هر حالت الله تعالی ته زیات نژدې وي؛ په سجدو کې خپلې دعاء ګانې زیاتې کړئ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ رواه مسلم

له أبو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: بنده د سجدې په حالت کې تر بل هر وخت خپل رب ته زیات نژدې وي، نو په سجدې کې خپلې دعاءګانې زیاتې کړئ.

که وغواړو چې پوه شو سجده څه ده؟ نو ویلی شو: آیا تا په خپل ژوند کې داسې کوم مضطر، مجبور او سخت محتاج کس لیدلی چې د ډېرې پرېشانۍ او بې وزلۍ له کبله د بل پښو ته لوېدلی وي، هغه ته استغاثه کوي او په الحاح سره مرسته ترې غواړي؟ آیا تا کله داسې کوم کس لیدلی چې لوی جرم ئې کړی وي او د داسې چا په وړاندې لاس تړلی ولاړ وي چې هم ئې عفو کولی شي او هم مجازات او د ده له ترحم تر لاسه کولو پرته بله هېڅ چاره نه لري، نو پښو ته ئې په وار وار لوېږي، عذر او زارۍ کوي، هر ځل په دې هیله سر راپورته کوي چې وګوري د ده عذر منل شوی که نه؟ او سؤال ئې قبول شوی که نه؟ سجده همداسې یو حرکت دئ. سجده په حقیقت کې داسې ده لکه د الله پښو ته لوېدل، (دې ته په پام سره چې الله تعالی له غړو او جوارحو منزه دئ)

الله تعالی په داسي نامه مه يادوه چي د ده له عظمت او شأن سره نه ښايي، الله تعالی غوره نومونه لري، په دغو غوره نومونو سره ئې يادوه، بايد پوره محتاط وې چي د الله د يادولو او ذکر په وخت کي داسي نوم ونه کاروې چي د الله تعالی په شأن کي بې ادبي ګڼل کېږي؛ لکه معشوق، صنم، نګار، جانان،... ؛ د الله ذکر خاص ادب او ځانګړی فرهنګ او قاموس لري، د ځان پاکوالی، د زړه حضور او د روح خشوع، د دې مقدس مقام آداب دي، څوك چي له دې پرته بل حالت ولري، بې ادبي ئې کړې، همدا راز د ذکر په دوران کي هغه نومونه کارول چي له دې خاص او ځانګړي قاموس نه وي اخيستل شوي، الحاد او له اصلي لاري کږېدل دي، څوك چي د مستۍ او بې خودۍ په حالت کي، له جذبې او ساز او سرود سره الله يادوي بې ادبي کوي، څوك چي الله د ساقي، صنم، دلبر، معشوق، پير مغان او ... په نامه يادوي او څوك چي د الله تعالی په جومات کي د ها هو چيغو او خرمستي ته د ذکر نوم ورکوي؛ بې فرهنګه دئ، د الهي ذکر له قاموس بې خبر او د الله تعالی د ذکر له آدابو بې برخي دئ.

د دې ويناوو خلاصه دا ده:

- د ذکر غوره حلقه په جماعت لمونځ دئ.
- تر ټولو غوره ذکر لمونځ دئ او په لمانځه کي د قرآن تلاوت.
- تر ټولو غوره رياضت روژه ده.
- تر ټولو غوره سياحت حج دئ.
- تر ټولو غوره جهاد د ظالم واکمن په وړاندي حق وينا او له حق دفاع ده.
- د الله تعالی په لار کي په مال او نفس جهاد تر ټولو غوره عبادت او د اسلام د لوړ غره تر ټولو لوړه څوکه ده. هغه لوړ معنوي مقام چي په جهاد تر لاسه کېدی شي په بل هيڅ عبادت نشي تر لاسه کېدی.

## د پيغمبرانو په وړاندي د خلکو دوه ډلي

د هيڅ زمانې الهي دين له مخکيني او وروستني سره هيڅ توپير نه لري، پيغام ئې، محتوی ئې، اصول ئې، لارښوونې ئې، احکام او غوښتني ئې ورته

دي، دین تل خلکو ته ویلي: یوازي د یوه الله عبادت وکړئ، خپل دین په شرك مه لړئ، ماسوی الله ته مه سر ټیټوئ او مه لاس اوږدوئ، له سمي لاري کيڼ او ښي لوري ته مه کږېږئ، لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ، د رښتیني او قیم دین مشخصات تل دغه وي.

تل او د تاریخ په اوږدو کي؛ خلك د پیغمبرانو او د دوی د دعوت په وړاندي په دوو ډلو وېشل کېږي:

۱- ځیني په ښرګنده د کفر، انکار او مخالفت لاره غوره کړي او ځیني ئې له دې سره سره چي په پیغمبر او کتاب ئې د ایمان دعوی کوي خو په حقیقت کي کافر وي، ګمان کوي چي په الله تعالی باور لري خو مشرك وي، دوی د زمکي په سر تر ټولو بد مخلوق او پای ئې دوزخ دئ چي د تل لپاره به په کي پاته وي.

۲- ځیني د ایمان او صالح عمل لار غوره کړي، دوی تر ټولو غوره مخلوق او ځای ئې تلپاته جنت دئ، الله به له دوی راضي وي او دوی به له الله تعالی، دا هغه کسان دي چي خپل رب ئې سم پېژندلی او د هغه په وړاندي له عصیان او سرغړاوي وېره لري.

لَمْ يَكُنِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ وَٱلْمُشْرِكِينَ مُنفَكِّينَ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ ٱلْبَيِّنَةُ ﴿١﴾ رَسُولٌ مِّنَ ٱللَّهِ يَتْلُوا۟ صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ﴿٢﴾ فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ﴿٣﴾ وَمَا تَفَرَّقَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَةُ ﴿٤﴾ وَمَآ أُمِرُوٓا۟ إِلَّا لِيَعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ ۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلْقَيِّمَةِ ﴿٥﴾

کافر شوي کتابیان او مشرکان به رابېل شوي نه وو، چي راغلې نه وی دوی ته بینه (ښرګندونکې نښه). ۲- د خدای له لوري یو رسول، چي لولي پاکیزه صحیفې. ۳- په کي سمي سنجیده لیکني. ٤- او بېل بېل نه شول هغه چي دا کتاب وو ورکړی شوی، مګر وروسته له هغه چي ورته راغله دا ښرګنده نښه. ۵- او نه وو ګمارل شوي له دې پرته په بل څه؛ چي ولمانځي الله، خالصوونکي

ورته دين، يومخيزي؛ او پر دې چي لمونځ قائم كړي، زكات وركړي او همدا دئ قيم دين.

د دې مبارك آيت دوه تفسيرونه شوي:

الف: دا آيت د كافرو كتابيانو او مشركانو (حال) بيانوي، په دې معنى چي كافران، كه دا (اهل كتاب) دي چي په خپل پيغمبر او خپل كتاب د ايمان دعوى كوي او كه دا مشركان دي چي نه په كوم كتاب باور لري او نه په كوم پيغمبر، هيڅ يو ئې له خپل كفر لاس اخيستو ته تيار نه دي، له خپلو غلطو انګېرنو، باورونو او تګلارو نه تېرېږي، نه په خپلو زړو باورونو کي تغيير ته تيار دي او نه د خپلي ټولني په مخكيني وضعيت کي بدلون ته، ورسره عادت شوي، د خپلي ټولني د ګنده محيط او د خپلو ګنده افكارو ګنده بوى نه شي احساسولی او دې ته چمتو نه دي چي ترې ووځي، مګر دا چي كوم پيغمبر ورته راشي، له څرګندو نښو سره، د دوى سترګي پرانيزي، له تيارو ئې وباسي او سمه لار وروښيي.

ب: په دوهمي توجيه کي دا آيت د كافرانو د (حال) بيانولو په معنى نه بلكي د (مقال) په معنى اخيستل شوى، يعني دلته د كافرانو دا وينا رانقل شوې چي: كه پيغمبر له څرګند كتاب سره راته راشي، موږ به خامخا ايمان راوړو او له خپلو مخكينيو كړنو او تګلارو به لاس واخلو، په داسي حال کي چي د پيغمبر له بعثت وروسته ئې له ايمان راوړو ډډه كړې او د پيغمبر مخالفت ته ئې ملا تړلې.

خو دا دوهمه توجيه په څو دلائلو ضعيفه ده:

۱- د آيت له هيڅ برخي داسي نه معلومېږي چي دا دي د كافرانو قول وي.

۲- په څلورم آيت کي د اختلاف په ځاى د (تفرق) لفظ ښيي چي د پيغمبر له بعثت وروسته دوى په بېلو بېلو ډلو وېشل شوي، ځينو ئې ايمان راوړى او ځيني پر خپل كفر او انكار ټينګ پاته شوي.

۳- د پيغمبر توصيف په (البينه) سره او صحيفې ئې په (مطهره) سره او د دغو صحيفو لارښووني او احكام په (قيمه) سره ښيي چي دا په هيڅ صورت کي د كافرانو مقال نه شي كېدى.

٤- مشرك په پیغمبر او کتاب باور نه لري، هغه ته د دې وینا انتساب اشتباه ده، هغه هیڅکله نه وایي چې که پیغمبر راغی حتماً ایمان پرې راوړو.

هغه (بینه او څرګندونکې) چې له خپل موجوده حالته د کافرانو وتل د هغې په راتلو پوري مربوط او منوط دي؛ د الله تعالی له لوري رالېږل شوی هغه پیغمبر دئ چې (پاکیزه صحیفې) ورسره وي او پر خلکو ئې (لولي). یعني د (پیغمبر د بعثت) فلسفه دا ده چې مخکیني (اهل کتاب) کافر شي او مخکیني (اهل اعتقاد) مشرك شي او دواړه کافر شوې ډلي په خپلو غلطو او کافرانه انګېرنو، باورونو او تګلارو داسي کلك ونښلي چې ترې بېلېدل ئې یوازي له یوې لاري امکان لري او هغه دا چې نوی پیغمبر ورته راشي، نوی کتاب، له تحریف، شرك او خرافاتو پاك کتاب ورته راوړي، له دې پرته نه خپله زړه عقیده پرېږدي او نه له خپل زوړ دود او دستور لاس اخلي او نه په خپلي ټولني کي تبدیلي ته چمتو کېږي. دا مبارك آیتونه موږ ته د دې مهمي خبري درس راکوي چې انقلابونه، فکري او اجتماعي بدلونونه له (لارښود)، (کتاب)، (پیغام)، (د پیغام حامل)، (واضح شعار)، (څرګند آرمان) او له (قائد او قدوې) پرته ممکن نه دي. (بې پیامه او بې لارښوده) انقلابیون هیڅکله نه شي کولی انقلاب راولي او د ټولني حالت بدل کړي.

څو ظریف نقاط د دې مبارکو آیتونو په الفاظو کي توجه جلبوي:

الف: (پیام راوړونکی) د (البینه) په نامه توصیف شوی او دا ښیي چې د ده په شخصیت کي هغه څه په څرګنده توګه لیدل کېږي چې د ده د دعوت او رسالت په حقانیت شهادت ورکوي. نه ئې په شخصیت کي څه ابهام شته او نه ئې په پیغام، تګلاري او عمل کي، د خپل پیغام او دعوت عیني تجسم او په خپلي تیاره او جهل ځپلې ټولني کي د روڼ او ځلانده څراغ په څېر.

ب: د ده صحیفې ئې (مطهره) ګڼلې دي چې ښیي بلنه او پیغام ئې پاکیزه او شفاف دئ، نه د کذب او درواغو شائبه په کي شته، نه د ناحقي او باطلي خبري څه اثر، نه د خرافاتو او غلطو عقیدو کومه بېلګه او نه اخلاقي فساد او ناولو کړنو ته د بلني او ترغیب کومه وینا، بلکي له دې ټولو (پاکیزه)

دي او په ټولني کې د طهارت او پاکيزه ګۍ باعث، د (دين) او (ديانت) له خيرني شوې څېرې ګردونه پاکوي، د خلکو (باورونه) له شرك او خرافاتو تزکيه کوي، د جهل او شرك ځپلي انسان د ضمير صفحې ته ځلا ورکوي او ټولنه له ظلم، ګناه او فساد ژغوري.

## د غيب علم

د جن د سورې د بحث محوري او اساسي موضوع دا ده چي په غيب له الله تعالی پرته هيڅوك نه پوهېږي، نه رسول الله صلی الله عليه و سلم پوهېږي، نه فرشتې او نه جن. د سورې پيل په دې شوی چي رسول الله صلی الله عليه و سلم حتی له دې هم خبر نه شو چي د پېريانو يوې ډلي د ده تلاوت اورېدلی او ايمان ئې راوړی؛ او د سورې په پای کي ويل شوي:

عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ فَلَا يُظۡهِرُ عَلَىٰ غَيۡبِهِۦٓ أَحَدًا ۝٢٦ الجن

په غيب پوه رب چي هيڅوك په خپلو غيبي اسرارو نه خبروي.

دا مطلب په دې سوره کي هم مکرر راغلی او د قرآن په ډېرو نورو آيتونو کي هم په تکرار او تأکيد سره راغلی چي په زمکه او آسمان کي له الله تعالی پرته هيڅوك په غيب نه پوهېږي. په دې اړه تفصيلي بحث د آل عمران د سورې د ١٧٩ آيت په شرح کي راغلی هيله ده هلته رجوع وکړئ.

د قرآن دغه قاطع او صريح آيتونه کافي دي چي د هغو رواياتو په منلو کي ډېر تأني، دقت او احتياط وکړئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم يا بل چا ته علم غيب ثابتوي؛ او هغه مذهب او مسلك لري وغورځوئ چي له الله تعالی پرته بل څوك عالم الغيب او متصرف الامور ګڼي.

څوك چي د مصيبت په وخت کي له الله تعالی پرته د بل نوم واخلي او ووايي: يا فلان! مرستي ته مي راورسېږه، مشکل مي حل کړه، لاس نيوی مي

وکړه، چیغې مې واوره... دی هم مشرك دئ او هغه هم چې له الله تعالی پرته بل ته داسې دعاء کول جائز ګڼي او کوم پیر او شیخ ته د داسې دعاء ګانو اجابت منسوبوي.

ځیني ټګماران چې له دین دام جوړوي، کوم شخص ته په غیب پوهېدا او د دعاءګانو قبلېدا منسوبوي، ځان د همدې شخص مرید او خلیفه ګڼي او هر کرامت چې خپل پیر ته منسوبوي نو هم په دې جعلي کرامت کې ځان شریکوي او هم مالي او مادي ګټې تر لاسه کوي؛ جاهلان په همدې غولوي، قلنګ او شکرانې ترې اخلي، جیب ئې تشوي، کرامت ئې د جاهلانو دوکه کول او د دوی په خیراتونو خپله ګېډه ډکول دي. ما ته داسې پیر، خلیفه، تعویذ لیکونکی، فال لیدونکی راوښیئ چې د خدای لپاره او له شکرانې او بل مالي او مادي غرض پرته د چا لاس نیوی کوي او تعویذ ورکوي!! که د ده دم، دعاء، تعویذ، لاس نیوی ګټه درلودی نو لومړی به ئې خپل مشکلات حل کړي وو، د بل لاس او جیب ته د کتلو په ځای به ئې خپل جیب او ځان په کومې دعاء او تعویذ ډك کړي وو!! څنګه ومنو چې ته او ستا پیر کرامات لرئ په داسې حال کې چې د فقیر او مسکین مرید شکرانو ته مو اړولي، هم مو خوراك د دوی له خیراتونو او شکرانو دئ او هم مو پوښاك؟!!

هغه چې په لوړ غږ ذکر، د ها هو بې معنی او خوشې چیغې، د پیر او شیخ پښو ته رغړېدل، نڅا او ټوپکې، مستي او جذبه، د جذبې په نامه نڅا غورځې پرځې او د قریشو د جاهلیت د دور پېښې کوي؛ سر او سینه په څپېړو وهي او نور مسخره حرکات جائز ګڼي او د ثواب کار ئې بولي؛ دروغجن، منافق او ریاء کار دئ، حرکات ئې د قرآن د لارښوونو خلاف او د رسول الله صلی الله علیه و سلم د سنت خلاف دي؛ قرآن دا چیغې او مستي د مشرکو قریشو بد او شرکي خصلت او د جاهلیت دور دود بولي، عاملین ئې کافر او د الهي عذاب وړ ګڼي او فرمایي:

وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ ٱللَّهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَمَا كَانُوٓاْ أَوْلِيَآءَهُۥٓۚ إِنْ أَوْلِيَآؤُهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾ وَمَا

كَانَ صَلَاتُهُمْ عِندَ ٱلْبَيْتِ إِلَّا مُكَآءً وَتَصْدِيَةً ۚ فَذُوقُواْ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ۝٣٥ الأنفال

او الله به ئې ولې په عذاب نه اخته کوي، په داسي حال کې چي له مسجد الحرام (د خلکو) مخنيوی کوي؛ او دوی ئې (حقيقي) متوليان نه دي، حقيقي متوليان خو ئې يوازي متقيان دي، خو د دوی ډېری نه پوهېږي. ۳۵- او د بيت الله خوا ته د دوی لمانځنه (او عبادت) له شپېلکي او چکچکو پرته بل څه نه وي، نو په سبب د هغه کفر چي تاسو کولو دا عذاب وڅکئ.

دوی د الهي عذاب وړ دي، دا ځکه چي په کفر او د خدای پالني خلاف په خپلي دښمنۍ کي هغه پړاو ته رسېدلي چي له مسجد الحرام د خلکو مخنيوی کوي، دا په داسي حال کي چي ځان د مسجد الحرام متوليان گڼي، د دې پر ځای چي خلك د مسجد الحرام په لوري راتلو او د الله تعالی عبادت ته تشويق کړي، په دې لار کي خنډونه راولاړوي، دوی په خپله او په خپلو بدو عملونو سره د الله تعالی لوري ته د خلکو د راتلو په وړاندي خنډ او مانع دي، د مسجد الحرام حقيقي متولي خو داسي نه وي، دوی ئې حقيقي متوليان نه دي، دا سپېڅلې دنده چي کومي ځانگړتياوي غواړي په دوی کي نشته، حقيقي متوليان خو ئې متقيان دي، دوی له تقوی محروم او د گناهونو په گنده ډنډ کي تر ستوني غرق، دين پلوري، جاهل او ناپوه دي، په دې هم نه پوهېږي چي د بيت الله متولي بايد څنگه وي!! هغه څوك څنگه ځان د مسجد الحرام متولي گڼي چي د بيت الله خوا ته ئې عبادت له شپېلکيو او چکچکو پرته بل څه نه وي؟!

له مسجد الحرام د دوی د ممانعت دوه صورتونه وو: يو دا چي خپل مخالفين به ئې نه ورته راپرېښودل، له چا سره چي به د دوی دښمني راولاړه شوه هغوی به ئې مسجد الحرام ته له ننوتلو منع کول او دوهم دا چي د دوی عملونه داسي وو چي د دين په خلاف به د خلکو د کرکې او نفرت باعث وو، کله چي د دين له حقيقت بې خبره خلك، د دين مدعيان په گناهونو، فسادونو، دين پلورني، د مفسدينو او ظالمانانو ملگرتيا، او په بډو او رشوت کي غرق گوري؛ له دين ئې زړه تور شي او گمان کوي چي د دې دين اصلي

ماهیت همغه دئ چي موږ ئې د دغو خلکو په کړنو کې ګورو، که په دې دین کې د اصلاح قوت وی نو خپل پلویان به ئې اصلاح کړي وو، د دوی اخلاقي او عملي وضع به دومره کرکجنه نه وه، نو څکه دې ته زړه نه ښه کوي چي د دغه دین خوا ته راشي.

دا آیت د واقعي خدای پال بنده او دوکه شوي دیندار او د الله د دین د واقعي او صادق خادم او دروغجن او ټګمار خادم د پېژندو لپاره یو دقیق محك او معیار زموږ مخي ته ږدي، د الله تعالی مخلص بنده هغه دئ چي:

- د شعائر الله، دیني مقدساتو او خدای پالونکو درناوی کوي.
- د هغه چا مخي ته نه خنډ کېږي او دښمني ورسره نه کوي چي د الله تعالی د عبادت تکل کوي، نه یوازي مخي ته ئې نه خنډ کېږي بلکې مرسته ئې کوي.
- د عبادت په وخت کې به د ده په څېرې، الفاظو او حرکاتو کې په څرګنده توګه احساس کړې چي په الله تعالی ایمان لري، له هغه وېرېږي، هغه ته طمع لري.
- الفاظ ئې د طمعي الفاظ او حرکات ئې د الله تعالی په عظمت له اعتراف راولاړ شوي حرکات دي، د یوه هیبت وهلي، خاضع، خاشع او محتاج بنده په توګه د ستر ټولواك په وړاندي ولاړ او په زاریو زاریو سره دعاء کوي.

خو هغه چي دوکه شوی دیندار یا د دیني مقدساتو ټګمار خادم دئ داسي به ئې ګورې چي: نه ئې په څېرې کې له الله تعالی د وېري او هیبت نښي او آثار تر سترګو کېږي، نه په الفاظو کې او نه په حرکاتو کې.

- د عبادت په وخت او مسجد او معبد کې به ئې په لهو و لعب بوخت وومې، همغسي لکه چي قریشو به د طواف په وخت او د بیت الله خوا ته شپېلکې کول او چکچکې به ئې وهلې او همغسي لکه چي نن څیني خلك د ذکر په حلقو کې ډول او دبلې ته غورځي، پرځي، څنې اچوي، قوالي سندري وایي، د هو هو چیغي وهي او د جذبې په نامه مستي کوي.
- له خدای پالونکو سره به دښمني کوي، کافر ته به پر مؤمن ترجیح ورکوي، له خدای او دین منکر او باغي انسان سره به دوستي کوي او د هغه چا په ضد به ئې مرسته کوي چي دیندار دئ او د الله په عبادت او لمانځني

بوخت.

د دوی په مقابل کې د دیانت او دیني مشرتابه دروغجن مدعي هغه دئ چې:

- ديني او مذهبي منصب په میراث ورته پاته شوی، د نېك پلار بد ځای ناستی، له هغو ځانګړتیاوو بې برخي چي د مذهبي قیادت او مشرتابه لپاره ضروري دي.
- د دې پر ځای چي په قول او عمل سره خلك د دین لوري ته تشویق کړي په خپله د دین په وړاندي خنډ وي، واقعي دین ته د خلکو د راتلو مانع ګرځي.
- د واکمنو د یوه عادي شخص په وړاندي به داسي سر ټیټي او ذلیل ولاړ وي لکه غلام د بادار په وړاندي. مګر خبر نه یئ چي ستاسو د پیرانو پیران چي انګرېزانو له عراق او هند راوستل، د نادري کورنۍ د پاچایانو او شهزاده ګانو لاسونه به ئې ښکلول؟!

## هیڅ مخلوق په غیب نه پوهېږي

له الله تعالی پرته بل چا ته په غیب پوهېدا (د غیب علم) منسوبول؛ هم له قرآن انکار دئ او هم شرك؛ دا ځکه چي په غیب پوهېدا د الله تعالی داسي مختص صفت دئ چي له ده پرته ئې هیڅ مخلوق نه لري؛ الله تعالی هره ګناه بخښي؛ خو شرك نه بخښي.

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴿١١٦﴾ النساء

یقیناً چي الله دا نه بخښي چي له ده سره شرك وشي او له دې راکوز هر څه هغه چا ته بخښي چي وئې غواړي او چا چي له الله سره شرك وکړ؛ نو یقیناً چي په ژور ضلالت سره بې لاري شوی.

الله تعالی شرك نه بخښي، له شرك رالاندي ګناه بخښي خو هغه چا ته چي دی ئې د دې بخښني وړ وګڼي؛ او شرك تر ټولو ستره ګمراهي ده.

شرك یعني له الله تعالی سره بل په دعاء او عبادت کې شریکول: د بل په

وړاندې سر ټیټول، پښو ته ئې لوېدل، په دعاء کې له الله تعالی پرته له بل مرسته غوښتل او الله تعالی ته مختص او ځانګړي صفات بل ته منسوبول؛ قرآن موږ ته هغه صفات ښودلي چې له الله تعالی پرته ئې هیڅ مخلوق نه لري؛ لکه خلقت او پیدایښ، په غیب پوهېدا، تلپاته، ژوند بخښونکی، ټولواك، ... هغه چې دا مختص الهي صفات کوم مخلوق منسوب کړي؛ مشرك دئ.

د مؤمن تعهد او وعده له الله تعالی سره دا ده چې ووايي: (إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ): خاص ستا عبادت کوو او یوازي له تا مرسته غواړو. دا هغه ژمنه ده چې مؤمن انسان ئې هره ورځ په لسګونو ځله له الله تعالی سره کوي؛ هغه هم په لمانځه کې او په داسي حال کې چې د خپل رب په وړاندې لاس تړلی ولاړ وي؛ څوك چې هره ورځ په مکرره توګه دا ژمنه کوي او بیا په عمل کې د خپلو ژمنو خلاف د بل پښو ته لوېدل او له بل درشل د مرستي هیله درلودل جائز ګڼي؛ نه یوازي مشرك دئ؛ بلکي سخت جاهل، وعده خلاف او منافق دئ.

همدا راز قرآن فرمايي:

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفْتَرَىٰٓ إِثْمًا عَظِيمًا ﴿٤٨﴾ النساء

یقیناً چې الله شرك نه بخښي او له شرك پرته نور څه هر هغه چا ته بخښي چې د ده خوښه وي او څوك چې له الله سره شرك وکړي نو د ستري ګناه افتراء ئې کړې.

په دې مبارك آیت کې د مؤمنانو لپاره ډېر ستر زېری دئ او په دې کې د الله یوه ډېره ستره او عظیمه پېرزوینه بیان شوې، مؤمنانو ته زېری ورکړی شوی چې رحمن خدای له شرك پرته هره ګناه بخښي، که کبیره وي او که صغیره، که ئې توبه کړې وي او که نه، یوازي کفر او شرك له توبې پرته نه بخښي، نور نو صغایر په نېکو عملونو محوه کوي او کبائر هم په توبې سره او هم ئې له توبې پرته په خپل فضل سره بخښي. د (لمن یشاء) له فقرې دا مطلب مه اخلئ چې ښايي تاسو به په هغه زمره کې رانشئ چې الله تعالی ئې د بخښني او مغفرت وړ ګڼي. الله تعالی په دې اړه خپل سنت او مشیت

 څرګند کړی، په ایمان، توبه، هجرت، جهاد، شهادت، انفاق في سبیل الله او نېك عمل سره ستا ګناهونه بخښي، دا د الله وعده ده.

څوك چي الله تعالی ته مختص صفات؛ کوم مخلوق ته منسوب کړي؛ هغه مشرك دئ او ځای ئې جهنم؛ لکه په غیب پوهېدا؛ د قرآن په لسګونو آیتونه وایي چي په زمکه او آسمان کي له الله تعالی پرته هیڅوك په غیب نه پوهېږي؛ هیڅوك نه پوهېږي چي سبا به له ده سره څه کېږي او له بل سره څه، کله او چېري به مري، د زمان او مکان له حجابونو آخوا نه څه ویني، نه څه اوري او نه د راتلونکو پېښو په څرنګوالي پوهېدی شي. د دغو محتملو پېښو په اړه ئې هره وړاندوینه حدس، ګمان او خیال دئ نه علم او یقین.

څوك چي له الله تعالی پرته بل چا ته په غیب پوهېدا منسوب کړي؛ که دا فرشته، پېری یا انسان وي؛ که په انسانانو کي کوم پیغمبر، نجومي، فال لیدونکی، پیر، ملنګ او شیخ وي؛ او چا چي دا انتساب تصدیق کړ؛ په حقیقت کي ئې د قرآن له وینا انکار کړی او پرېږ کافر شوی؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: چا چي د نجومي خبره تصدیق کړه؛ په هغه قرآن کافر شوی چي پر محمد (علیه السلام) نازل شوی. دا د قرآن له لسګونو آیتونو څیني دي چي له الله تعالی پرته له بل هر چا په غیب پوهېدا نفي کوي.

قرآن رسول الله صلی الله علیه و سلم ته امر کوي چي خلکو ته ووایي: نه په غیب پوهېږم او نه ځان ته د ګټي او ضرر توان راسره شته:

قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي نَفۡعٗا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ وَلَوۡ كُنتُ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ لَٱسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ ٱلۡخَيۡرِ وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُۚ إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ١٨٨ الأعراف

ووایه: نه د ځان لپاره د ګټي (رسولو) واك لرم او نه د ضرر او تاوان (دفع کولو)، مګر هغه څه چي الله ئې وغواړي او که په غیب پوهېدی نو ډېر خیر او ښېګڼه به مي تر لاسه کړې وه او تاوان به نه رارسېدو، زه خو مؤمنانو ته له یوه خبرداری ورکوونکي او زېری ورکونکي پرته بل څه نه یم.

په دې مبارك آیت سره رسول الله صلی الله علیه و سلم د څو نورو خبرو

په اعلان مأمور شوی:

- خلکو ته دا خبره په واضح الفاظو اعلان کړه چې زه نه د ځان لپاره د ګټې رسولو څه واك لرم او نه د ضرر او تاوان دفع کولو، د دې واك په بشپړه توګه له الله تعالی سره دئ، که ځان ته کومه ګټه رسولی شم یا کوم ضرر دفع کولی شم نو دا همغه دي چې الله تعالی غوښتي، د دې پرېکړه هم د الله تعالی له لوري کېږي.
- زه له غیب خبر نه یم، که په غیب پوهېدی نو تل او په هر کار کې به مې خیر او ښېګڼه په برخه کېده او هیڅکله به کوم تاوان نه رارسېدو. څوك چې په غیب پوهېږي په هر کار کې به ګټه کوي او د تاوان له هر مورد به خوندي پاته کېږي، دا ځکه چې هغه پوهېږي څه ورته ګټه لري او څه ورته تاوان، د ګټې ځای ته ځان رسوي او د تاوان له ځایه ځان ساتي، خو تاسو وینئ چې زه د نورو انسانانو په څېر له کړاوونو، ستونزو، بیماریو او ناخوالو سره مخ کېږم، دا ښیي چې زه له غیب خبر نه یم. ګورئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ نه یوازې دا خبره اعلانوي چې په غیب نه پوهېږي بلکې دلائل ئې هم وړاندې کوي.
- زه فقط د الله تعالی له لوري یو استازی یم چې مأموریت مې نېکانو ته زېری او بدانو ته خبرداری ورکول دي.

په دې آیت کې هم ویل شوي:

قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ إِنِّي مَلَكٌۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۚ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ﴿٥٠﴾ الأنعام

وواېه: زه نه درته وایم چې د الله خزانې له ما سره دي او نه په غیب پوهېږم او نه دا درته وایم چې زه فرشته یم، زه یوازې د هغه څه متابعت کوم چې راته وحي کېږي. وواېه: آیا ړوند او سترګور سره برابر دي؟ آیا تفکر نه کوئ؟

په دې مبارك آیت سره پیغمبر علیه السلام ته څو لارښوونې کېږي:

- خلکو ته وواېه: د الله تعالی د خزانو واك له ما سره نه دئ، تاسو ته نه

وایم چې که له ما سره ملګرتیا وکړئ، ټول حاجتونه مو پوره کوم او ټولې غوښتنې مو تر سره کوم، په دې هیله زما ملګرتیا مه کوئ، له ما دا انتظار مه لرئ، الله تعالی د خپلو خزانو ټولواک دئ، دا پرېکړه هغه کوي چې چا ته څه ورکړي، د هغو جاهلانو په خبر مه کېږئ چې ګمان کوي پیغمبران او اولیاء الله باید داسي وي چې د دوی په یوې اشارې سره د ډبرو غرونه په سرو زرو بدلېدی شي، په یوې دعاء سره ئې د زمکې لاندې خزانې بهر راوځي، هر چا ته هر څه ورکولی شي، حاجتونه ئې پوره کولی شي، ګورئ چې پیغمبران علیهم السلام په هغو ټګمارو سیاسي مشرانو قیاس نه کړئ چې د خلکو د غولولو لپاره دروغجنې وعدې کوي، شنه باغونه ورښیي، د سوکالې او ښه ژوند دروغجنې ژمنې ورسره کوي، زه په واضح الفاظو تاسو ته وایم چې د الله تعالی په خزانو کې هیڅ واك او اختیار نه لرم.

- دوی ته ووایه: زه په غیب نه پوهېږم، له ما دا انتظار مه لرئ چې درته ووایم: سبا به څه کېږي، له ما او له تاسو سره به الله تعالی څه کوي، پیغمبران علیهم السلام د هغو غولوونکو مذهبي مشرانو په څېر مه ګڼئ چې خلك په دې دوکه کوي چې په غیب پوه دي، د دوی له مقدراتو خبر دي، پوهېږي چې کوم مصیبت ورته انتظار کوي او څنګه ترې ژغورل کېږي، دوی کولی شي په دم او تعویذ سره د دې مصیبتونو مخه ونیسي، په دې شرط چې په شکرانو سره د دوی جیب ورډك او رضاء تر لاسه کړي، پیغمبران په غیب د پوهېدو دعوی نه کوي، دا یوازې ټګماران دي چې د جاهلانو په وړاندې په غیب د پوهېدو ادعاء کوي.
- ورته ووایه: زه تاسو ته نه وایم چې فرشته یم، په واضح الفاظو درته وایم چې زه انسان یم، له نورو انسانانو سره مې توپیر یوازې په دې کې دئ چې د الله تعالی له لوري راته وحي شوې او زه د الهي وحي متابعت کوم.
- څوك چې د الهي وحي په رڼا کې خوځي، د هغه چا په پرتله چې له دې رڼا محروم دئ؛ داسي دئ لکه سترګه ور د ړوند په پرتله، د عقل او فکر خاوندان د دوی تر منځ دا ژور توپیر درك کولی شي.

دې ته مو باید پام وي چې په وحي سره له غیبي امورو اطلاع علم غیب نه دئ، په یوه آیت کې او یو په بل پسي (په غیب نه پوهېدل) او (د وحي

متابعت) راوړل دا مطلب افاده کوي چي که پيغمبر عليه السلام د وحي په اساس له غيب او غيبي امورو خبري کوي نو دا د ده علم غيب نه، بلکي د الله له لوري وحي ده، داسي نه چي د وحي له لاري د غيبي امورو په اړه څه ويل، د پيغمبر علم غيب وګڼل شي.

وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَآ إِلَّا هُوَۚ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۚ وَمَا تَسۡقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعۡلَمُهَا وَلَا حَبَّةٖ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡأَرۡضِ وَلَا رَطۡبٖ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ﴿٥٩﴾ الأنعام

او له ده (الله) سره د غيب (د خزانو) کلياني دي چي له ده پرته هيڅوك پرې نه پوهېږي، په وچه او بحر کي چي څه شته په ټولو پوهېږي، هيڅ پاڼه نه راپرېوځي مګر دی پرې پوهېږي او نه د زمکي په تيارو کي کومه دانه او نه کوم لوند او وچ داسي څه شته چي په څرګند کتاب کي دي نه وي.

په پورتنيو څو آيتونو کي د شرك جرړي قطع شوې، د مشرکانو ټول هغه شرکي عقائد رد شوي چي دوی ئې د خپلو معبودانو، مرشد، پير او امام په اړه لري، هغوی ته علم غيب ثابتوي، د امورو متصرف ئې ګڼي، د خير او شر واکمن ئې بولي، ګمان کوي چي خلك وهلی او ښويولی شي، ګټه او تاوان رسولی شي، ستونزي او مشکلات حلولی شي، حاجتونه مو تر سره کولی شي، خو تاسو وليدل چي په پورتنيو آيتونو کي پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چي په ټول صراحت او وضاحت سره اعلان وکړه چي زه په غيب نه پوهېږم، د الهي خزانو واکمن نه يم، تاسو له ما د عذاب مطالبه کوئ خو دا زما په واك کي نه دئ، که زما په واك کي وی ډېر د مخه به زما او ستاسو تر منځ خبره پای ته رسېدلې وه.

د قرآن ګڼ شمېر آيتونو علم غيب الله تعالی ته مختص کړی او د زمکي او آسمان له نورو ټولو موجوداتو ئې نفي کړی، له ملائکو، له انسانانو، مړو او ژونديو او له هر څه او هر چا ئې علم غيب نفي کړی، په دې اړه د دې آيتونو الفاظ دومره واضح او څرګند دي چي د هيڅ شك او شبهې مجال نه پرېږدي. د دې آيتونو په رڼا کي په پوره ډاډ او قاطعيت سره ويلی شو: هر چا چي له الله تعالی پرته د بل چا لپاره د علم غيب ادعاء وکړه او دا ئې

وویل چي له الله پرته بل څوك هم علم غیب درلودی شي، هغه په حقیقت کي د الله تعالی کتاب تکذیب کړی.

ما ته وواياست: پداسي حال کي چي په هر څه پوه خدای چي عالم الغیب والشهاده دئ، په تأکید او مکرره توګه د قرآنکریم په متعددو آیتونو کي په څرګندو الفاظو سره وایي چي له الله پرته هیڅوك علم غیب نه لري، له ده پرته نه په آسمان کي څوك علم غیب لري او نه په زمکه کي، الله خپل پیغمبر ته امر کوي چي د خلکو ابهام او تشویش رفع کړي او دا ورته اعلان کړي چي علم غیب نه لري، هغه یوازي پیغمبر دئ، هغه څه وایي چي ورته وحي شوي. اوس له دې صراحت سره سره که څوك راشي او د الله او د هغه د رسول د قول مغایره او مخالفه ادعاء وکړي او ووایي چي علم غیب لري او یا دا هڅه وکړي چي د بل چا لپاره علم غیب ثابت کړي، آیا دا ادعاء دروغجنه او بې بنسټه نه ده؟ آیا دا د الله او د ده د رسول د قول د تکذیب هڅه نه ده؟ آیا دا ممکنه ده چي په خدای ایمان لرونکی موحد انسان؛ چي په قرآن ایمان لري، خپل رب پېژني او د انسان د استعدادونو له حدودو واقف دئ؛ له الله تعالی سره په علم غیب کي بل څوك شریك کړي؟ واقعیت دا دئ چي فقط هغه کسان د داسي ادعاء جرأت کوي چي غواړي خلك د الله تعالی د بندګۍ پر ځای د خپل ځان او یا د ځان په څېر د بل انسان عبادت ته راوبلي، دا ډله بې علمه او جاهلو خلکو ته وایي: راشئ د دې ښاغلي لاس او لمن ونیسئ، د ده په درشل کي سرونه ټیټ کړئ، د دې لپاره چي د غیب له اسرارو مو خبر کړي، له هغه زیان مو وژغوري چي تاسو ترې بې خبر یاست خو هغه پرې پوه دئ، هغه کولی شي له تاسو د داسي خطرونو په وړاندي دفاع وکړي، هغه ستاسي په حال خبر دئ، په دې پوهیږي چي تاسی له کوم برخلیك سره مخ کېدونکي یاستئ، که تاسو د هغه لمن ونیسئ، دربار ته ئې پناه ورورئ، نو برخلیك به مو بدل کړي، تقدیر به داسي واړوي چي ستاسي په ګټه به وي، هغه له هر ځای ستاسي کوکاري او چیغي اورېدی شي او ستاسو مرستي ته رسېدی شي....دا ټولي ادعاءګاني دروغجني او غولوونکي او دا خیالات او باورونه بې اساسه او په شرك ککړ دي او د اسلام له اصولو او اساساتو سره تناقض لري. له الله تعالی پرته هیڅوك علم غیب نه لري،

هیڅوك د الله له ارادې پرته د هیڅ شي وس نه لري، له الله پرته هیڅ مرسته کوونکی، مغیث او دعاء قبلوونکی نشته، د هیڅا له وسه نه ده پوره چې تقدیر بدل کړي، چا ته ګټه او زیان ورسوي، هر څه د الله تعالی په واك او اختیار کې دي.

مَّا كَانَ ٱللَّهُ لِيَذَرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَىٰ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ ٱلْخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ ۗ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى ٱلْغَيْبِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَجْتَبِى مِن رُّسُلِهِۦ مَن يَشَآءُ ۖ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ۚ وَإِن تُؤْمِنُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٩﴾ آل عمران

الله تعالی داسې نه دئ چې مؤمنان به د پاك او ناپاك له بېلولو پرته همداسې ستاسو په موجوده حالت کې پرېږدي او الله داسې هم نه دئ چې تاسې له غیبه خبر کړي، لکن الله له پیغمبرانو چې څوك وغواړي هغه غوره کوي، نو پر الله او پیغمبرانو ئې ایمان راوړئ؛ که مو ایمان راوړ او تقوی مو غوره کړه نو ستاسې لپاره ستر اجر دئ.

دا یو ثابت او دائمي الهي سنت دئ؛ د حوادثو په لوړو ژورو کې به پاك او ناپاك سره بېلوي؛ خو د پاك او ناپاك د بېلولو په اړه د الله سنت دا نه دئ چې څوك له غیب خبر کړي او ورته ووایي چې څوك پاك او څوك ناپاك دي؛ په غیب له الله پرته هیڅوك نه پوهیږي؛ د دوی د بېلولو الهي طریقه دا ده چې پیغمبر رالېږي، ځیني پر پیغمبر ایمان راوړي، پاك شي او له ناپاکانو رابېل شي او ځیني نور په خپلې مخکینۍ ناپاکۍ کې پاته شي. د پیغمبر بعثت د طیب او خبیث او پاك او ناپاك تر منځ د توپیر او بېلتون وسیله ده؛ او همدا الهي سنت دئ.

که څه هم د دې آیت مطلب ډېر څرګند دئ خو متأسفانه د کږو زړونو خاوندانو له دې آیت داسې غلط تعبیرونه کړي چې د دوی کږې عقیدې او غلط مذهب پرې توجیه کړي، دوی د دې آیت د دغې برخې "وَلَكِنَّ اللَّهَ يَجْتَبِي مِنْ رُسُلِهِ مَنْ يَشَاءُ" په اړه وایي چې دلته ځیني پیغمبران له عدم علم غیب مستثنی شوي، په دې استثناء استدلال کوي او پیغمبرانو علیهم

السلام ته د علم غیب ثابتولو هڅه کوي؛ ځیني ئې وايي چې دغو پیغمبرانو ته بشپړ علم غیب ورکړی شوی، ځیني نور بیا وايي چې نسبي علم غیب ئې په برخه شوی!! د دوی دا غلط تعبیر له څو اشتباهاتو راولاړ شوی:

• د دې آیت د بحث اصلي موضوع ته ئې پام نه دئ کړی، د آیت له وروستۍ برخي داسي انتباه اخلي چې د همدې آیت له لومړنۍ برخي سره هیڅ اړخ نه لګوي، د آیت پیل داسي دئ:

مَا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتَّى يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنْ الطَّيِّبِ:

الله تعالی داسي نه دئ چې مؤمنان به د پاك او ناپاك له بېلولو پرته همداسي ستاسو په موجوده حالت کې مختلط پرېږدي.

یعني د الله سنت دا نه دئ چې مؤمنان د ښه او بد، پاك او ناپاك تر منځ له توپیر، تمییز او بېلتون پرته همداسي ګډ او مختلط پرېږدي. حتماً به داسي حالت راولي چې دا دواړه ډلي سره بېلي شي، بیا فرمايي:

وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ: او الله داسي نه دئ چې تاسي پر غیب خبر کړي.

یعني د ښه او بد، پاك او ناپاك تر منځ د تفکیك او بېلتون طریقه دا نه ده چې تاسي له غیبه خبر کړي او د علم غیب له لاري په دې پوه شئ او دا درك کړئ چې څوك خبیث او څوك طیب دئ. په دې پسي متصل فرمايي:

وَلَكِنَّ اللهَ يَجْتَبِي مِنْ رُسُلِهِ مَنْ يَشَاءُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَإِنْ تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ: خو الله تعالی له خپلو پیغمبرانو چې څوك وغواړي هغه غوره کوي؛ نو په الله او پیغمبرانو ئې ایمان راوړئ، که ایمان مو راوړ او تقوی مو وکړه نو ستاسي لپاره لوی اجر دئ.

یعني د پاك او ناپاك، خالص او ناخالص، مخلص او نامخلص تر منځ تفکیك او بېلتون د پیغمبرانو د غوره کولو او خلکو ته د هغوی د لېږلو له لاري تر سره کېږي؛ د پیغمبرانو علیهم السلام په بعثت سره خلك په دوو ډلو وېشل کېږي او پاك له ناپاك بېلېږي. تاسو پر الله او رسولانو په ایمان، د هغوی په اطاعت او په تقوی سره د پاکانو په ډله کې شاملېږئ او لوی اجر مو په برخه کېږي.

په دې آیت کې به یوازې هغه چا ته څه ابهام او اغماض ښکاري چې د رنځور زړه خاوند وي او هغه ته له کږې زاويې گوري. عجيبه ده! دا کسان د دې پرځای چې دا آیت د خپلو کږو او باطلو افکارو د تصحیح او سمون لپاره خپل لارښود ونيسي او ووايي چې الله هيچا ته علم غیب نه دئ ورکړی، په خلاف ئې تصور کوي چې په دې آیت کې د يو شمېر پيغمبرانو عليهم السلام لپاره د علم غيب د اثبات دليل تر سترگو کېږي!! دوی متوجه نه دي چې په دې ډول تعبير سره هر مخاطب ته دا انتباه ورکوي چې گواکې په قرآن کې تناقض شته، ځيني آيتونه ئې په صراحت او قاطعيت سره اعلانوي چې له الله تعالی پرته هيڅوك علم غيب نه لري؛ خو په ځينو نورو آيتونو کې داسې نښانې ليدل کېږي چې مخاطب ته دا انتباه القاء کوي چې له الله تعالی علاوه نور هم علم غيب لرلی شي!! حقيقت دا دئ چې الهي کلام له دې عيب پاك او منزه دئ، نه يوازې هيڅ تناقض په کې نشته بلکې آيتونه ئې ټول په خپل منځ کې يو د بل مؤيد، همغږي او يو د بل شرح او تفسير. هر څوك چې له کوم آيت داسې تعبير او انتباه واخلي چې له بل آيت سره تناقض او ټکر ولري هغه غلط شوی دئ او په قرآن کې ئې د تناقض رامنځته کولو غلطي کړې ده.

په قرآن کې د هغو آيتونو شمېر ډېر زيات دئ چې په قاطع او پرېکنده الفاظو سره له ماسوی الله علم غيب نفي کوي او وايي چې له الله پرته نه په زمکه کې څوك په غيب پوهېږي او نه په آسمان کې، که دا ملائکه وي يا پېری يا انسان، که عادي انسان وي او که کوم جليل القدر پيغمبر. د قرآن په گڼ شمېر قصو کې هم د دغې خبرې د اثبات لپاره ببلگې وړاندې شوې. چې څو مثالونه ئې دا دي:

- ابراهيم عليه السلام ته څو ملائکې د زلميانو په بڼه کې راغلې، هغه ونه پېژندې، د مېلمنو گمان ئې پرې وکړ او وريته شوې غوښه ئې د دوی مخې ته کښېښوده. کله چې هغوی ځان معرفي کړ په دې نه پوهېدو چې د دوی مأموريت څه دئ، پوښتنه ئې ترې وکړه، کله چې هغوی ورته وويل د لوط عليه السلام کلی ورانوو، پرېشان شو، په دې نه پوهېدو چې له لوط عليه السلام سره به څه کېږي، کله چې ملائکو د زوی زېری ورکړ نو په دې خبره نه د ده باور راتلو او نه د ده د مېرمنې، ملائکو ورته وويل: آيا د خپل رب

په وعده کې شك کوئ؟!

• دغه ملائکې لوط علیه السلام ته ورغلې، هغه هم ونه پېژندې، د مېلمنو گمان ئې پرې وکړ، د دوی په راتلو سخت پرېشان شو، په دې نه پوهېدو چې دا ملائکې د ده مرستې ته راغلې دي، هلته پوه شو چې ملائکو په خپله ځان معرفي کړ.

• په همدغې د آل عمران سورې کې مو ولیدل چې زکریا علیه السلام له دې خبر نه وو چې د ده تر روزنې لاندې مریم ته بې موسمه مېوې راځې، دا هیله ئې نه وه چې په دې زوړوالي کې به الله ورته اولاد ورکړي، خو د دغې صحنې لیدو ئې په زړه کې د اولاد طمع راوټوکوله، کله چې ملائکو د زوی زېری ورکړ؛ نه پوهېدو چې څنگه او کله به ئې زوی په برخه کېږي، له الله ئې د دې نښه غوښته.

• په دغې سورې کې مو ولیدل چې عیسی علیه السلام نه پوهېدو چې د ده په منونکو کې به څوك د الله په لار کې د ده ملگرتیا کوي، له هغوی پوښتنه کوي: په تاسو کې مي څوك ملگرتیا ته چمتو دئ؛ من انصاري الی الله.

دې ته ورته د متعددو نورو قصو له لارې هم دا حقیقت په گوته کوي چې پیغمبران علیهم السلام علم غیب نه لري. عجیبه ده چې څوك دي دا ټول آیتونه له پامه وغورځوي او له دې مبارك آیت دي داسې تعبیر وړاندې کړي چې له ټولو سره تصادم کوي!!

قرآن د نوح علیه السلام وینا زموږ مخې ته داسې ږدي:

وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ إِنِّي مَلَكٞ وَلَآ أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزۡدَرِيٓ أَعۡيُنُكُمۡ لَن يُؤۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ خَيۡرًاۖ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا فِيٓ أَنفُسِهِمۡ إِنِّيٓ إِذٗا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٣١ هود

او نه دا درته وایم چې د الله خزانې راسره دي او نه په غیب پوهېږم او نه د هغو خلکو په اړه چې تاسو په سپکه سترگه ورته گورئ دا وایم چې الله به هیڅ خیر ورپه برخه نه کړي، الله په هغه څه ډېر ښه پوه دئ چې د دوی په سینو کې دي، (که دا خبرې وکړم نو) په دې صورت کې به زه له ظالمانو وم.

قُل لَّا يَعۡلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلۡغَيۡبَ إِلَّا ٱللَّهُۚ وَمَا يَشۡعُرُونَ أَيَّانَ يُبۡعَثُونَ ﴿٦٥﴾ النمل

ووایه: له الله تعالی پرته د آسمانونو او زمکي هیڅوك په غیب نه پوهېږي او په دې هم نه پوهېږي چي څه وخت به بیا راژوندي کړی شي.

دا آیت په پرېکنده توګه وایي چي په آسمانونو او زمکي کي له الله تعالی پرته هیڅوك په غیب نه پوهېږي، که دا فرشتې دي، که انسانان دي، که پېریان، که پیغمبران دي او که اولیاء الله، که رمالان دي یا نجومیان. څوك چي له الله تعالی پرته بل چا ته په غیب پوهېدا منسوب کړي نه یوازي د قرآن له دې صریح او پرېکنده آیت سره ئې مخالفت کړی او دروغ ئې ویلي بلکي د قرآن ګڼ شمېر هغه آیتونه ئې تکذیب کړي چي همدا خبره کوي. غیب هغه څه دئ چي د انسان له سترګو او حواسو پټ وي، د ده او هغه څه تر منځ یا کوم حجاب حائل وي او یا زمان، انسان نه په دې پوهېږي چي د دېوال تر شا څه تېرېږي او نه په دې چي یوه شېبه وروسته به څه کېږي. دا څرګند آیت د داسي الهي معیار په توګه په پام کي ولرئ چي د غیب په اړه د سمي او غلطي رأیي او صحیح او غلط مذهب او مسلك په پېژندو کي ستاسو لپاره وروستی معیار وي، مه هغه مذهب او مسلك منئ چي د دې آیت خلاف خبره کوي او له الله تعالی پر ته بل چا ته په غیب پوهېدا منسوبوي او مه هغه روایت منئ چي د قرآن له دغه آیت سره تعارض ولري.

قرآن د پېریانو په اړه فرمایي چي په غیب نه پوهېږي:

فَلَمَّا قَضَيۡنَا عَلَيۡهِ ٱلۡمَوۡتَ مَا دَلَّهُمۡ عَلَىٰ مَوۡتِهِۦٓ إِلَّا دَآبَّةُ ٱلۡأَرۡضِ تَأۡكُلُ مِنسَأَتَهُۥۖ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ ٱلۡجِنُّ أَن لَّوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٱلۡغَيۡبَ مَا لَبِثُواْ فِي ٱلۡعَذَابِ ٱلۡمُهِينِ ﴿١٤﴾ سبإ

نو کله چي موږ د ده د مړیني پرېکړه وکړه د زمکي له یوې خزندې پرته چي د ده عصاء ئې خوړله بل څه دوی د هغه په مړیني پوه نه کړل، نو کله چي راپرېوت پېریان پوه شول چي که په غیب پوهېدی نو په سپکوونکي عذاب کي به نه ځنډېدل.

کله چې الله تعالی د ده د مړیني پرېکړه وکړه نو په داسي حال کې روح ترې قبض شوه چې پر خپلي عصاء ئې تکیه کړې وه، لیدونکو داسي انګېرله چې دی ژوندی دئ، تر هغه همداسي پاته وو چې د زمکي یوې خزندې د ده عصاء داسي وخوړله چې ماته شي او دی راپرېوځي، بل څه دوی د هغه په مړیني پوه نه کړل، پېریان له دې وروسته پوه شول چې هغه وفات شوی، ویل ئې که موږ په غیب پوهېدی نو تر ننه به په دې سپکوونکي عذاب کي نه پاتي کېدلو.

دلته باید څو خبري په پام کې ولرو:

• دا د سلیمان علیه السلام معجزه وه چې د پېریانو یوه ډله ورته مسخر او تسلیم وه او د ده د خوښي کارونه به ئې ورته کول، نه دا معجزه له ده پرته بل پیغمبر ته ورکړی شوې او نه له ده پرته بل چا ته پېریان مسخر شوي، ځیني ټګماران د خلکو د غولولو لپاره وایي چې پېریان ئې مسخر کړي او د غیب خبري ورته ښیي!! دوی د خلکو د غولولو لپاره وایي: موږ د هغه څه په مرسته پېریان مسخر کړي چې سلیمان علیه السلام پرې مسخر کړي ول، د پېریانو له لاري په غیبي خبرو پوهېږو، کولی شو خلکو ته ووایو چې په راتلونکي کې به له کوم برخلیك سره مخامخ شي!! هر څوك چې دا ادعاء کوي یو ټګمار او دوکه مار دئ او د قرآن د وینا خلاف خبره کوي، قرآن دلته د پېریانو له قوله وایي: که موږ پر غیب پوهېدلی نو تر ننه به په سپکوونکي عذاب کي نه پاته کېدو، دوی له دې هم عاجز ول چې د سلیمان علیه السلام له وفات خبر شي، له نورو غیبي امورو به څنګه خبرېږي؟!!

عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ فَلَا يُظۡهِرُ عَلَىٰ غَيۡبِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٦﴾ الجن

عالم الغیب رب چې په خپلو غیبي اسرارو هیڅوك نه خبروي.

دا آیتونه څو اساسي ټکي په ګوته کوي:

۱- رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې چې خلکو ته ووایي: له غیبي اسرارو خبر نه یم، نه پوهېږم چې الهي عذاب به کله رارسي، قیامت به کله وي، ژر به راشي او که له څه ځنډه وروسته.

۲- زما رب عالم الغیب دئ، هیڅوك په خپلو غیبي اسرارو نه خبروي.

که د وحي له لاري پيغمبرانو عليهم السلام ته د غيبي امورو په اړه څه معلومات ورکول کېږي دا اطلاع د دوی ذاتي کار نه دئ، په خپله نه دي پرې پوه شوي، بلکې د وحي په ذريعه او د هغو فرشتو په واسطه پرې پوه شوي چي د وحي د انتقال دنده ورسپارل شوې.

۳- دا (وحي) د هغي فرشتې په لاس رسول الله صلی الله عليه و سلم ته رسي چي الله تعالی ئې غوره کوي او د هغې تر مخ او شا داسي څارونکي او ساتونکي لېږي چي وکولی شي په پوره امانت او صيانت سره د دې وحي رسېدل تضمين کړي، نه په کې لاسوهنه ممکن وي او نه څه کمی زياتی.

٤- دا انتظامات د دې لپاره دي چي (الهي وحي) په مصونه توګه د ده پيغمبر ته ورسېږي، سره له دې چي الله تعالی په هر څه احاطه لري، نه هيڅ څه ترې پټ پاته کېږي او نه هيڅ څه د هغه د قدرت، سلطې او سيطرې له دائرې وتلی شي.

۵- الله تعالی عالم الغيب دئ، د هر څه دقيقه احصائيه له ځان سره لري، د هغه پيغام حرف حرف ئې ثبت کړی چي د فرشتو په لاس ئې خپل رسول ته لېږي، په هغه کې هيڅ تغيير او تبديلي ممکنه نه ده.

٦- د غيبي اسرارو په اړه چي کوم علم او پوهه خپلو پيغمبرانو عليهم السلام ته ورکوي، هماغه علم او پوهه ده چي په نازل شوو کتابونو کې درج شوې، الله تعالی دغه مقدار غيبي علم خپلو پيغمبرانو عليهم السلام او د دوی له لاري خپلو نورو بندګانو ته د درك او فهم وړ ګرځولی.

په دې رکوع کې د توحيد په اړه دوه اساسي موضوعات تر بحث لاندي نيول شوي:

۱: الله تعالی د دې عالم د ادارې او د چارو په سمبالولو کې ئې هيڅ شريك نه لري، د ده ډېر مقرب بندګان هم د ګټې يا تاوان واك نه لري او هيچا ته په فوق العاده توګه ګټه او تاوان نه شي رسولی.

۲: الله تعالی عالم الغيب دئ، هيچا ته ئې علم غيب نه دئ ورکړی.

# په ربوبيت کي شرك

### الله تعالی د امورو مديريت کي هيڅ شريك نه لري

له قرآن او قرآني لارښوونو د غفلت او بېلتون په سبب د مسلمانانو په منځ کې ګڼ شمېر داسي عقائد خواره شوي چي د اسلامي لارښوونو او اصولو په بشپړه توګه خلاف دي او قرآن ئې د توحيد منافي او د شرك عامل شمېري او د هغه د نفي لپاره ئې مفصل بحثونه کړي. د بشري تاريخ په اوږدو کې هر پيغمبر چي د خپل ولس لوري ته تللی نو هغوی ته ئې لومړۍ خبره او بلنه دا وه: د الله عبادت وکړئ چي له ده پرته بل معبود نه لرئ؛ (...يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ): ای زما قومه! د الله عبادت وکړئ چي له ده پرته هيڅ بل معبود نه لرئ، خو دوی د مشرکينو ځواب بيا داسي وو:

قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِنَعۡبُدَ ٱللَّهَ وَحۡدَهُۥ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ۝٧٠

وئې ويل: آيا د دې لپاره راغلی يې چي يوازي د الله عبادت وکړو او هغه څه پرېږدو چي زموږ پلرونو ئې عبادت کاوو؟ نو په څه چي موږ وېروې رائې وړه که له رښتينو يې.

د قوم ځوابونه ئې دا دي:

- آيا موږ د يوه رب عبادت ته بلې، دې ته چي نور ټول معبودان، په ځانګړې توګه هغه چي زموږ له پلرونو راته په ميراث پاته دي پرېږدو؟ ته

غواړي موږ د پلار نیکه دین او مذهب پرېږدو او ستا نوی دین ومنو؟!

- که ته په رښتیا د الله له لوري لېږل شوی یې نو هغه څه موږ ته راوښیه چي ته مو پرې وېروې، ولي ستا ګواښونه تحقق نه مومي، ته او ستا ملګري چي له کومو مخالفتونو او سختو ورځو سره مخامخ یئ، ولي ستا رب ستا مرسته نه کوي او ستا مخالفینو ته سزا نه ورکوي؟

قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَغَضَبٌ ۖ أَتُجَادِلُونَنِي فِي أَسْمَاءٍ سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَاؤُكُم مَّا نَزَّلَ اللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ ۚ فَانتَظِرُوا إِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُنتَظِرِينَ ﴿٧١﴾

وئې ویل: یقیناً چي ستاسو د رب له لوري عذاب او غضب درباندي واقع شو، آیا د هغو نومونو په اړه راسره لانجه کوئ چي تاسو او ستاسو پلرونو نومولي، په داسي حال کې چي الله هیڅ دلیل ورته نه دئ نازل کړی؟ نو انتظار وکړئ زه هم له تاسو سره په انتظار کوونکو کې یم.

د هود علیه السلام ځوابونه دا وو:

- نور نو تاسو د الهي عذاب او قهر وړ ګرځېدلي یئ، ډېر ژر به ورسره مخامخ شئ.
- آیا د هغو دروغجنو معبودانو په اړه له ما سره مجادله کوئ چي هسې نومونه دي، حقیقت نه لري، تاسو او ستاسو پلرونو په یوه او بل نامه نومولي، یوه ته یو کرامت او بل ته بل کرامت منسوبوئ، یو د حاجتونو تر سره کوونکی ګڼئ، بل د ناروغانو روغوونکی، بل د دښمنانو پرځوونکی، بل جاه او مقام ته د رسېدو سبب، بل د دعاءګانو قبلوونکی؛ په خپله هم او پر خدای هم!! دا ټولي خبري تاسو له ځانه جوړي کړې، دا د دغو معبودانو کرامات نه دي، هغه کرامات دي چي مجاورینو او مریدانو ئې ورته تراشلي.
- الله تعالی هیڅ دلیل ورته نه دئ نازل کړی، په هیڅ الهي کتاب کې به دا ونه مومئ چي له الله تعالی پرته بل څوك د عبادت او دعاء وړ دئ، حاجتونه تر سره کولی او دعاءګاني قبلولی شي.
- نو انتظار وکړئ، زه هم له تاسو سره یو ځای په انتظار کوونکو کې یم، د

پرېکړو واك له الله تعالی سره دئ، نه تاسو له انتظاره پرته بله چاره لرئ او نه زه.

له هغو عقيدوي انحرافاتو چې عامل ئې جهل، له دين بې خبري او د ټګمارانو په لاس کې د دين لوبډل دي؛ يو هم په ربوبيت کې شرك دئ، په دې معنی چې څوك د کائناتو په اداره او د امورو په سمبالولو کې ئې له الله تعالی سره بل څوك شريك وګڼي او دا عقيده ولري چې الله تعالی د کائناتو اداره او د امورو تدبير ئې په يوازې توګه نه کوي بلکې کارونه ئې له نورو ذواتو سره وېشلي، ځيني په خپله کوي او ځيني ئې دغو ذواتو ته سپارلي او هغوی ته ئې دا واك ورکړی چې د خپلې خوښې مطابق په کې تصرف وکړي. دا ډله خلك يا دا ګمان کوي چې: الله تعالی د دنيا او عالم له پيدايښت او په هغه کې د سننو او ضوابطو له وضع کولو وروسته دعالم هر څه او ټول مخلوقات په خپل حال پرېښي، امور او کارونه په خپله د الهي مقدراتو او ضوابطو مطابق تر سره کېږي، ټول کارونه همداسې په خپل سر د الهي سننو مطابق روان دي، الله تعالی نه هيڅ مداخله په کې کوي او نه دې ډول مداخلې ته څه ضرورت ليدل کېږي!! بايبل او د بايبل پلويان همداسې انګېري او وايي: الله په شپږو ورځو کې ټول عالم خلق کړ، په اوومه ورځ له کارونو فارغ شو او استراحت ئې وکړ؛ يعني د عالم له پيدايښت وروسته داسې کار نه دئ پاته شوی چې د بايبل خدای د هغه لپاره خپل استراحت پای ته ورسوي؛ د بايبل ليکونکې دا نه دي ويلي چې د دې مزعوم خدای د استراحت او فراغت دا ورځ به کله شپره کېږي!! ځيني بيا داسې انګېري چې الله تعالی هم لکه د دنيوي واکمنانو په شان د خپلې پاچايۍ د چارو د ادارې او سمبالولو په موخه هره برخه يوه چا ته سپارلې ده او په همدې برخه کې ئې همدا کس خپل نائب او د چارو (قيم) او (متصرف) منلی دئ!! اوس که څوك په دې برخه کې له کوم مشکل سره مخامخ کېږي نو بايد د همدې برخې قيم، وصي او متصرف ته مراجعه وکړي، له هغه مرسته وغواړي او له دې لارې خپل مشکل حل کړي، په دې معنی چې د الله تعالی دربار ته له رجوع مخکې بايد

دغو متصرف او قیم ذواتو ته مراجعه وشي، له دوی د خپلو مشکلاتو د حل غوښتنه وشي او یا له همدې لارې، د مراتبو د تسلسل مراعات سره پوړ په پوړ پورته ولاړ شي او خپل سؤال د الله تعالی در بارته وړاندې کړي، دوی وایي: که د الله تعالی د پاچایۍ دا واکمن متصرفین او مأمورین؛ هغه چې ته ئې د امورو په تدبیر او د چارو په اداره کې د الله جل شأنه نائب او وکیل ګڼې؛ که دا متصرفین ستا د مشکلاتو د حل وس او توان لري، ستا چیغه اوریدی شي او ستا دعاءګانې اجابت کولی شي، نو بیا څه ضرورت دئ چې د مراتبو د تسلسل له مراعات پرته او مستقیماً د الله دربار ته د مراجعې بې باکې کوې؟!! خپل حیثیت دې وپیژنه، هغه ځای ته د تلو بې ځایه هڅه مه کوه چې نه ئې اهلیت لرې او نه توان، دا خبره ومنه چې د الله تعالی دربار داسې دروازې لري چې د هر چا په وړاندې نه پرانیستل کیږي او داسې ساتونکي لري چې هرچا ته د نژدې کېدو اجازه نه ورکوي!! دې دربار ته د رسیدو لپاره وسیلې، واسطې او سپارښت کوونکي ته اړتیا شته، دا واسطې او سپارښت کوونکي وپیژنه، د هغوی لاس او لمن ونیسه، چې د الله دربار ته لار پیدا کړې او دروازه ئې در ته پرانیستل شي، دا د الله جل شأنه په اړه د پرونیو مشرکینو ګمان وو او د اوسنیو او د هرې پیړۍ د مشرکینو باور او انګیرنه؛ په دومره تفاوت سره چې چا مړه او له ډبرې، خټې، سرو او سپینو زرو جوړ شوي بتان، چا ژوندي بتان او چا په قبرونو کې پراته ذوات؛ د متصرفینو او د عالَم د چارو په سمبالولو کې د الله تعالی شریکان ګڼلې. راشئ وګورو چې قرآن په دې اړه څه وایي:

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۖ يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۖ مَا مِن شَفِيعٍ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ إِذْنِهِۦ ۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣﴾ یونس

بې شکه چې ستاسو رب هغه ذات دئ چې آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې پیدا کړل، بیا ئې پر عرش استوا وکړه، چارې سمبالوي، هیڅ داسې

شفاعت کوونکی نشته چې د ده له اذن او اجازې پرته شفاعت وکړی شي، دا ستاسي رب دئ، نو د ده عبادت وکړئ، آیاعبرت نه اخلئ؟

دا مبارك آیت لاندي مهمي لارښووني زموږ مخي ته ږدي:

- الله تعالی زمکه او آسمانونه په شپږو ورځو (تکویني مراحلو) کې پیدا کړل.
- آسمانونه او زمکه ئې له پیدایښت وروسته مهمل او خپلي مخي ته نه دي پرېښي، بلکې د بشپړ ټولواك او ملك په توګه هغه اداره کوي او چاري ئې سمبالوي.
- هیڅوك د الله له اذن او اجازې پرته د هغه په وړاندي د شفاعت او سپارښتني توان، صلاحیت او جرأت نه لري، هغه د دنیا د پاچایانو په شان نه دئ چې د نورو سپارښتنه او شفاعت ته اړ وي، داسي نه ده چې باید بل څوك یو مظلوم ور معرفي کړي، بل څوك د چا د لیاقت او اهلیت په اړه معلومات ورکړي او د ده او بنده تر منځ واسطه شي.
- هغه رب او پالونکی چې باید یوازي د هغه عبادت وکړې او یوازي له هغه مرسته وغواړې، صفات ئې دا دي: د ټولي هستي خالق، ستا او د ټولو مخلوقاتو رب او پالونکي دئ، په عرش ئې استوی کړې، د هر څه مالك او واکمن دئ، د هستي د ټولو امورو د تدبیر اختیار ورسره دئ، ستا او هغه تر منځ د رابطې لپاره هیڅ وسیلې، واسطې، سپارښتني او شفاعت کوونکي ته ضرورت او اړتیا نشته. دا درس باید درته پند وي او د هغه په رڼا کې نېغه لاره له کړې ببله کړې او د الله تعالی له دربار پرته بل درشل ته له رجوع او پناه وړلو ځان وساتې.

په دې اړه د مزید معلوماتو لپاره د الانعام د سورې ۱۸ آیت او د الاعراف د سورې ٥٤ آیت شرحي ته مراجعه وکړئ.

همدا راز قرآن په بل آیت کې فرمايي:

قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَمَن يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ

﴿فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُۚ فَقُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ ۝٣١﴾ یونس

(ورته) ووایه! له آسمان او زمکې څوك تاسو ته رزق او روزي درکوي؟ او د دغو غوږونو او سترګو مالك څوك دئ؟ او څوك دئ چې ژوندی له مړي او مړی له ژوندي پیدا کوي؟ او د کارونو تدبیر څوك کوي؟ حتماً به ووایي: الله؛ نو ووایه: آیا (له کفر او شرك) ځان ساتنه نه کوئ؟

په دې مبارك آیت کې دا اساسي مطالب زموږ مخې ته ایښودل شوي:

- دا خو یوازې الله تعالی دئ چې د رزق او روزي انتظام ئې په واك کې دئ، که له آسمان باران راوروېږي، که د لمر وړانګې پر زمکه لګېږي، له زمکې مېوې او دانې راټوکېږي او که زمکه ستاسي لپاره په خپله غېږ کې د ښځلو اوبه ساتي او په دې ترتیب سره ستاسي د روزي اسباب او وسائل برابروي، ووائئ: داسي کوم څوك شته چې په دې کارونو کې له الله تعالی سره شریك وي؟
- ستاسي د غوږونو او سترګو اصلي او حقیقي مالك څوك دئ؟ دا نعمتونه چا درکړي او دا د چا په ارادې ستاسي په خدمت کې دي او تاسي ته لار ښیي؟ که خدای اراده وکړي چې دا سترګې او غوږونه درنه واخلي، آیا داسي څوك شته چې بېرته ئې درکړی شي؟
- آیا له الله تعالی پرته په دې ټولو موجوداتو کې داسي څوك شته چې له مړي ژوندی او له ژوندي مړی راوباسي؟ د مرګ او ژوند فیصله څوك کوي؟ د چا په حکم سره مړه خاوره په دانو او مېوو بدلېږي او بیا د انسان او حیوان په بدن کې ژوندۍ نطفه ترې جوړېږي؟
- په دې پراخ کائنات کې چې په هره برخه کې ئې حرکت، خوځښت او د کمال په لور هاند او تحرك دئ، هرې خوا ته ئې نظم او نسق، ښکلا او ښایست دئ، هر شی له نشت هست کېږي، بیا وده مومي، د کمال په لور درومي او کله چې د کمال او ودې یوه ثابت حد ته ورسېږي نو د زوال مرحله ئې پیل شي او په مرګ محکوم شي، فناء شي او ځای ئې بل ته تش شي. څوك دئ چې دا ټول امور اداره او تنظیموي؟ آیا له دې پرته چې ووایو او اعتراف وکړو چې د دې هستي د ټولو امورو تدبیر د الله تعالی په لاس کې دئ، آیا له دې اعتراف پرته بله چاره لرو؟ قرآن څه ښه فرمایي:

ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۖ هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَفْعَلُ مِن ذَٰلِكُم مِّن شَىْءٍ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٠﴾ الروم

الله هغه ذات دئ چې تاسي ئې پيدا کړئ، بيا ئې تاسي ته روزي درکړه، بيا تاسي مړه کوي، بيا مو بېرته راژوندي کوي، آيا ستاسي له شريکانو داسي څوك شته چې له دې کارونو کوم يو وکړی شي؟! پاکي ده الله ته او هغه لوړ دئ له هغه څه چې دوی ئې ورسره شريك ګرځوي.

يعني ستاسي په پيدايښت کې، ستاسي په رزق او روزي کې او ستاسو په مرګ او ژوند کې هيڅوك له خدای سره شريك نه دئ، الله تعالی له دې عيب پاك او له دې لوړ دئ چې په دې کارونو کې څوك د ځان شريك ونيسي. قرآن لکه څنګه چې خلقت په الله تعالی پوري مختصوی او د ماسوی الله اشتراك په کې له بنياده نفي کوي همدا راز د امورو تدبير او انتظام هم په الله پوري مختص بولي او په دې کار کې هم د بل چا شراکت نفي کوي، فرمايي:

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۖ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ يَطْلُبُهُۥ حَثِيثًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتٍۭ بِأَمْرِهِۦٓ ۗ أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾

الاعراف

بې شکه چې ستاسي رب هغه الله دئ چې زمکه او آسمانونه ئې په شپږو ورځو (شپږو تکويني مراحلو) کې پيدا کړي، بيا ئې پر عرش استوی وکړه، د شپې پرده پر ورځې غوړوي، (يوه بله) په تلوار لټوي، لمر، سپوږمۍ او ستوري د هغه حکم ته تابع دي، پوه شه چې پيدايښت او امر ده ته مختص دئ، د عالمونو رب او پالونکی بابرکته دئ.

يعني الله تعالی نه د مخلوقاتو په پيدايښت او خلقت کې کوم شريك لري او نه د عالم د أمورو او چارو په اداره او مديريت کې؛ که دا د شپې ورځې

تګ راتګ دئ، که د لمر، سپوږمۍ او ستورو طلوع او غروب دئ، که انسانانو او ټولو ژوو ته رزق او روزي ورکول دي، که ښه او بد، روغ او ناروغ اولاد ورکول دي؛ که د مرګ ژوند، عزت او ذلت پرېکړه ده، که په جګړو کې چا ته بریا ورکول او له ماتې سره مخامخ کول دي؛ او هر هغه څه چې د ټولواك رب تر عرش لاندې تر سره کېږي، دا ټول د مالك الملك رب د ثابتو سننو او مقدراتو مطابق او د الله تعالی په إذن او توفیق تر سره کېږي؛ د دې ټولو هیڅ څه ئې کوم پیر، شیخ، غوث، قطب، ابدال او په بل نامه کوم شریك ته نه دي سپارلي. نو له الله تعالی پرته له بل استعانت غوښتل نه یوازې کفر او شرك دئ؛ بلکې سفاهت او حماقت هم دئ.

قرآن په (خلقت) او (امر) کې د ماسوی الله (له الله پرته د بل هر چا او هر څه) هر راز مشارکت او ونډه نفي کوي او فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَٱسْتَمِعُواْ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخْلُقُواْ ذُبَابًا وَلَوِ ٱجْتَمَعُواْ لَهُۥۖ وَإِن يَسْلُبْهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُۚ ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ وَٱلْمَطْلُوبُ ﴿٧٣﴾ مَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٧٤﴾ الحج

اې خلکو! یو مثال ویل شوی، ورته غوږ شئ: بې شکه څوك چې تاسې له الله پرته خپلې مرستې ته دربلئ، یو مچ هم نه شي پیدا کولی، که څه هم ورته راغونډ شي، او که دا مچ څه ترې وتښتوي نه ئې شي ترې ژغورلی، طالب او مطلوب دواړه بې وسه شول، د الله قَدرَوَنه ئې لکه څنګه چې له ده سره ښایي نه ده کړې، بې شکه چې الله ځواکمن عزتمن دئ.

یعني له الله تعالی پرته چې تاسې له بل هر څه او هر چا مرسته وغواړئ، که دا په آسمان کې وي او که په زمکه کې، انسان وي که فرشته، ژوندی وي که مړ، په قصر کې وي که په قبر کې؛ یو هم نه شي کولی یوه وړه او حقیره حشره پیدا کړي او که دا حشره څه ترې وتښتوي نو د هغه د ژغورنې توان هم نه لري، نه څه شی پیدا کولی شي او نه ئې ژغورلی شي، په دې معامله کې طالب او مطلوب دواړه کمزوري او بې وسه دي، مطلوب کمزوری او بې

وسه دئ ځکه چې نه د کوم څيز د خلقت او پيدا کولو توان لري او نه پر نورو د حکمرانۍ او واکمنۍ قدرت ورسره شته او طالب ځکه کمزوری او ضعيف دئ چې په داسي يوې بې وسه او کمزورې متکاء تکيه کوي او مرسته ترې غواړي چې د هيڅ څه واك، توان او اختيار نه لري.

د قرآن هر مخاطب ته د دې الهي کتاب لومړنۍ درس، په لومړني آيت کې؛ دا دئ چې دا عالم يو پالونکی (رب) لري، داسي رب چې ټولې ستايني ده ته مختص دي: الحمدلله رب العالمين: ټولې ستايني هغه الله ته دي چې د عالميانو رب او پالونکی دئ. يعني دا خور او پراخ عالم داسي رب او پالونکی لري چې د هر څه پالنه کوي، د هري برخي د ذرې ذرې ساتنه، پالنه او د چارو سمبالونه ئې په واك کې دي او په ټولو امورو کې د رب په توګه تصرف کوي. د الله تعالی د ربوبيت نفي يا تعطيل او دا اعتقاد چې الله تعالی د مخلوقاتو له پيدا کولو وروسته د امورو اداره او د چارو سمبالونه ئې په کائناتو حاکمو ضوابطو او سننو ته پرېښې، همدا راز په ربوبيت کې شرك يعني دا باور چې د کائناتو د امورو په اداره کې خدای شريك لري، دا دواړه (د ربوبيت نفي او په ربوبيت کې شرك) د قرآن له بنيادي لارښوونو او اساسي مفاهيمو سره ټکر او تناقض لري؛ نه پوهېږو هغه چې په دې شرك کې غرق دي؛ د قرآن هغه په سلګونو آيتونه څنګه توجيه کوي چې په پوره صراحت او قاطعيت سره په دې خبرې ټينګار کوي چې يوازې الله تعالی د ټولو امورو متصرف او پالونکی دئ؟! دا ډله د دې آيتونو په اړه څه وايي:

**... وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ﴿٤١﴾ الحج**

... د ټولو امورو پايله الله ته ده.

**وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ﴿٢١٠﴾ البقرة**

ټول کارونه د الله په لوري ګرځول کېږي

**أَلَآ إِلَى ٱللَّهِ تَصِيرُ ٱلۡأُمُورُ ﴿٥٣﴾ الشورى**

پام چې ټول کارونه د خدای لور ته ورګرځي

... قُلۡ إِنَّ ٱلۡأَمۡرَ كُلَّهُۥ لِلَّهِۗ... ﴿١٥٤﴾ آل عمران

... ووایه چې بې شکه کارونه ټول د الله دي

پداسې حال کې چې قرآن؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته فرمایي چې ته د هیڅ شي واك او اختیار نه لرې، دا په الله تعالی پورې اړه لري چې د چا توبه قبلوي او چا ته عذاب ورکوي، دا یوازې د الله جل شأنه کار دئ، نه په تا پورې اړه لري او نه بل چا پورې، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اړه چې حکم دا وي نو د نورو عادي خلکو په اړه به حکم څه وي؟

الله تعالی خپل رسول ته فرمایي:

لَيۡسَ لَكَ مِنَ ٱلۡأَمۡرِ شَيۡءٌ أَوۡ يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡ أَوۡ يُعَذِّبَهُمۡ فَإِنَّهُمۡ ظَٰلِمُونَ ﴿١٢٨﴾ آل عمران

د چارو هیڅ څه په تا پورې اړه نه لري، یا به ئې توبه قبلوي او یا به ئې د دې لپاره تعذیبوي چې ظالمان دي.

قرآنکریم په ربوبیت کې د شرك د نفي او تردید لپاره په دې قاطع دلیل او حجت استدلال کوي چې که په زمکه او آسمان کې له یوه خدای پرته نور خدایان وی نو حتماً به د زمکې او آسمان ټولې چارې مختل او هر څه به تباه شوي وو، دا ځکه چې په هغه صورت کې به هر خدای له خپلې خوښې سره سم د دې عالم اداره غوښتله، د آراءو اختلاف، په اجراءاتو او تصرفاتو کې د ارادو تعدد به حتماً په ټکر او تصادم منتج کېدو او دا به په کائناتو کې د لویې تباهۍ سبب جوړېدو. په هستۍ او کائناتو کې دا حاکم نظم او نسق په دې دلالت کوي چې د مخلوقاتو د امورو د تدبیر واك او اختیار له یوه ذات سره دئ.

لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٢٢﴾ الانبیاء

که په دوی دواړو (آسمان او زمکې) کې له الله پرته نور خدایان وی؛ دواړه حتماً تباه کېدل، نو د دوی له توصیف او ستایلو د عرش پالونکي ته پاکي ده.

د قرآن تر ټولو ستر او مبارك آيت (آيت الكرسي) په دې رابطه فرمايي چې الله تعالى د ټولو موجوداتو د امورو مدبر او قيوم دئ، د هر څه قوام له ده دئ، يوه لحظه هم د كائناتو له ادارې نه غافل كېږي، د زمكې او آسمان د هر څه مالك دئ، هيڅوك ئې په وړاندې له اجازې پرته د شفاعت توان نه لري، په پټو او ښكارندو شيانو عالم دئ، د نورو علم هم د ده وركړه ده، د ده په حكم او اذن سره له څه خبرېدی او په څه پوهېدی شي، د هغه د اقتدار كرسۍ پر آسمانونو او زمكې احتوی كړې ده، ټول شيان ترې لاندې دي، د دې ارت عالم ساتنه او تنظيم د هغه د ستړيا سبب نه كېږي. فرمايي:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ٢٥٥﴾ البقرة

الله هغه ذات دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، همغه ژوندی قيوم ذات، نه ئې پركالي نيسي او نه خوب، هر هغه څه د ده دي چې په آسمانونو كې دي او چې په زمكې كې دي، دا به څوك وي چې د ده له اجازې پرته د ده په وړاندې سپارښتنه او شفاعت وكړی شي، په داسې حال كې چې دی په هر هغه څه پوهېږي چې د دوی مخې ته دي يا ئې شا ته دي او دوی د ده له علم يوازې په دومره څه احاطه كولی شي چې دی ئې وغواړي، (د قدرت او واكمنۍ) كرسۍ ئې پر آسمانونو او زمكې حاوي ده او د دوی دواړو (زمكې او آسمان) ساتنه ئې نه ستومانه كوي او هغه ستر لوړ ذات دئ.

قرآن د ربوبيت د جزئي او كُلي تعطيل د نفي او د دې مفهوم د اثبات لپاره چې خدای په دائمي او دوامداره توگه له يوې شېبې غفلت پرته د عالم امور اداره او سمبالوي او همدا راز د دې مطلب د اثبات لپاره چې ټول مخلوقات د خپلو اړتياوو د پوره كولو لپاره الله ته رجوع كوي او هغه ئې اړتياوې پوره كوي، فرمايي:

يَسْـَٔلُهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِى شَأْنٍ ﴿٢٩﴾ الرحمن

څه چي په آسمانونو او زمکه کې دي ټول ده ته سؤال کوي، دی هره شېبه په يوه کار کې دئ.

دا او په لسګونو نور آيتونه د دې لپاره کافي دي چي ووايو: هر څوك چي د عالم د چارو په اداره او تدبير کې له خدای سره شريك ونيسي، هغه په حقيقت کې قرآنکريم تکذيب کړی، د شرك مرتکب شوی او د توحيد له دائرې او د موحدينو له ډلي وتلی دئ.

قرآن په دې اړه فرمايي:

قُل لَّآ أَمْلِكُ لِنَفْسِى ضَرًّا وَلَا نَفْعًا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۗ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۚ إِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَـْٔخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٤٩﴾ يونس

ووايه: خپل ځان ته نه د ضرر (دفع کولو) واك لرم او نه د ګټې (رسولو واك)، پرته له هغه څه چي الله غوښتي، د هر امت لپاره ثابته نېټه ټاکل شوې، کله چي د دوی اجل راورسېږي نه يوه شېبه وروسته کېږي او نه مخکې کېږي.

ګورئ چي قرآن پيغمبر عليه السلام ته وايي: په خپله خوله خلکو ته ووايه چي د تاوان او ګټې پرېکړه زما په واك کې نه ده، نېټې نه شم بدلولی، د ګټې او تاوان پرېکړه الله تعالی کوي او د هر چا نه بدلېدونکی اجل هغه ټاکلی!!

دا مطلب په قرآن کې څو څو ځله تکرار شوی او دا د دې لپاره چي د هغو ټګمارانو مخه ونيسي چي د بايبل د ليکونکي په څېر خلکو ته وايي: راشئ په يوه دم او دعاء سره ستاسو تقدير بدلولی شو، مرګ مو ځنډولی شو، عمر مو زياتولی شو، تاوانونه دفع کولی شو، مرادونو ته د رسېدلو لاري درته پرانيستلی شو!!

د بايبل ليکونکی ادعاء کوي چي د بني اسرائيلو د څو انبياءو لپاره لمر څو ساعته ودرېدلی، يا په شا تللی؛ خو دا خوارکی په دې نه پوهېږي چي الله تعالی د دې عالم نظم هومره دقيق جوړ کړی او هر څه ئې په خپل خپل ځای کې داسي مناسب پيدا کړي چي که په دې نظم کې معمولي تبديلي راشي

هر څه ئې يو له بل سره تصادم کوي، که لږ لس ساعته په شا کېدل خو پرېږده که لس ثانيې په خپل ځای ودرېږي دا عالم له منځه ځي!! قرآن په دې اړه فرمايي:

وَلَوِ ٱتَّبَعَ ٱلۡحَقُّ أَهۡوَآءَهُمۡ لَفَسَدَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ بَلۡ أَتَيۡنَٰهُم بِذِكۡرِهِمۡ فَهُمۡ عَن ذِكۡرِهِم مُّعۡرِضُونَ ٧١ المؤمنون

که حق د دوی د هوس تابع شي، نو آسمانونه او زمکه او هر هغه څه چې په دوی کې دي، تباه کېږي،...

يعني که د عالم دا حقيقي نظام د انسان د هوس تابع کړی شي او ده ته د خپل هوس مطابق د تصرف موقع ورکړی شي، د دې عالم هر څه له تباهۍ سره مخامخ کېږي. د دې عالم نظم داسي وګڼئ لکه په يوه ډېر ستر هوائي ميدان کې چې هره شېبه ګڼ شمېر جهازونه ترې الوزي او په کې کښېني او دا ټول د يوه حساس کمپيوټر په واسطه اداره کېږي، که د دې کمپيوټر سر انجنير خپل نازولی ماشوم زوی له ځان سره د کمپيوټر خونې ته بوځي او اجازه ورکړي چې د کمپيوټر په هري بټني چې زړه ئې غواړي ګوته کښېږدي، د دې پايله به څه وي؟!! همدا راز که د دې عالم په نظم او اداره کې د انسان هوس دخالت وکړي، د تودوخي کم والی زياتوالی، د ورځي او شپې اوږدوالی او لنډ والی، د لمر او سپوږمۍ د راختو او لوېدو اوقات د ده د خوښي مطابق بدل رابدل شي، دا عالم تباه کېږي!!

دا وضاحت هم ضروري دئ چې دغو اسرائيلي رواياتو پر مسلمانانو هم خپل اغېز کړی، په مسلمانانو کې هم داسي روايات خواره شوي چې ځيني ئې وايي: پيغمبر عليه السلام ته لمر ودرېدو، سليمان عليه السلام ته لمر په شا راغی، علي رضي الله عنه ته لمر ودرېدو او يو روايت هم هغه دئ چې ابوهريرة رضي الله عنه ته منسوب شوی چې وايي: پيغمبر عليه السلام وفرمايل: إن الشمس لم تحبس لبشر إلا ليوشع... لمر له يوشع پرته هيچا ته نه دئ ودرېدلی... د دې رواياتو په اړه څو خبرو ته پام په کار دئ:

ځيني محدثين د دې وروستي روايت اسناد صحيح ګڼي، خو نور ئې ضعيف او حتی موضوعي ګڼي.

دا روایت ټول هغه روایات ردوي چې د بل چا لپاره د ځمکې د ودرېدو خبره په کې راغلې، یوازې یوشع ته د ځمکې د ودرېدو معنی همدا ده چې دا نور روایات چې وایي د سلیمان علیه السلام، پیغمبر علیه السلام، علي رضي الله عنه... لپاره ځمکې ودرېدلی حقیقت نه لري، ډېره عجیبه ده چې څوك دا حدیث هم مني او نور روایات هم!! زه هغه چا ته حیران یم چې د قرآن دا صریح او واضح آیت د دغو اسرائیلي روایاتو تر اغېز لاندې غلط تفسیروي.

## توسل

یو بل قرآني مفهوم چې د عوامو له خوا تر ظلم لاندې دئ او د عوام غولوونکو له لوري تر برېدونو لاندې؛ "توسل" دئ؛ سخته جفاء ورسره روانه ده؛ د دین پلورو ټګمارانو له لوري د ساده زړو او له دین بې خبرو خلکو د تحمیق او غولولو لپاره د وسیلې په توګه کارول کېږي؛ تعبیر ئې داسې کړکجن تحریف ته ورته چې هم د قرآن خلاف او هم د رسول الله صلی الله علیه و سلم د لارښوونو خلاف. وسیله په قرآن او حدیث کې د هغه نېك عمل په معنی استعمال شوې چې د الله تعالی د تقرب او نږدېوالي سبب او موجب ګرځي؛ خو ټګماران ئې داسې تعبیروي چې ګواکې الله تعالی ته د رسېدو، د دعاء قبلېدو او د حاجتونو تر سره کېدو لپاره باید د الله د نازولو ځېنو ونیسې او هغه د الله تعالی په وړاندې ستا واسطه او وسیله شي؛ له دې پرته نه الله تعالی ستا غږ اوري او نه دې دعاء قبلوي؛ په داسې حال کې چې قرآن او د الله تعالی ټول مخکیني کتابونه او پیغمبران د دغه غلط تعبیر او ناسم باور د جرړو قطع کولو لپاره راغلي. قرآن په ډېر تأکید او بشپړ صراحت سره او مکرراً موږ ته وایي: الله تعالی انسان ته د غاړې تر رګ ورنژدې دئ (وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ إِلَيۡهِ مِنۡ حَبۡلِ ٱلۡوَرِيدِ) په هر ځای کې درسره دئ (وَهُوَ مَعَكُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ)، هره دعاء دې اوري او مني (وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ)، له ده پرته بل مولا او نصیر نه لرئ (وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ)، د زمکې او آسمانونو هر څه د الله دي (إِنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ)، د مرګ او ژوند پرېکړه د ده له لوري کېږي (وَٱللَّهُ يُحۡيِۦ

وَيُمِيتُ)، د ده له ارادې او اجازې پرته نه څوك ضرر دررسولی شي او نه گته(قُلْ مَن ذَا ٱلَّذِي يَعۡصِمُكُم مِّنَ ٱللَّهِ إِنۡ أَرَادَ بِكُمۡ سُوٓءًا أَوۡ أَرَادَ بِكُمۡ رَحۡمَةٗۚ وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا)، د زمكې او آسمانونو هر څه د الله دي، كه څه دركوي نو ستا حالت او دعاء ته په پام سره ئې دركوي؛ د هيچا په سپارښتنه او شفاعت ئې نه دركوي (لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ)، پوه شه چې داسې څوك نه شته او نه ورته ضرورت لرې چې ستا دعاء تر الله تعالى پورې ورسوي؛ نه شفيع ته ضرورت لرې او نه واسطې او د چا سپارښتني ته؛ په ټول عالم كې نه داسې څوك شته چې د گناه له سزا دې وژغوري، نه داسې څوك چې په زمكې او آسمانونو كې د يوې ذرې په اندازه څه په واك كې ولري؛ تا ته ئې دركړی شي او له تا ئې وسپمولی شي. راشئ د قرآن د دغو آيتونو په وړاندې لږ توقف وكړو:

قُلۡ مَن ذَا ٱلَّذِي يَعۡصِمُكُم مِّنَ ٱللَّهِ إِنۡ أَرَادَ بِكُمۡ سُوٓءًا أَوۡ أَرَادَ بِكُمۡ رَحۡمَةٗۚ وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ﴿١٧﴾ الأحزاب

ووايه: هغه څوك دئ چې له الله مو خوندي وساتي كه كوم بدوالی درته وغواړي او يا كومه پېرزوينه درته وغواړي؟! او له الله پرته به نه ځان ته كوم مولا ومومي او نه كوم مرستندوی.

يعني آيا داسې څوك مومئ چې له الله تعالى مو خوندي وساتي او له ستونزې او كړاو سره له مخامخېدو مو وژغوري؟! او كه د جنگ په ميدان كې او هغه مهال چې ستر لښكر ستاسو په ضد راغونډ شوی وي؛ او الله تعالى وغواړي خپله پېرزوينه درپه برخه كړي؛ پر دښمن مو بر لاسی؛ آيا داسې څوك شته چې د الله تعالى د پرېكړې او ارادې مخه ونيسي؟! مگر نه پوهېږئ چې له الله تعالى پرته نه ځان ته كوم مولا موندلی شئ او نه كوم مرستندوی؟!

أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١٠٧﴾ البقرة

آيا په دې نه پوهېږې چې د آسمانونو او زمكې واكمني الله ته مختص ده (او

په دې کې هیڅ شریك نه لري) او له الله پرته نه کوم مولا لرئ او نه کوم مرستندوی.

إِنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۚ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ﴿١١٦﴾ التوبة

بې شکه چې الله هغه ذات دئ چې د آسمانونو او زمکې پاچایي د ده ده، ژوند ورکوي او وژني او تاسو ته له ده پرته نه کوم مولا او دوست شته او نه کوم مرستندوی.

که د دې آیت دقیقه معنی د هغو آیتونو په رڼا کې وڅېړو چې ترې مخکې راغلي؛ نو ژور ارتباط ئې له دې موضوع سره دئ چې له مشرکانو سره خپلي اړیکي وشلوئ، حتی که ستاسو نژدې خپلوان هم وي، د آسمانونو او زمکې ټولواك رب ځان ته کافي وګڼئ، له دوی کومه طمع دي تاسو د دوی دوستۍ ته ونه هڅوي، دا ځکه چې د آسمانونو او زمکې ټولواك خو الله تعالی دئ، د خپل ژوند او مرګ په اړه کومه طمع او وېره دي تاسو د دوی دوستي ته تشویق نه کړي، د ژوند او مرګ پرېکړه خو د الله له لوري کېږي او د دوی د مرستي او ملګرتیا تر لاسه کولو طمع دي تاسو دې ته ونه هڅوي چې هغوی ته د ملګرتیا او دوستۍ لاس اوږد کړئ؛ دا ځکه چې له الله تعالی پرته نه کوم مولا او دوست درته شته او نه کوم مرستندوی.

وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَوۡلَىٰكُمۡۚ نِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ﴿٤٠﴾ الأنفال

او که ئې مخ واړاوو نو پوه شئ چې الله مو مولا دئ، غوره مولا او غوره مرستندوی.

یعني که کافران او ستاسو دښمنان د الله له دین بیا سرغړاوی وکړي او بېرته د کفر لوري ته وګرځي نو مؤمنان دي ډاډه وي چې الله تعالی به بیا د دغو کافرانو په خلاف د دوی مرسته کوي. الله تعالی د دوی مرستندوی او مولا دئ، غوره مولا او غوره مرستندوی.

الله تعالی مؤمنانو او اهل کتاب ته لارښوونه کوي چې بې ځایه هیلي او ګمانونه لري وغورځوئ، له ده پرته مو هیڅوك د ګناهونو له سزا او مجازات نه شي ژغورلی؛ فرمایي:

لَّيۡسَ بِأَمَانِيِّكُمۡ وَلَآ أَمَانِيِّ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِۗ مَن يَعۡمَلۡ سُوٓءٗا يُجۡزَ بِهِۦ وَلَا يَجِدۡ لَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ﴿١٢٣﴾ النساء

نه ستاسو په هيلو پوري مربوطه ده او نه د اهل كتاب په هيلو پوري؛ څوك چي بد كار وكړي په هغه به مجازات شي او ځان ته به له الله پرته نه كوم دوست وهومي او نه كوم مرستندوى.

يعني د الله تعالى د عدل په محكمې كې د چا هيلو او تمنياتو له مخي پرېكړه نه كېږي، له ډېرو سره كاذبې هيلي وي، ځان ورته تر ټولو غوره برېښي، جنت خپل مسلم حق گڼي، گمان ئې دا وي چي يوازي دى او د ده د مسلك پلويان به جنت ته دروميي، خو كېدى شي دا هسي په شيطاني تلقيناتو ولاړ كاذب تمنيات وي، شيطان د دې لوړه كړې چي دغسي هيلي به په انسانانو كې راولاړوم (﴿وَلَأُضِلَّنَّهُمۡ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمۡ). خبره دا ده چي گنهگار به هرومرو خپله سزا گوري، هيڅوك ئې له دې سزا نه شي ژغورلى، له الله پرته چي له هر چا دا طمع او هيله لري چي د گناه له سزا به د هغه په لطف، شفاعت او سپارښتني ژغورل كېږي؛ اشتباه ئې كړې؛ دا هسي خوشې او واهي هيله ده. چا ورته ويلي چي فلان شفيع به ستا شفاعت كوي او الله تعالى به حتماً د ده شفاعت ستا په اړه قبلوي؟!

الله تعالى د ټول عالم او د هر څه ئې داسي بشپړ ټولواك دئ چي په هيڅ برخي كې ئې شريك نه لري؛ د هيڅ څه واك او تصرف ئې بل چا ته نه دئ سپارلى؛ كه د عالم په چارو كې بل واكمن او متصرف وى نو له ځان او خپلوانو او پلويانو پرته به ئې بل چا ته هيڅ څه نه وو وركړي؛ نه د لمر رڼا او تودوخه، نه د زمكي اوبه او هوا، نه مېوې او دانې، خو تاسو عملاً گورئ چي د دې ټولو واكمن رب؛ دا په هر چا؛ مؤمن او كافر پېرزو كوي؛ د ټولو خالق رب؛ د هغوى د رزق او روزي ضامن او ذمه وال هم دئ؛ له ده پرته بل څوك نه پر آسمان، لمر او نعمتونو ئې څه واك او سلطه لري، نه پر زمكي او نعمتونو ئې؛ نه يو ځاځكى اوبه پيدا كولى او له آسمان ورولى شي او نه يوه دانه او مېوه له زمكي ټوكولى شي؛ كه د نړۍ ټول ساينس پوهان راغونډ شي نو يوه پاڼه او يو خلكى نه شي پيدا كولى؛ الله تعالى فرمايي:

أَمۡ لَهُمۡ نَصِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُلۡكِ فَإِذٗا لَّا يُؤۡتُونَ ٱلنَّاسَ نَقِيرًا ۝٥٣ النساء

آیا په واکمنۍ کې د دوی کومه برخه شته؟ نو بیا خو به ئې خلکو ته کوم نقیر (د خرما د زړي ټاپکی) هم نه وو ورکړی.

د قرآن دا وینا هم هغو ته متوجه ده چې له الله تعالی پرته بل ته طمع او هیله لري؛ که دا ژوندی صنم وي یا مړ بت؛ او هم د مؤمنانو هغو دښمنانو ته چې د مسلمانانو په اړه وایي او ویل ئې: دا خلك به له خپلې مبارزې، دعوت او جهاد هیڅ څه تر لاسه نه کړي، هسې خپل ځان تباه کوي، دښمنان ئې پیاوړي او زورور دي، هم ئې وسائل او امکانات زیات دي او هم ئې تګلاره تر دوی غوره ده!! د دوی د دغو خبرو په ځواب کې ویل شوي: دا خو ستاسو په واك کې نه ده چې د مسلمانانو مستقبل وټاکئ او له دوی سره دي همغه څه وشي چې تاسو ئې انتظار لرئ، که داسې وی چې کارونه ستاسو له انتظار سره سم کېدی او پرېکړې ستاسو په خوښه کېدی، نو بیا خو به تاسو هیچا ته د خرما د زړي د ټاپکي په اندازه هم څه نه وو ورکړی، نه مسلمانانو ته او نه د دوی دښمنانو ته، بیا خو به تاسو هر څه ځان ته اخیستل، ولې به مو پر کافرانو لورېدل، چې ځان ته ئې نه شئ ورکولی معنی ئې دا ده چې د کافرانو په اړه ستاسو هیلې او د مسلمانانو په اړه ستاسو بد نیت به هم څه نتیجه ونه لري. که د پیر او شیخ په لاس کې څه وی نو د تاسو شکرانو او قلنګ ته به اړ نه وو.

قرآن موږ ته د هغې (وسیلې) حقیقت راښیي چې انسان خپل رب ته نژدې کوي؛ فرمایي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱبۡتَغُوٓاْ إِلَيۡهِ ٱلۡوَسِيلَةَ وَجَٰهِدُواْ فِي سَبِيلِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ۝٣٥ المائد:۳۵

اې مؤمنانو! له اللهووېرېږئ او د ده لوري ته وسیله ولټوئ او د ده په لار کې جهاد وکړئ چې بریالي شئ.

په دې آیت کې د مؤمنانو د بریالیتوب لپاره درې شرائط ښودل شوي:

۱. تقوی او ځان ساتنه.
۲. د الله تعالی لوري ته د وسیلې لټول.

۳. د الله تعالی په لار کې جهاد.

که دا مبارك آيت د قرآن په رڼا کې تفسير کړو او په قرآن کې دا ولټوو چې تقوی، وسيله او د الله په لار کې جهاد کومو اعمالو ته ويل کېږي چې بنده الله ته نژدې کوي؛ نو وبه گورو چې قرآنکريم لمونځ، زکات، حج، روژه، په نېکۍ امر، له بدي مخنيوی او نهی، د الله په لار کې مال لگول، له الله او رسول اطاعت او د اسلام د حاکميت لپاره جهاد؛ الله ته د نژدېوالي او تقرب وسائل دي. د اسلام له نظره هيڅ داسي عمل نشته چې د فرائضو تر ادا کولو زيات الله تعالی ته د تقرب سبب شي، پيغمبر عليه السلام فرمايي چې انسان د سجدې په حالت کې تر بل هر حالت زيات الله ته ورلنډ وي. خو که د بېمارو او تورو زړونو خاوندانو ته ووايو چې د قرآن له نظره دا اعمال، الله ته د تقرب وسائل دي؛ د هغوی شيطان په دې خبرو نه قانع کېږي! که ورته وويل شي چې د دعاء د اجابت او قبلېدو تر ټولو غوره وخت د فريضې له اداء وروسته شېبې او لحظې دي، د دعاء د قبلېدو لپاره تر ټولو غوره ځای جومات او د جهاد سنگر دئ، په دې هم نه راضي کېږي، که څه هم دا د الله او د ده د رسول خبره ده. دوی داسي دريځ نيولی چې نه د خدای خبره مني او نه د ده د رسول!! آيا د تعجب او حيرت خبره نه ده چې څوك په قرآن له ايمان سره سره له وسيلې داسي تعبير ولري چې سل په سلو کې له قرآن سره تناقض لري؟ قرآنکريم "وسيله" هلته ذکر کړې چې له هغې مخکې او وروسته ئې د شرك په نفی او له غير الله د مرستي غوښتلو په تحريم ټينگار کړی او فرمايي: که له الله تعالی پرته له هر چا؛ که په زمکې کې وي يا آسمان کې، مړ وي يا ژوندی، انسان وي يا فرشته او له هر چا او هر څه استعانت او مرسته وغواړئ؛ هغه نه له تاسو د ضرر او زيان دفع کولو وس لري او نه مو حالت بدلولی شي. قرآن خو موږ ويلي: هغه چې الله تعالی ته مقرب او پرې گران دي؛ دا دي: صابرين، متقين، محسنين، متوکلين، توابين، مُطَّهرين، مُتَطَهرين، مقسطين، ...او تر ټولو زيات هغه مجاهدين پرې گران دي چې د الله په لار کې په مرصوص او مضبوط صف کې جنگېږي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِهِۦ صَفّٗا كَأَنَّهُم بُنۡيَٰنٞ مَّرۡصُوصٞ ٤﴾

الصف

یقیناً چي له هغو سره محبت لري چي د ده په لار کي په منظم او مضبوط صف کي جنګیږي.

موږ ته رسول الله صلی الله علیه و سلم ویلي چي چا ته به الله تعالی د شفاعت اجازه ورکړي او دا به د چا په اړه شفاعت کولی شي؛ فرمایي: پیغمبرانو ته به اجازه ورکړی شي چي د خپلو هغو امتیانو به شفاعت وکړي چي ایمان او صداقت ئې ورته معلوم شوی، د الله د لاري شهیدان به کولی شي د یو شمېر مؤمنو خپلوانو شفاعت وکړي او واړه ماشومان به کولی شي چي د خپلي مور او پلار شفاعت وکړي. هیڅوك د کافر او مشرك شفاعت نه شي کولی او شفاعت ئې الله تعالی نه مني؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم دا هم فرمایلي چي د قیامت په ورځ به ځیني فرشتې زما خوا ته راشي او زما له امتیانو به ځیني د دوزخ په لور بیایي؛ زه به ئې د راستنولو هڅه وکړم خو فرشتې به راته ووایي: ته خبر نه یې چي دوی ستا له تګ وروسته په شا ولاړل. یعني چي د ځینو امتیانو په اړه به د رسول الله صلی الله علیه و سلم شفاعت هم نه منل کېږي.

... أَنَا عَلَى حَوْضِى أَنْتَظِرُ مَنْ يَرِدُ عَلَىَّ، فَيُؤْخَذُ بِنَاسٍ مِنْ دُونِى، فَأَقُولُ: أُمَّتِى، فَيُقَالُ: لاَ تَدْرِى، مَشَوْا عَلَى الْقَهْقَرَى: رواه البخاری

.... زه به د خپل حوض خوا ته د هغو انتظار کوم چي ما ته به راځي؛ ځیني خلك به زما خوا ته ونیول شي؛ نو زه به ووایم: دا زما امتیان دي؛ وبه ویل شي: ته نه پوهېږې؛ دوی په شا ولاړل.

له دې حدیث په وضاحت سره معلومېږي چي دا د شفاعت حوض دئ؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم شفاعت به د ځینو په اړه نه منل کېږي.

پیر پالونکو ته وایو: موږ خو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په لارښوونو کي هیڅ ځای او په هیڅ حدیث کي نه د پیر او مرید یادونه لیدلې او نه ئې د شفاعت یادونه؛ هیڅ مرید ته معلومه نه ده چي د ده پیر به جنت ته درومي که دوزخ ته؛ د صادقانو په ډلي کي به وي که د ګناهګارانو او

دوه مخو منافقينو په ډلي کې؛ آيا الله تعالی به د ده شفاعت مني که نه؛ ښاغليو! تاسو دوکه شوي يئ؛ هيڅوك د ځان په اړه نه شي ويلی چي د الله تعالی په محاسبې کي به بريالی وي که ناکام، سند به په ښي لاس کي ورکړی شي که په کيڼ لاس کي او له شا؛ د بل په اړه خو قطعاً د څه ويلو نه حق لري له توان؛ که الله تعالی رسول الله صلی الله عليه و سلم ته فرمايي:

قُلْ مَا كُنتُ بِدْعًا مِّنَ ٱلرُّسُلِ وَمَآ أَدْرِى مَا يُفْعَلُ بِى وَلَا بِكُمْ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ وَمَآ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٩﴾ الأحقاف

ووايه: زه د پيغمبرانو لومړنی نه يم او نه په دې پوهېږم چي له ما سره به څه کېږي او نه په دې چي له تاسو سره به څه کېږي؛ او زه يوازي د هغه څه متابعت کوم چي ما ته ئې وحي کېږي، زه له يوه څرگند نذير پرته بل څه نه يم.

دلته الله تعالی خپل رسول محمد مصطفی عليه السلام ته فرمايلي چي قريشو ته څو خبري وکړه: ۱- زه د پيغمبرانو لومړنی نه يم، تر ما وړاندي ډېر پيغمبران تېر شوي، ۲- په غيب نه پوهېږم، دومره چي په دې هم نه پوهېږم چي الله تعالی به زما په ژوند نن او سبا له ما سره څه کوي او په آخرت کي به څه راسره کېږي؛ او په دې هم نه پوهېږم چي له تاسو سره به څه کېږي، ۳- تاسو ته چي څه وايم د الله تعالی له لوري وحي ده او چي څه کوم فقط د همدې الهي وحي متابعت دئ؛ ٤- زه له يوه څرگند نذير پرته بل څه نه يم؛ مأمور شوی يم چي خلك د کفر، شرك، فساد او ظلم له بدو پايلو ووېروم!!

پوښتنه کوم: آيا هغه څوك چي ته د پير او مرشد په سترگه ورته گورې او په پټو سترگو ورپسي روان يې، د شفاعت طمع ترې کوې، لاس او پښې ئې ښکولوې، گمان کوې چي هغه ستا او الله تر منځ واسطه او وسيله ده، ستا دعاء تر الله رسوي، پر الله ئې مني، ستا حاجتونه تر سره کوي؛... چا درته ويلي چي دا ښاغلی خدای ته منلی شخصيت دئ، څه خبر يې چي هغه د ورځي او د نورو په وړاندي څه وايي او څه کوي او په شپه کي او په پټه څه کوي؟؛ چا درته ويلي چي دی به نه يوازي له دوزخ خوندي وي او جنت ته

به ځي بلکې الله تعالی به د نورو په اړه د ده شفاعت هم مني؟! زه د الله تعالی په نامه لوړه کوم چې داسي افغان پير مي په خپلو سترګو ليدلي چې د يوه پاکستاني جنرال لاس ئې ښکولولو او داسي پير مي هم ليدلی چې د يوې بهرنۍ مېرمني لاس ئې د نورو په وړاندي ښکلولو. خو جاهلو مريدانو به د همدغو انګرېزي پيرانو پښې او لاسونه ښکولول!! داسي احمق او جاهل مريد مي هم ليدلی چې پير ئې پر کرسۍ ناست وو او دی د حيوان په څېر په خاپوړو وروان وو چې لاس ئې ښکول کړي!!

خو دا خبره چې آيا د دې جواز شته چې له کوم ژوندي انسان د دعاء غوښتنه وکړو؟ هو؛ دا نه يوازي جائزه ده بلکه الله تعالی د يوه مسلمان دعاء د بل په حق کې ژر قبلوي، الله تعالی د مور او پلار دعاء، د دوستانو دعاء او د مسلمان له خوا بل مسلمان ته دعاء، ژر قبلوي، خو په دې شرط چې له داسي چا دعاء وغوښتل شي چې ژوندی وي او د دعاء توان ولري، انسان له مرګ وروسته نه يوازي بل چا ته د دعاء وس او توان نه لري، بلکه په خپله د نورو دعاء ته محتاج وي، دا که هرڅوك وي او د هر څومره لوړ مقام خاوند وي. نه ګورئ چې موږ د هر لمانځه په وروستۍ برخه کې محمد صلی الله عليه وسلم، ابراهيم عليه السلام او نورو صالحو بندګانو ته دعاء کوو او له لوی خدای ورته لوړې درجې غواړو.

د دعاء د الفاظو او طريقې په اړه هم بايد زموږ لپاره قرآن او نبوي احاديث معيار وي، په قرآن کې د ډېرو پيغمبرانو عليهم السلام دعاءګاني رانقل شوې دي، داسي دعاءګاني چې پيغمبرانو عليهم السلام د خپلو مشکلاتو د حل لپاره د الله تعالی حضور ته وړاندي کړې او رحيم خدای هغه منلې او تر سره کړې دي. زموږ اړتياوی، غوښتني او سؤالونه به حتماً د الله تعالی د دغو غوره بندګانو د غوښتنو په څېر وي، بايد د هر ضرورت او مشکل د حل لپاره همغه لاره غوره کړو چې دوی غوره کړې، خپل عرائض په همغو کلماتو او الفاظو سره الله تعالی ته وړاندي کړو چې د دوی کوم يوه په خپلي دعاء کې کارولي. په قرآني دعاءګانو کې له ورايه ګورو چې په هری دعاء کې په مستقيمه توګه الله تعالی ته خطاب شوی، هر سؤال او غوښتنه مستقيماً او له کومي وسيلې او واسطې پرته مخامخ الله تعالی ته راجع شوې.

# شفاعت

د شفاعت په اړه ناسم او د قرآني لارښوونو خلاف او غلط باور يوه بل ستونزه ده چي د شرك او خرافاتو جارچيان ئې خوروي او ناپوهان پرې غولوي؛ د مذهب تر پوښښ لاندي ټګماران له هري وسيلې د خلكو د غولولو لپاره استفاده كوي؛ د شفاعت په ارتباط ورته وايي: زما او زما د پير او مرشد خوا ته راشه، د فلان شيخ او خليفه لمن ونيسه؛ هغه ته د الله تعالى له لوري د عالم په چارو او د خلكو د حاجتونو رفع كولو كي واك او اختيار وركړى شوى؛ دا عالم خاص متصرفين لري، هر يوه ته يوه برخه سپارل شوې، دوى په ژوند او له ژوند وروسته په قبر كي او زيارتونه ئې، د دعاءګانو د قبلېدو مراجع او درشلونه دي؛ كولى شي ستا او الله تعالى تر منځ وسيله شي، دنيا او آخرت دي ښېرازه كړي، په دنيا كي به د الله په وړاندي ستا د دعاءګانو د منلو سپارښتنه كوي او په آخرت كي به ستا د مغفرت او بخښني لپاره شفاعت كوي!! او دا د هغو مشركينو خرافي او شركي عقائد دي چي د الله تعالى ټول پيغمبران ئې مقابلې ته لېږل شوي؛ د ټولو رسولانو لومړۍ مقابله له شرك او شرك څپلو سره وه او د ټولو الهي كتابونو د دعوت او بلني محوري او اساسي موضوع د شرك رد او توحيد ته بلنه ده؛ راشئ وګورو چي د شفاعت حقيقت څه دئ او الله تعالى او د هغه رسول د شفاعت په اړه څه ويلي؛ چا ته به د شفاعت اجازه وركول كېږي او الله تعالى به د چا شفاعت د چا په اړه مني؟ قرآن په ګڼ شمېر آيتونو كي مورږ ته د شفاعت حقيقت راښيي چي څيني ئې دا دي:

وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِۚ قُلۡ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿١٨﴾ يونس

او له الله پرته د هغه څه عبادت كوي چي نه ضرر وررسولى شي او نه ګټه

او وايي: دوی خو د الله په وړاندي زموږ شفاعت کوونکي دي! (ورته) ووایه: آيا الله د آسمانونو او زمکي په داسي څه خبروئ چي دئ پرې نه پوهېږي؟! پاکي ده ورته؛ او لوړ دئ له هغه څه چي دوی ئې ورسره شريکوي.

دلته له يوې خوا د عبادت حقيقت په ګوته شوی او له بلي خوا د شفاعت حقيقت، ويل شوي: دوی د داسي چا عبادت کوي چي نه ضرر وررسولی شي او نه ګټه! او وايي: دوی خو د الله په وړاندي زموږ شفاعت کوونکي دي! له عبادت مراد د چا بشپړ اطاعت او ځانځنه ده او د هغه په اړه دا باور او عقيده چي هم ګټه رسولی شي او هم ضرر؛ د ګټي او ضرر په پرېکړي کي اغېز لري او کولی شي د الله تعالی په وړاندي زما شفاعت وکړي؛ څوك چي له الله تعالی پرته د بل چا په اړه دا باورونه لري؛ په حقيقت کي مشرك دئ او باورونه ئې د توحيد او رښتيني خدای پالني خلاف.

که د ټولو هغو خلکو حالت ته ځير شئ چي د شرك په ګنده ډنډ کي پرېوتي نو د دغو دوو ويناوو مصداق به دي تر سترګو شي، د داسي چا او څه عبادت به کوي چي نه د ضرر دفع کولو توان لري او نه د ګټي رسولو وس، په خپل لاس به له ډبري او لرګي بُت جوړ کړي، په خپل لاس به ئې له يوه ځای بل ځای ته يوسي، چېري به ئې نصب کړي، بيا به ئې مخي ته ګونډه شي، د دعاء لاسونه به لوړ کړي او مرسته به ترې غواړي، څوك به په خپل طبيعي مرګ ومري يا به شهيد شي، قبر به ورته وکيني، ښخ به ئې کړي، د قبر د پاسه به ګنبده پرې جوړه کړي، جنډې به پرې ولګوي، بيا به د همدې قبر مخي ته ګونډه شي، د دعاء لاسونه به لوړ کړي او مرسته به ترې غواړي، دا په داسي حال کي چي دا شخص په دې نه وو قادر چي په خپل ژوند کي ځان له مرګ وژغوري، د قاتل مقابله وکړي او پرېنږدي چي دی ووژني، په غسل، تکفين او تدفين کي بل ته اړ وو، خپلوان ئې مجبور ول چي ژر ئې دفن کړي که نه نو جسد ئې خرابېږي او بوي کوي، جنازه ئې نورو پر اوږو اخيستې، دومره ئې نه شو ويلی چي څه وخت مي وخوځوئ او په کوم لوري مي يوسئ، نورو په قبر کي ايښی او خاوري ئې پرې اړولې، علي رضی الله عنه شهيد شو، نه پوهېدو چي په جومات کي دښمن کمين ورته نيولی، پر ده د توري ګوزار کولو ته چمتو دئ، د ځانځه په نيت خوځېدلی، خو دښمن ناڅاپي پرې ګوزار وکړ، زخمي او له همدې زخم شهيد شو، خو اوس ځيني مشرکين

ورته مولای کائنات، مشکل کشاء او حاجت روا وايي!! امام حسين د کوفې د خلکو په بلنه له مکې د حج په ورځو کې کوفې ته روان شو، د کورنۍ غړي ئې ورسره، په دې هيله چې د کوفې خلك به له ده سره بيعت او ملگرتيا کوي؛ خو کوفې ته له رسېدو مخکې په کربلا کې د يزيد له لښکر سره مخامخ شو، نښته وشوه، دی او د ده د کورنۍ نژدې اويا غړي شهيدان شول، نه دوی له ځانه دفاع وکړی شوه او نه علي رضی الله عنه د دوی مرسته وکړی شوه، خو ځينو د دوی په نامه د نړۍ په گوټ گوټ کې زيارتونه جوړ کړي، دعاءگاني ورته کوي او د خپلو حاجتونو د تر سره کېدو مرسته ترې غواړي!! د علي رضی الله عنه له کړوسيانو يو مجهول الهويه پنځه کلن ماشوم ته د غائب امام نوم ورکوي، امام زمان ئې گڼي، د ټول عالم د متصرف په سترگه ورته گوري، استوگنځی ئې تر الله تعالی لوړ په آسمانونو کې گڼي او په خپلو دعاءگانو کې الله تعالی هغه ته واسطه کوي او وايي: خدايه! زموږ عرائض امام زمان ته ورسوه!! هغه له موږ راضي کړه!! دا خو پرېږده چې خپل حاجتونه هغه ته وړاندي کوي او مرسته ترې غواړي بلکه دلته او هلته او د هغه سوړي خوا ته چې وايي دا ماشوم همله پټ شوی؛ ليکلي عرائض غورځوي، ټگمار مجاورين ئې اخلي او بيا ځواب ورلېږي او دوی گمان کوي چې دا د امام زمان له لوري لېږل شوی ليکلی ځواب دئ!! د دوی يوه جمهور رئيس چې په خپل ولس کې د ليبرال او آزاد خيال په سترگه ورته کتل کېږي؛ د جمعې د ورځې په خطبې کې وويل چې موږ له امام زمان سره کتبي رابطه لرو!! له دې قياس کړئ چې که د ليبرالانو او سيکولرانو وضعيت ئې داسي وي نو د مذهبيانو حالت به ئې څنگه وي!! دا په داسي حال کې چې کله د دې امام زمان نوم اخلي نو په لوړ ږغ او په گډه وايي: عجل الله فرجه الشريف: خدای دي د ده په پټمن خلاصون کې تلوار وکړي!! يعني امام زمان چېري بندي دئ! خدای دې ژر راخلاص کړي!! دوی اوس هغو امامانو ته د دوی له مرگ وروسته دعاءگاني کوي چې د کربلا په غمجني پېښي کې د دوی پلرونو خيانت ورسره وکړ، په ميدان کې ئې يوازي پرېښودل، د يزيد له لښکر سره يو ځای شول او د هغوی په خلاف وجنگېدل!! د هغوی اولاده اوس د دوی قبرونو خوا ته ناست وي او مرسته ترې غواړي؛ او د دغه څرگند شرك

په دروغجني توجیه کي به وايي: دا خو د الله په وړاندي زموږ شفاعت کوونکي دي، دعاءګاني مو تر خدای رسوي او ترې غواړي چي وئې مني او زموږ حاجتونه تر سره کړي!! او دا یقیناً همغه څه دي چي د قریشو مشرکینو به د خپلو بُتانو لات او منات په اړه ویل.

لکه چي ګورئ دلته د شفاعت په اړه د مشرکانو باور او عقیده داسي ښودل شوې لکه چي څوك غواړي الله تعالی له داسي څه په آسمان او زمکي کي خبر کړي چي له عالم الغیب و الشهاده رب پټ پاته شوي وي او شفاعت کوونکي ئې پرې خبروي؛ خو الله تعالی د دغو مشرکینو د دې غلطي انګېرني په ځواب کي فرمايي: آیا غواړئ ستاسو دا شفعاء او شریکان الله تعالی؛ په زمکي یا آسمان کي له هغه څه خبر کړي چي دی پرې نه پوهېږي؟! دوی تاسو ورمعرفي کوي؟ دوی ورته وايي چي دا کس محتاج دئ، دا ئې حاجت دئ، د مرستي او عنایت مستحق دئ، حاجت ئې رفع کړه او دعاء ئې قبوله کړه؟!! د یو چا په وړاندي د کوم کس شفاعت په حقیقت کي په دې معنی دئ چي هغه د دې کس له وړتیاوو او ښېګڼو خبر نه دئ، شفاعت کوونکي ئې ورمعرفي کوي او ورته وايي: دا نېك سړی دئ، د پاملرني وړ دئ، باید توجه ورته وشي، په دې ارزي چي له غلطیو ئې سترګي پټي شي!! نو ځکه الله تعالی فرمايي: دوی ته ووایه: آیا دغه شفاعت کوونکي؛ الله تعالی له داسي څه خبروي چي په آسمانونو یا زمکي کي له ده پټ پاته شوی او دوی ئې پرې خبروي؟! دا د هغه شفاعت او د شفاعت په اړه د مشرکانو او جاهلانو د غلط باور پر سر ستر ګوزار دئ چي جاهل قومونه پرې باور لري او د شفاعت په اړه ئې باور شرك لړلی دئ.

دوی له الله تعالی پرته د داسي چا عبادت کوي چي "په نه عبادت سره ئې" دوی ته ضرر نشي رسولی او "په عبادت سره ئې" دوی ته ګټه نشي رسولي او وايي: دا د الله په وړاندي زموږ شفاعت کوونکي دي!!

قرآن د هغو مشرکانو حالت څومره ښه او دقیق انځور کړی چي په دې ډول شفاعت باور لري او خپل مزعوم شفاعت کوونکي ئې د الوهیت تر درجې لوړ کړي، دا کسان به د قیامت په ورځ په حقیقت پوه شي او په خپلو سترګو به ووینې چي دوی په غلطه روان وو، د دې خیالي شفاعت کوونکو په اړه ئې غلط او باطل تصور درلود، هغه چي دوی په دنیا کي له الله تعالی

سره برابر او شريكان گرځولي وو، نه يوازي د شفاعت كولو توان نه لري بلكې له دوی به خپله بې زاری اعلانوي او په خپله غلطۍ به اعتراف كوي:

﴿إِذْ تَبَرَّأَ ٱلَّذِينَ ٱتُّبِعُواْ مِنَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُواْ وَرَأَوُاْ ٱلْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ ٱلْأَسْبَابُ ﴿١٦٦﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُواْ لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُواْ مِنَّا كَذَٰلِكَ يُرِيهِمُ ٱللَّهُ أَعْمَٰلَهُمْ حَسَرَٰتٍ عَلَيْهِمْ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنَ ٱلنَّارِ ﴿١٦٧﴾ البقرة

هغه وخت چې متبوعان (پیشوايان) به له خپلو تابعانو (پلويانو) بې زار وي او عذاب به وگوري او ټولې اړيكې به ئې وشلېږي. او هغه چې متابعت ئې كولو وبه وايي: كاش (دنيا ته) بېرته ستنېدل مو (په برخه شوی) وی، چې له دوی داسي بې زار شو لكه چې دوی له موږ بې زار شوي، همداسي به الله دوی ته خپل عملونه په خپل ځان د حسرتونو په بڼه كي وښيي او له اور به وتونكي نه وي.

هغه وگړي چې په دنيا كې ئې د ظالمو او مفسدو سياسي او مذهبي مشرانو قيادت منلی، او ټگمارو پيرانو لمن ئې نيولې وه؛ يا ئې د دې لپاره د ظالمانو ملاتړ كړی چې له دوی ئې طمع وه او يا د دوی له مؤاخذې او نيوني وېرېدل او يا د جهل او ناپوهۍ او كوم بل غرض او مرض له كبله، نو د قيامت په ورځ او هغه وخت چې الهي عذاب او له دوی د خپلو پيرانو او مشرانو بې زاري په خپلو سترگو وگوري، په خپلې غلطۍ به پوه شي چې ولې ئې د الله عذاب هېر كړی وو او د ظالمو واكمنانو له ځواك او عذاب د وېرې له كبله ئې د الله د دښمنانو ملگرتيا كړې وه، وبه گوري چې د ځواك اصلي خاوند الله دئ او دا په ظاهر كې ځواكمن مشران د ده په وړاندي څومره ناتوانه او ضعيف دي، له چا چې دوی د مرستي طمع كوله په خپله د الله په عذابونو اخته دي، نه يوازي د دوی مرسته نه شي كولی بلكې له دوی بې زار دي، دا طمع به كوي چې كاش بېرته دنيا ته وگرځي او هلته له دوی خپله بې زاري اعلان كړي. د قيامت په ورځ به د دغو مشرانو په اړه وايي:

تَٱللَّهِ إِن كُنَّا لَفِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٩٧﴾ إِذۡ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٩٨﴾ وَمَآ أَضَلَّنَآ إِلَّا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿٩٩﴾ فَمَا لَنَا مِن شَٰفِعِينَ ﴿١٠٠﴾ وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ ﴿١٠١﴾ الشعراء

قسم په خدای چې موږ په څرګنده ضلالت کې وو (سمه لار مو ورکه کړې وه) چې تاسو مو له رب العالمین سره برابر کړي وئ، موږ بل چا نه یو بې لارې کړي مګر دغو مجرمینو، اوس نه شفاعت کوونکي لرو او نه کوم رښتینی دوست.

د قیامت په ورځ چې ټول حقائق به څرګند شي، وبه لیدل شي چې دا مشرکه ډله او په مشرکانه شفاعت باور لرونکي به په خپله خپل باورونه غلط او ځانونه به ګمراه بولي، اعتراف به کوي چې دوی خپل لویان؛ ژوندي او مړه بتان؛ د الوهیت درجې ته اوچت کړي وو او هغه کسان به مجرم شمېري چې دوی ئې بې لارې کړي وو او وبه وایي: اوس نه داسي شفیع لرو چې د خدای په وړاندې زموږ شفاعت او مرسته کولی شي او نه داسي دوستان او اولیاء چې ګمان مو کولو دوی پر موږ او موږ پر دوی ګران یو او د قیامت په ورځ به د الله په وړاندې زموږ حمایت او شفاعت کوي!!

همدا راز قرآن فرمایي:

يَوۡمَئِذٖ لَّا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ إِلَّا مَنۡ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَرَضِيَ لَهُۥ قَوۡلٗا ﴿١٠٩﴾ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلۡمٗا ﴿١١٠﴾ طه

په دغه (د قیامت) ورځ به شفاعت څه ګټه نه رسوي، مګر د هغه چا چې خدای اجازه ورکړې او د ده په وینا راضي شي. هر هغه څه ورته معلوم دي چې د دوی مخې ته دي یا ئې شا ته دي او دوی علماً پرې احاطه نشي کولی.

یعني د قیامت په ورځ به د هیچا شفاعت څه ګټه نه شي رسولی؛ مګر د هغه چا چې خدای اجازه ورکړې او د ده پر وینا راضي شي، الله تعالی پر دې راضي شي چې هغه څه ووایي او یوازې هغه څه به ویلی شي چې الله تعالی پرې راضي کېږي، نه د الله تعالی له اجازت او رضایت پرته شفاعت کولی شي او نه د نامستحقو په اړه د شفاعت مجال تر لاسه کولی شي. دا ځکه

چې الله تعالی ته هر هغه څه معلوم دي چې د دوی مخې ته دي یا ئې شا ته دي، په ظاهر او باطن ئې، په ماضي او مستقبل ئې، په مخکیني عمل ئې او په راتلونکې مناسبې سزا ئې، په هغو کارونو ئې چې وړاندې ئې لېږلي او هغه چې شا ته ئې پرېښې؛ پر ټولو پوهېږي؛ نو د داسې علیم ذات په وړاندې به شفاعت څه ارزښت لري؟ شفاعت خو د هغه چا په وړاندې ارزښت لري چې د بل معلومات ته اړ وي، بل ئې د چا له ښېګڼو خبر کړي، ورته ووایي: دا ښه سړی دئ، د سزا وړ نه دئ، د بخښنې مستحق دئ، زه ئې پېژنم نو ځکه ئې شفاعت کوم!!

د آیت د وروستۍ فقرې په اړه لږ توقف په کار دئ. دلته ویل شوي: (وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلۡمًا: او دوی علماً پرې احاطه نشي کولی)؛ دا پوښتنه راولاړېږي چې په چا او څه علماً احاطه نشي کولی؟ پر الله تعالی که پر هغه چا چې شفاعت ئې کېږي؟ د الله تعالی پر علم او که د دې کس پر کړنو؟ که څه هم اکثر مفسرین دا الله تعالی او د هغه علم ته راجع ګڼي؛ خو د فقرې له الفاظو او سیاق و سباق معلومېږي چې مراد ترې د دغه کس حالت او کړني دي. یعني شفاعت کوونکي په بشپړه توګه نه پوهېږي چې دا کس څنګه دئ، د شفاعت وړ دئ که نه؟ د بخښنې مستحق دئ که د عذاب؟ د کوم کس کوم عمل ښه ورته معلوم شوی او همدې ته په پام سره ئې د شفاعت او بخښنې وړ ګڼي، خو هغه له دې خبر نه دئ چې د دې عمل تر شا ئې څه اراده او قصد وو او نور عملونه ئې څنګه دي. دا تعبیر د دې لپاره دقیق دئ چې دلته د همدې کس په اړه د علم او معلومات موضوع مطرح ده؛ نه د الله تعالی د علم موضوع، مطلب ئې دا دئ چې الله تعالی ئې ښه پېژني او شفاعت کوونکي ئې سم او په بشپړه توګه نه پېژني.

دا آیتونه په دې دلالت کوي چې د قیامت په ورځ به د مشرکانو مزعوم شفاعت نه وي، د شفاعت په اړه د دوی تصور او ګمان بې اساسه او غلط دئ، دا ډول تصور په شرك ککړ او له شرکي افکارو راولاړ شوی تصور دئ، شریعت هغه شفاعت معتبر ګڼي چې خصوصیات ئې دا وي:

۱. شفاعت کوونکي د الله تعالی له خوا ټاکل کېږي او د الله تعالی له اجازې وروسته به شفاعت کولی شي.

۲. د شفاعت وړ او د سپارښتني مستحق کسان به هم د الله تعالی له خوا غوره کېږي او له الهي اذن وروسته به د دوی شفاعت کېدی شي.

۳. هیڅوك دا جرأت او وس نه لري چي د الله تعالی له اجازې پرته د هغه په وړاندي څه ووایي او نه څوك د هغه له اذن پرته د چا د شفاعت حق او جرأت لري.

٤. هغه شخص د شفاعت وړ بلل کېږي چي مسلمان وي خو جرم ترې شوی وي، د مشرك لپاره شفاعت نشته، الله تعالی له شرك پرته د ټولو ګناهونو بخښنه کوي، خو شرك نه بخښي او نه د مشرك په حق کې د چا شفاعت مني او هیڅوك هم دا جرأت نشي کولی چي د الله تعالی په وړاندي د کوم مشرك شفاعت وکړي.

حقیقت دا دئ چي د شفاعت په اړه هم د شرك ځېلو پیرپالو باورونه د د قرآن، حدیث او ټولو څرګندو اسلامي لارښوونو خلاف او د ټګمارانو له لوري اختراع شوي غلط باورونه دي. په خیر القرون کې نه خاصه امتیازي مذهبي فرقه وه، نه څوك د ملا، مولوي، شیخ الاسلام و المسلمین، شیخ القرآن و الحدیث په القابو ستایل کېدو، نه پر امامت، خطابت او اذان اجوره وه، نه پیري او مریدي وه، نه د پیر او مرشد دربار ته قلنګ ورکول، نه په فال، دم او تعویذ شکرانې تر لاسه کول، نه د پېریانو نیونه او ناسته او په دم او تعویذ ئې پاځول او په بوتل کې بندي کول او پېریانیان رغول، نه د جماعت له لمانځه پرته د جهري ذکر حلقې، په جومات کې په جګ غږ خبري هم بې ادبي ګڼل کېده؛ د ساز او سرود، نڅا، ګډا، د چا په پښو کې رغړېدا او دې ته ورته ګنده کړنو او حرکاتو چا تصور هم نه شو کولی. دا ټول له یهودانو، هندوانو، بودایانو او نورو انحرافي مذاهبو اقتباس شوي خرافات دي؛ هیڅ دیني، عقلي او علمي بنسټ نه لري؛ مذهبي رقصونه او ځانونه وهل او زخمي کول، سحر او جادو او اغېز ئې له یهودانو کاپي شوي، بایبل د عیسی علیه السلام په اړه وایي: خدای د مسیح په بڼې کې دنیا ته راغی، له مریم وزېږېد، ووړ وو ستر شو، له پېریانیانو به ئې پېریان پاځول، له یوې پېریانۍ (مریم مجدلیه) چي وایي داسي سخته لېونۍ او پېریانۍ وه چي عیسی اوه پلېتي ارواح ترې ایستلې وې!!)، ۱۲ شاګردانو به ئې هم دا کار کولو... په

پای کې د یهودي مذهبي مشرانو په فتوی او د رومي واکمنو په امر پانسي شو، پر لاس پښو ئې مېخونه ټکوهل او دا ټول د دې لپاره چې د خدای او د خدای د زوی وینه د ټولو مسیحیانو د ګناهونو لپاره فدیه شي!!

قرآن د شفاعت په اړه د یهودانو هغه غلطه انګېرنه او ناسم باور او تعبیر ردوي چې له حقیقي دین د دوی د انحراف باعث شو؛ فرمايي:

يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾ وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا لَّا تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا شَفَٰعَةٞ وَلَا يُؤۡخَذُ مِنۡهَا عَدۡلٞ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴿٤٨﴾ البقرة

اې بني اسرائیلو! زما هغه نعمتونه درپه یاد کړئ چې پر تاسو مې پېرزو کړل او تاسو ته مو پر ټولو نړۍ والو فضیلت درکړ. او له هغې ورځېووېرېږئ چې نه یو کس د بل کس مجازات په غاړه اخیستی شي، نه د ده په اړه کوم شفاعت قبلېدی شي، نه څه بدله ترې اخیستل کېدی شي او نه ئې مرسته کېدی شي.

بني اسرائیلو ته د ایمان، جهاد، هجرت، صبر او د موسی علیه السلام د ملګرتیا له امله پر ټولو نړۍ والو فضیلت او لوړوالی ورکړی شو، د فرعون واکمني د دوی په لاس نسکوره شوه، د فرعون شتمني او د ده د لښکرو وسائل د دوی په لاس کې پرېوتل او د خلکو فکري او اخلاقي قیادت د دوی په برخه شو، خو د شرك، بې صبرۍ او له جهاد د لاس اخیستو له کبله ئې دا ټول افتخارات بېرته له لاسه ووتل.

په دنیا کې اکثراً مجرمان یا له دې کبله له مجازات ژغورل کېږي چې بل ئې د جرم مسئولیت پر غاړه واخلي، یا ئې کوم مخور شخصیت شفاعت وکړي، یا جریمه ورکړي او یا ئې کوم د زور او ځواك خاوند مرسته وکړي او له مجازات ئې وژغوري، په دې مبارك آیت کې منحرفو دیندارانو ته ویل شوي چې د قیامت په ورځ به نه ستاسو هغه پیران، شیخان او منلي شخصیتونه ستاسو شفاعت کولی شي چې تاسو د دوی لاس او لمن نیولې او د شفاعت طمع ترې لرئ، نه به مو مال او دولت ژغورلی شي او نه خپل زور ځواك او

نه د هغه چا زور ځواك چي تاسو پرې تكیه او بروسه كوله. د مسیحیانو عقیده دا وه چي عیسی علیه السلام د خپل امت د ټولو ګناهونو پېټی پر خپلو اوږو واخیست، د همدې لپاره په صلیب ځوړند شو، د قیامت په ورځ به د دغي قربانۍ له امله د ده امت له هر راز پوښتني او ګروېږني پرته جنت ته درومي، له اصلي مذهب بې خبره جاهل مذهبیان اكثراً همداسي وي چي ګمان كوي د قیامت په ورځ به د دوی شیخ، پیر او مذهبي مشران دوی له هر راز محاسبې او مجازات ژغوري، د داسي چا لمن ئې نیولې چي جنت ته د دوی د رسولو ذمه وار دئ او د الله په وړاندي د دوی شفاعت كافي دئ چي ګناهونه ئې ورته معاف شي. په بني اسرائیلو كي همدا انحرافات راپیدا شول نو ځكه الله تعالی هغوی ته فرمایي چي د قیامت په ورځ داسي شفاعت، معاوضه او مناصره نشته چي تاسو د الله له محاسبې او عذاب وژغوري. له اسلامي لارښونو بې خبر یو شاعر وایي:

آسان نبود بردن ما جانب دوزخ آنجا مگر هم احمد مختار نباشد

یعني الله تعالی ته هم آسانه نه ده چي موږ دوزخ ته بوځي دا خو هغه مهال ممكن ده چي هلته محمد علیه السلام (احمد مختار) نه وي!!

قرآن د شفاعت په اړه د دوی د دې غلط تصور د تردید لپاره فرمایي:

- د قیامت په ورځ به د هیچا شفاعت د هیچا لپاره هیڅ ګټه نه لري؛ مګر هغه چا ته چي د شفاعت وړ وي او د داسي چا له لوري ئې شفاعت وشي چي د شفاعت كولو وړتیا ولري، الله ورته د شفاعت اجازه وركړې وي؛ شفاعت ئې سم وي او د مستحق په اړه ئې شفاعت كړی وي.
- هغه مشرك او مجرم چي په الهي عدالت كي د مجازات او مؤاخذې وړ وي؛ د قیامت په ورځ به داسي څوك موندلی نه شي چي د ده شفاعت وكړي، مرسته ئې وكړي او له الهي محاسبې او عذاب ئې وژغوري. قرآن فرمایي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَـٰكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا بَيۡعٞ فِيهِ وَلَا خُلَّةٞ وَلَا شَفَـٰعَةٞۗ وَٱلۡكَـٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ﴿٢٥٤﴾ البقرة

اې مؤمنانو! زموږ له لوري دركړل شوې روزي د هغي ورځي تر رارسېدو وړاندي انفاق كړئ چي نه پېرل او پلورل په كي شته او نه دوستي او نه

شفاعت؛ او دا کافران ظالمان دي.

دلته د الله په لار کې انفاق ته بلنه ورکړی شوې او مؤمنانو ته ویل شوي چې د هغې ورځې تر رارسېدو مخکې د الله په لار کې خپل شته انفاق کړئ چې نه په کې پېر پلور شته، نه څوك داسې خپلوي پاللی شي چې مجرم خپلوان د الله له مؤاخذې وژغوري او نه د یوه سپارښتنه او شفاعت بل ته ګټه رسولی شي، معامله به مو یوازې له الله تعالی سره وي.

په ورپسې آیت کې ویل شوي:

**.... مَن ذَا ٱلَّذِى يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىۡءٍ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ ....﴿٢٥٥﴾ البقرة**

.... دا به څوك وي چې د ده له اجازې پرته د ده په وړاندې سپارښتنه او شفاعت وکړی شي، په داسې حال کې چې دی په هر هغه څه پوهېږي چې د دوی مخې ته دي یا ئې شا ته دي او دوی د ده له علم (له ټولو علومو) یوازې په دومره څه احاطه کولی شي چې دی ئې وغواړي.

• یعنې هیڅوك نه شي کولی د ده له اذن او اجازې پرته ده ته کومه سپارښتنه وکړي، داسې نه ده چې د چا دعاء د بل په سپارښتنه مني او داسې هم نه ده چې په آخرت کې به څوك د بل په سپارښتنه د ده له نیونې او مؤاخذې ژغورل کېږي، دا پرېکړه دی په خپله کوي چې د چا دعاءګانې قبولې کړي، د چا په اړه شفاعتومني او چا ته د شفاعت کولو اجازه ورکړي. الله تعالی د دنیوي حکامو او واکمنانو په څېر نه دئ چې مقرب درباریان ئې د چا له وړتیا خبر کړي او ورته ووایي: صاحبه! دا تا ته مخلص دئ، د ترحم وړ دئ، نېك انسان دئ، په دې ارزي چې سؤال ئې ومنې، غوښتنه ئې قبوله کړې او له ګناه ئې ورته تېر شې؛ هیله ده په راتلونکي کې مفید ثابت شي!! الله تعالی د دوی په څېر نه دئ، په هر څه پوهېږي، د خلکو له پټ او څرګند، نیت او عمل، ماضي او مستقبل خبر دئ، څنګه به څوك د ده په وړاندې د چا ستاینه، سپارښتنه او شفاعت کوي؟!

هر څا ته علم او پوهه دى وركوي، سترګي، زړه، غوږونه، دماغ او اعصاب ئې د ده په اراده ورته كار كوي، لار ورته ښيي او د ښه او بد، مفيد او مضر په پېژندلو كې ئې مرسته كوي، په هر څه چي انسان علماً احاطه كوي او په كوم څه د پوهېدو توفيق تر لاسه كوي نو دا ټول د الله په خوښه او اذن او په همغه حد كې وي چي الله ئې وغواړي.

همدا راز قرآن هغه شفاعت نفى كوي چي په شرك منتهي كېږي، فرمايي:

وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَادَىٰ كَمَا خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَتَرَكْتُم مَّا خَوَّلْنَاكُمْ وَرَاءَ ظُهُورِكُمْ ۖ وَمَا نَرَىٰ مَعَكُمْ شُفَعَاءَكُمُ الَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَاءُ ۚ لَقَد تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنكُم مَّا كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٩٤﴾ الانعام

بې شكه چي زموږ خوا ته همغسي يوازي راغلئ لكه چي لومړى ځل مو پيدا كړي وئ او هر هغه څه مو شا ته پرېښودل چي موږ پر تاسو پېرزو كړي وو او اوس ستاسو هغه شفاعت كوونكي هم نه درسره وينو چي ګمان مو كړى وو دوى ستاسو په اړه زموږ شريكان دي، بې شكه چي ستاسي تر منځ بېلتون راغى او مزعوم شفاعت كوونكي مو درنه ورك شوي.

د قرآن متعدد آيتونه په دې دلالت كوي چي د قيامت په ورځ شفاعت نشته او د هيڅا شفاعت بل څا ته ګټه نه شي رسولئ، له الهي عذاب او مجازات ئې نه شي ژغورلى، د دې آيتونو ترڅنګ داسي آيتونه هم شته چي د "مشروط شفاعت "په اثبات او جواز دلالت كوي، قرآن فرمايي:

... مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِندَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ ۚ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ۖ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾ البقره:٢٥٥

.... هغه به څوك وي چي د ده په وړاندي د چا شفاعت وكړى شي، مګر د ده له اذن او اجازې وروسته؟ په ټولو هغو شيانو پوه دئ چي د دوى مخي او يا شا ته دي او دوى د ده له علم په هيڅ شي احاطه نشي كولى مګر په هغه څه چي ده غوښتي....

يعنی هغه شفاعت نشته چي تاسي ئې تصور او گمان كوئ، داسي نه ده چي كومه فرشته يا كوم مقرب بنده به يو شمېر مجرمين راغونډوي، د خدای حضور ته به ئې ورولي او هلته به ئې شفاعت كوي، نه؛ داسي نه ده؛ بلكه شفاعت كوونكي به هم د الله تعالی له لوري غوره كېږي او شفاعت كېدونكي هم، الله به په خپله مشخصو كسانو ته د خاصو كسانو په اړه د شفاعت اجازه وركوي، دواړه به د الله تعالی له لوري ټاكل كېږي، داسي گمان ونه كړئ چي د لوی رب په وړاندي به څوك د ده له اجازې پرته د خبرو او شفاعت توان او جرأت ولري او يا به څوك دا توان ولري چي د الله تعالی په نزد او د ده له اجازې پرته د كوم مجرم شفاعت وكړي، په هر څه عالم خدای د كوم مجرم له حال خبر كړي او د هغه د داسي صفاتو په اړه ورته معلومات وركړي چي له مجازاتو پرې معاف شي. الله تعالی فرمايي:

يَوۡمَئِذٖ لَّا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ إِلَّا مَنۡ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَرَضِيَ لَهُۥ قَوۡلٗا ﴿١٠٩﴾ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلۡمٗا ﴿١١٠﴾ طه

په هغه ورځ به شفاعت څه گټه نه رسوي، مگر د هغه چا چي خدای اجازه وركړي او د ده په وينا راضي شوی وي؛ هر هغه څه ورته معلوم دي چي د دوی مخي ته دي يا ئې شا ته دي او دوی علماً پر ده احاطه نشي كولی.

بل ځای كي فرمايي:

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَۖ مَا مِن شَفِيعٍ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ إِذۡنِهِۦۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣﴾ يونس:۳

بې شكه چي ستاسو رب هغه الله دئ چي آسمانونه او زمكه ئې په شپږو ورځو كي پيدا كړل، بيا ئې پر عرش استوی وكړه، چاری سمبالوي، هيڅ داسي شفاعت كوونكی نشته چي د ده له اذن او اجازې پرته شفاعت وكړی شي، دا ستاسي رب الله دئ، نو د ده عبادت وكړئ، آيا عبرت نه اخلئ؟

دا مبارك آيت لاندېني مهم مطالب بيانوي:

- الله تعالی ځمکه او آسمانونه په شپږو ورځو (تکویني مراحلو) کې پیدا کړل. د دې تکویني مراحلو لپاره د ورځو نوم غوره شوی، دې ته مو باید پام وي چې کوم نومونه انسانانو د مخلوقاتو لپاره وضع کړي؛ کله چې دا نومونه د انسان او نورو مخلوقاتو په ارتباط په قرآن کې راځي نو په حقیقي معنی راځي، لکه ورځ یا شپه چې د دوا‌ړو اوږدوالی څلرویشت ساعته دئ، د انسان په اړه په همدې حقیقي معنی راځي، خو کله چې د الله تعالی په ارتباط راځي نو په مجازي معنی راځي، په دې کې له شپږو ورځو مراد د انسان د معیارونو مطابق ورځې نه دي چې نژدې ۷۲ ساعته کېږي، بلکې داسې شپږ تکویني مرحلې دي چې اوږدوالی ئې له الله تعالی پرته بل چا ته معلوم نه دئ، په قرآن کې به تاسو وګورئ چې کله د الله تعالی په ارتباط همدا ورځ زر کاله ښودل شوې او کله پنځوس زره کاله، له دې په ډېر صراحت سره معلومېږي چې دا شپږ ورځې د انسان د وړو معیارونو مطابق ورځې نه دي، بلکې د الله تعالی له شأن سره مناسب موده ده.
- آسمانونه او ځمکه ئې له پیدایښت وروسته مهمل او خپلې مخې ته نه دي پرېښې، بلکې هغه اداره کوي او چارې ئې سمبالوي، د دغه مطلب د افادې لپاره قرآن دا الفاظ غوره کړي: استوی علی العرش: پر عرش برابر شو، د عرش نوم هم انسان د مخلوق لپاره وضع کړی، چې عرب ورته عرش وايي او موږ ورته تخت یا کټ، کله چې په قرآن کې دا نوم د الله تعالی په ارتباط راځي نو مجازي معنی ئې مراد وي نه حقیقي معنی، پر عرش د استوی معنی هم په هغه معنی نه ده چې انسان ئې پر تخت یا کټ د ناستې لپاره کاروي، انسانان پر تخت کښېنستا د یو چا د پاچا کېدو لپاره کاروي، د همغه مطلب د افادې لپاره قرآن دا الفاظ د الله تعالی په اړه راوړي او مطلب ئې دا دئ چې الله تعالی د آسمانونو او ځمکې ټولواک دئ، د عالم له پیدایښت وروسته ئې د آسمانونو او ځمکې ټولې چارې په خپل واک کې اخیستې دي، د مالك الملك په توګه په کې تصرف کوي، د همدې لپاره په دې فقرې پسې متصل ویل شوي چې (یدبر الامر: کارونه سمبالوي)، یعني د (استوی علی العرش) معنی همدا ده، په دې سره قرآن غواړي د بایبل هغه غلطه وینا تصحیح کړي چې وايي: خدای په شپږو ورځو کې آسمانونه او ځمکه پیدا کړل او په اومه ورځ له ټولو کارونو فارغ شو او آرام ئې وکړ!! قرآن دا غلطه خبره ردوي او وايي

الله تعالی نه ستومانه کېږي، د عالم پیدایښت، ساتنه او پالنه ئې نه ستومانه کوي، د عالم له پیدایښت وروسته ئې د ټولو چارو سمبالول په خپل واك کې ونیول. پر عرش د استوی معنی دا ده چې د ټولو موجوداتو د مالك، حاکم او ټولواك په توګه ئې د دې پراخ عالم د ټولو امورو تدبیر په خپل واك او اختیار کې واخیست.

• هیڅوك د الله له اذن او اجازې پرته د هغه په وړاندې د شفاعت او سپارښتنې توان او صلاحیت نه لري، هغه د دنیا د پاچایانو په شان نه دئ چې د نورو سپارښتني او شفاعت ته اړ وي، داسې نه ده چې باید بل څوك یو مظلوم ور معرفي کړي، بل څوك د چا د لیاقت او اهلیت په اړه معلومات ورکړي او د ده او بنده تر منځ واسطه شي.

• هغه رب او پالونکی چې باید یوازې د هغه عبادت وکړې او یوازې له هغه مرسته وغواړې، صفات ئې دا دي: د ټولې هستې خالق، ستا او د ټولو مخلوقاتو رب او پالونکی دئ، په عرش ئې استوی کړې؛ یعنې د هر څه مالك او ټولواك دئ، د هستې د ټولو امورو د تدبیر اختیار ورسره دئ، ستا او هغه تر منځ د رابطې لپاره هیڅ وسیلې، واسطې، سپارښتنې او شفاعت کوونکې ته ضرورت او اړتیا نشته. دا درس باید درته پند وي او د هغه په رڼا کې نېغه لاره له کړې ببله کړې او له الله تعالی پرته بل چا له رجوع او پناه وړلو ځان وساتې.

هغه د شفاعت وړ بلل کېږي چې مسلمان وي خو په داسې حال کې شویېدلی او ګناه ئې کړې چې پر خپل جرم معترف او پرې پښېمان وو؛ هغه چې مکرر مجرم چې خپل جرم ګناه نه ګڼې او پرې پښېمان نه وي؛ نه به ئې الهي عفو په برخه شي او نه مقبول شفاعت. قرآن په دې اړه فرمايي:

إِنَّمَا ٱلتَّوۡبَةُ عَلَى ٱللَّهِ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٖ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴿١٧﴾ وَلَيۡسَتِ ٱلتَّوۡبَةُ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلۡمَوۡتُ قَالَ إِنِّي تُبۡتُ ٱلۡـَٰٔنَ وَلَا ٱلَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمۡ كُفَّارٌۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا ﴿١٨﴾

پر الله خو يوازي د هغو توبه (قبلول) دي چي بد کار په ناپوهۍ سره کوي، بيا ورپسې ژر توبه کوي، نو الله به پر دغو (له خپل رحمت سره) راګرځي او الله باحکمت پوه دئ. او دا توبه د هغو لپاره نه ده چي تر هغه بد کارونه کوي چي کوم يوه ته ئې مرګ راوړاندي شي نو وايي: اوس مي توبه ده او نه هم د هغو لپاره چي کافر مري؛ دوی خو هغه دي چي دردناك عذاب مو ورته تيار کړی.

يعني الله د بنده توبه قبلوي، بنده ته ئې د توبې دروازه خلاصه پرېښې، توبه کوونکی بنده ئې خوښېږي، د توبې منل ئې پر خپله ذمه اخيستې، مخصوصاً د هغه بنده توبه چي په ناپوهۍ سره د ګناه کوم کار ترې وشي او ژر توبه وکړي. د آيت په پای کي د توبې په ارتباط د الله دوه صفات (عليم) او (حکيم) ذکر شوي چي مطلب ئې دا دئ: الله پوهېږي چي څوك له خپلي ګناه واقعاً نادم دئ، له خپل بغاوت پښېمانه دئ، بېرته خپل رب ته راګرځي، خپله غلطي جبرانوي او له ګناه د لاس اخيستو اراده لري. د توبې دروازه خلاصه پرېښودل او ګنهګار ته ويل چي که توبه وکړې؛ الله تعالی له تېرو ګناهونو درته تېرېږي؛ دا پر الهي حکمت مبتني پرېکړه ده. د توبې درواز تړل بد او خطرناك عواقب لري، که ګنهګار ته د ځان د اصلاح او د خپلي ګناه د جبران فرصت ورنکړی شي او احساس کړي چي د بېرته راګرځېدو دروازې ئې پر مخ تړل شوې دي؛ نو هغه به ناچار د بغاوت او عصيان په مسير کي مخکي درومي. په دې سره الله تعالی د اسلامي ټولني چارواکي دې ته متوجه کوي چي ګنهګار ته د توبې مجال او فرصت ورکړئ، دا د حکمت تقاضی ده، د حدودو اجراء وروستی علاج وګڼئ، داسي لکه حاذق طبيب چي لومړی د پرهيز، بيا د دواء او په پای کي د جراحي سپارښتنه کوي.

- د کافر او مشرك لپاره شفاعت نشته، الله تعالی له شرك پرته د ټولو ګناهونو بخښنه کوي. خو شرك نه بخښي او نه د مشرك په حق کي د چا شفاعت قبلوي او هيڅوك هم دا جرأت نشي کولی چي د الله تعالی په وړاندي د کوم مشرك شفاعت وکړي.

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا۝٤٨ النساء

يقيناً چي الله شرك نه بخښي او له شرك پرته نور څه هر هغه چا ته بخښي چي د ده خوښه وي او څوك چي له الله سره شرك وكړي نو د ستري گناه افتراء ئې كړې.

په دې مبارك آيت كې د مؤمنانو لپاره ډېر ستر زېرى دئ او په دې كې د الله يوه ډېره ستره او عظيمه پېرزوينه بيان شوې، مؤمنانو ته زېرى وركړى شوى چي رحمن خداى له شرك پرته هره گناه بخښي، كه كبيره وي او كه صغيره، كه ئې توبه كړې وي او كه نه، يوازې كفر او شرك له توبې پرته نه بخښي، نور نو صغاير په نېكو عملونو محوه كوي او كبائر هم په توبې سره او هم ئې له توبې پرته په خپل فضل سره بخښي. د (لِمَن يَشَآءُۚ) له فقرې دا مطلب مه اخلئ چي ښايي تاسو به په هغه زمره كې رانشئ چي الله تعالى ئې د بخښني او مغفرت وړ گڼي. الله تعالى په دې اړه خپل سنت او مشيت څرگند كړى، په ايمان، توبه، هجرت، جهاد، شهادت، انفاق في سبيل الله او نېك عمل سره ستا گناهونه بخښي، دا د الله وعده ده.

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ: مَا فِي الْقُرْآنِ آيَةٌ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ هَذِهِ الآيَةِ (إِنَّ اللَّهَ لاَ يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ) الترمذى

له علي بن ابى طالب رضي الله روايت دئ چي وايي: ما ته په قرآن كې تر دې آيت زيات محبوب آيت نشته: " إِنَّ اللهَ لاَ يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ: يقيناً چي الله دا نه بخښي چي له ده سره شرك وشي او له دې پرته هر څه هغه چا ته بخښي چي دى ئې وغواړي".

همد راز فرمايي:

قُلۡ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسۡرَفُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ لَا تَقۡنَطُواْ مِن رَّحۡمَةِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًاۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ۝٥٣ وَأَنِيبُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ

وَأَسْلِمُواْ لَهُۥ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ ٱلْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿٥٤﴾ الزمر
ووايه: اې زما هغو بندګانو چي پر خپلو ځانونو ئې تېری کړی! د الله له رحمت مه ناهيلي کېږئ، يقيناً چي الله ټول ګناهونه بخښي، يقيناً چي هغه مهربان بخښونکی دئ؛ او د خپل رب لوري ته ستانه شئ او د ده په وړاندي تر هغه د مخه تسليم شئ چي عذاب درته راشي بيا مو کومه مرسته ونه کړی شي.

د دې مبارکو آيتونو مهم مهم مطالب دا دي:

رسول الله صلی الله عليه و سلم ته سپارښتنه شوې چي د الله تعالی له لوري مؤمنانو ته ووايي: ١- اې زما هغو بندګانو چي ګناه ئې کړې او په دې سره ئې پر خپلو ځانونو تېری کړی! د الله له رحمت مه ناهيلي کېږئ، ٢- يقيناً چي الله تعالی ټول ګناهونه بخښي، ٣- يقيناً چي هغه مهربان بخښونکی دئ، ٤- د خپل رب لوري ته ستانه شئ او د ده په وړاندي تر هغه د مخه تسليم شئ چي عذاب درته راشي بيا داسي څوك ونه مومئ چي ستاسو مرسته وکړی شي او له الهي عذاب مو وژغورلی شي.

## د عکس او رسم په اړه فتوی

دا هم زموږ يوه بله ستره معضله ده چي د يوې درنې او معتبري دار الافتاء د نه شتون له کبله ئې ستونزي زېږولي او اختلافات ئې راولاړ کړي؛ هغه چي له اسلام او لارښوونو ئې او له تاريخي حقائقو خبر وي پوهېږي چي هغه (عکس) چي کامره ئې اخلي له هغه رسم او تصوير چي په لاس جوړېږي؛ ژور او پراخ توپيرونه لري؛ (عکس) نوې فتوی ايجابوي؛ په رسم ئې قياسول؛ قياس مع الفارق او ناسم کار او پر دې قياس ولاړه فتوی ناسمه او غير معتبره فتوی ده؛ ټولي هغه فتوی ګاني چي د کامرې له اختراع وړاندي د تصوير په اړه ورکړی شوې؛ اطلاق ئې يوازي پر هغه تصوير کېدی شي چي کوم رسام په خپل لاس جوړ کړی او خپله سليقه ئې په کې کارولې؛ يا ئې د هغه چا تصوير جوړ کړی چي اجوره ئې ترې اخيستې، له بد رنګه ئې ښايسته

جوړ کړی، له سپېره ئې سپېڅلی، له ډارن ئې زړه ور او له سپك ئې درروند؛ اما عکس د کامرې کار دئ؛ نه دروغ وایي او نه کمی او زیاتی کوي، د ماهر عکاس کار فقط دا دئ چې کافي نور او مناسبه رڼا تنظیم او تیاره کړي، سمه زاویه غوره کړي او په داسي حالت او داسي ځای کې د چا عکس واخلي چې کاملاً طبیعي، غیر تصنعي معلوم شي او کمی او زیاتی په کې نه وي، د کامرې عکس کټ مټ داسي دئ لکه په هنداري او اوبو کې د چا تصویر؛ توپیر ئې فقط په دې کې دئ چې هنداره او اوبه تصویر نه شي ضبطولی خو کامره ئې ضبطوي. څوك چې د عکس په اړه فتوی ورکوي؛ باید څو حقائق په پام کې ولري:

۱. په قرآن کې د عکس او تصویر په اړه نه یوازي هیڅ حکم نه مومو؛ بلکې د سلیمان علیه السلام په اړه ویل شوي:

يَعۡمَلُونَ لَهُۥ مَا يَشَآءُ مِن مَّحَٰرِيبَ وَتَمَٰثِيلَ وَجِفَانٖ كَٱلۡجَوَابِ وَقُدُورٖ رَّاسِيَٰتٍۚ ٱعۡمَلُوٓاْ ءَالَ دَاوُۥدَ شُكۡرٗاۚ وَقَلِيلٞ مِّنۡ عِبَادِيَ ٱلشَّكُورُ ١٣ سبإ

هغه څه به ئې ورته جوړول چې ده غوښتل؛ لکه لوړې جنګي کلاګاني، تماثیل (انځورونه)، د حوضونو په څېر طشتونه او تم شوي ثابت دېګونه، (ورته ویلې مو وو:) اې د داؤد پلویانو! د شکر په توګه عمل کوئ؛ او زما لږ بندګان شکر کوونکي دي،

په دې مبارك آیت کې د سلیمان علیه السلام په اړه لاندې مطالب راغلي:

- الله تعالی هغه پېریان ورته مسخر کړي ول چې د الله تعالی په حکم به د ده په وړاندې په ډول ډول کارونو لګیا ول، سرغړاوی ئې نه شو کولی، که د دوی کوم چا به سرغړاوی او کوړوالی وکړ نو سزا به ئې لمبه ناك عذاب وو، هغه څه به ئې ورته جوړول چې ده غوښتل، لکه جنګي کلاګاني، تماثیل او انځورونه، د حوضونو په څېر ستر ستر طشتونه او ځای پر ځای ولاړ ستر ستر دېګونه.

- د الله تعالی له لورې ده او د ده اهل او پلویانو ته دا لارښوونه شوې وه چې د شاکرو بندګانو په څېر به عمل کوئ، د الله تعالی د نعمتونو پاس به ساتئ او په همغه توګه به په کې تصرف کوئ چې ستاسو حقیقي منعم ئې

درته خوښوي

دلته بايد څو خبري په پام کي ولرو:

- دا د سليمان عليه السلام معجزه وه چي د پېريانو يوه ډله ورته مسخر او تسليم وه او د ده د خوښي کارونه به ئې ورته کول، نه دا معجزه له ده پرته بل پيغمبر ته ورکړی شوې او نه له ده پرته بل چا ته پېريان مسخر شوي، ځيني ټګماران د خلکو د غولولو لپاره وايي چي پېريان ئې مسخر کړي او د غيب خبري ورته ښيي!! دوی د خلکو د غولولو لپاره وايي: موږ د هغه څه په مرسته پېريان مسخر کړي چي سليمان عليه السلام پرې مسخر کړي ول، د پېريانو له لاري په غيبي خبرو پوهېږو، کولی شو خلکو ته ووايو چي په راتلونکي کي به له کوم برخليك سره مخامخ شي!! هر څوك چي دا ادعاء کوي يو ټګمار او دوکه مار دئ او د قرآن د وينا خلاف خبره کوي، قرآن دلته د پېريانو له قوله وايي: که موږ پر غيب پوهېدلی نو تر ننه به په سپکوونکي عذاب کي نه پاته کېدو، دوی له دې هم عاجز ول چي د سليمان عليه السلام له وفات خبر شي، له نورو غيبي امورو به څنګه خبرېږي؟!

دلته د هغو کارونو په ضمن کي چي پېريانو به سليمان عليه السلام ته کول د (تماثيل) جوړول هم راغلي؛ تمثال هغه تصوير او انځور ته ويل کېږي چي انسان، حيوان، بوټی، يا کوم بل څه تمثيلوي، لسان العرب د تمثال په اړه ليکي: التمثال اسم للشیء المصنوع مشبهاً بخلق من خلق الله: تمثال د هغه مصنوع نوم دئ چي د الله تعالی له مخلوقاتو کوم مخلوق ته ورته وي، د کشاف تفسير وايي: کل ما صور علی صورة غيره من حيوان و غيرحيوان: تمثال هر هغه تصوير ته ويل کېږي چي د کوم حيوان يا غير حيوان په بڼې کي انځور شوی وي. متأسفانه ځيني دا د مجسمې په معنی تعبيروي او وايي: په مخکينيو اديانو کي د مجسمې جوړول جائز وو؛ او ګواکي پېريانو سليمان عليه السلام ته مجسمې جوړولې، دا رأيه ئې د بايبل د غلطو ويناوو تر اغېز لاندي وړاندي کړې؛ خو دا ستره اشتباه او غلطه رأيه ده، د مجسمې جوړول په ټولو الهي اديانو کي تحريم شوي، سليمان عليه السلام ته د مجسمو درلودلو غلطه خبره منسوبول د هغه چا کار دئ چي د بايبل خبره ئې په پټو سترګو منلې او دا په داسي حال کي چي د بايبل په ګڼ شمېر نورو ځايونو کي

د مجسمو له جوړولو جدي ممانعت تر سترګو کېږي، بايبل وايي: خدای د هر ډول مجسمو له جوړولو او د دوی په وړاندي د عبادت له کولو ممانعت کړی او فرمايلي ئې دي: بُت مه جوړوئ او بُتان مه ګمانځئ، مجسمه، د ډبرو ځلي او تراشلې ډبري د ګمانځني لپاره مه جوړوئ... همدا راز وايي: نو بيا خدای له موسی وغوښتل چي بني اسرائيلو ته ووايه: تاسو وليدل چي څنګه مي له آسمانه له تاسو سره خبري وکړې!! نو له دې وروسته له سرو او سپينو زرو ځان ته بتان مه جوړوئ او عبادت ئې مه کوئ...

بايبل د (مختلف قوانين) تر عنوان لاندي ځيني داسي خبري لري چي حتماً ئې له اصلي انجيل اقتباس کړې خو ځيني ئې خپلي پرې علاوه کړې، ليکي:... بت مه جوړوئ او بتان مه ګمانځئ، مجسمه، د ډبرو ځلي او تراشلې ډبري د ګمانځني لپاره مه جوړوئ...د مور او پلار احترام کوئ، غلا مه کوئ، دروغ مه وايئ، څوك مه دوکه کوئ،... جادوګري مه کوئ، فال مه نيسئ، د بت ګمانځونکو په څېر پر خپلو مړو ماتم مه کوئ او خپل مخ او ځان مه زخمي کوئ، د سر وېښتان مو د ماتم په توګه مه ګونځي کوئ او خپل ګرېوان مه څيرئ او د دوی په څېر خالونه مه وهئ، کله چي د عبادت خيمې ته درومئ نو هيڅکله شراب او نور مست کوونکي مشروبات مه څښئ... د خنزير غوښه مه خورئ... زنا او لواطت کوونکي بايد ووژل شي، جادوګران او د روح احضاروونکي بايد ووژل شي... دا دئ ګورئ بايبل داسي خبري هم راوړې چي هر الهي دين ئې کوي خو بايبل د دې تر څنګ ليکي: که د قربانۍ غوښه تر درېيمي ورځي پاتې شوه وئې سوزوئ، ځکه دا نجسه ده... که چا وخوړه ګناهګار دئ، خدای ته ئې بې احترامي کړې بايد له قومه وشړل شي... په خپل پټي کي دوه ډوله دانې مه کرئ، دوه جنسه جامې مه اغوندئ...که چا له وينځي سره زنا وکړه نو کاهن ته دي يو پسه د قربانۍ لپاره وروړي په دې سره به ئې ګناه وبخښل شي... کله چي موعود سيمي ته ورسېدئ او ډول ډول مېوه لرونکې وني مو وکرلې نو تر دريو کلونو ئې مېوې مه خورئ چي نجسي دي... د څلورم کال ټول حاصل به زما وي... کاهنان به د هارون له نسله وي... دوی به مړو ته د عادي خلکو په څېر لاس نه وروړي چي نجس کېږي... د سر او ږيري وېښتان به نه لنډوي...له طلاق شوې ښځي او کونډې

سره به نکاح نه کوي، یوازي باکره پېغلي به په نکاح کوي، که نه نو زامن به ئې سپېڅلي نه وي...له کاهنانو پرته به بل څوك د سپېڅلي قربانۍ توکي نه خوري.. یقیناً چي دا ټولي خبري بې بنسټه، د عقل او علم خلاف او له الهي حق دین سره متعارضي خبري دي.

په دې کي هیڅ شك نشته چي په تورات کي به د الله تعالی لومړۍ لارښوونه دا وه چي له الله جل شأنه پرته بل معبود نشته، د انسان، حیوان، مارغه او بل څه بت به نه جوړوئ او عبادت به ئې نه کوئ، دا د هر الهي دین اساسي او لومړنۍ خبره ده، خو د بایبل منونکي د بایبل د دغي څرګندي او پرېکنده وینا په خلاف عیسی علیه السلام په الوهیت کي شریك کړی، د ده او د مریمي علیهما السلام مجسمې ئې جوړي کړې، ټولي کلیساوي ئې په دغو مجسمو ډکي دي، کشیشان ئې د دغو مجسمو په وړاندي په ګونډه کېږي، عبادت ئې کوي او مرسته ترې غواړي!! د بایبل د وینا معنی خو دا ده چي څا له الله تعالی سره څوك یا څه شریك کړ، د هغه مجسمه ئې جوړه او د هغه په وړاندي په ګونډه شو له الله تعالی سره ئې دښمني کړې، داسي دښمني چي الله تعالی به ده او د ده درې او څلور پُښته ته سزا ورکوي!

مجسمې جوړول او ساتل یا د هغه څا دود دئ چي مشرك شوی او د الله تعالی تر څنګ د بل څا او بل څه لمانځنه کوي، یا د هغه ذلیل انسان چي د شخصیتونو او د ځان په څېر یوه انسان په لمانځني او ستایني کي مبالغه کوي؛ او دا هم اکثراً د مادي اغراضو په طمع؛ یا د هغه څا چي په خرافاتو کي غرق دئ، په بېهوده کارونو او مشغولتیاوو کي ښکېل شوی او خپل وخت او امکانات په بېهوده، عبث او بې ګټې شیانو او امورو کي ضائع کوي.

د سپېڅلو توکیو په نامه داسي مجسمې او هغوی ته ورته شیان ساتل او هغوی ته په درواغو کرامات منسوبول په ټولو جاهلو قومونو کي شته، له څا سره سپېڅلې ډبري، له څا سره سپېڅلې جنډې، له څا سره سپېڅلې جامې، له څا سره سپېڅلې مجسمې او لهڅا سره سپېڅلي قبرونه او زیارتونه... هر یو یا خلك پرې غولوي، یا خپل ځواکمن دښمن پرې ماتوي او یا خپل غرض او مراد پرې تر لاسه کوي!! د احد په جنګ کي د قریشو فوځ درې زره او د مسلمانانو شمېر اوه سوه وو؛ خو دوی خپله بریا د هبل او عزا په طفیل ګڼله او د هبل او عزا مجاورانو دا بریا د دغو بتانو کرامت ته منسوبوله!! د

یوه جاهل او په خرافاتو کې غرق صوفي خبري مي اورېدلې چي ویل ئې: ټول یهودان داتا گنج بخش ولي ووژل خو په دروغو ئې کریدت هتلر ته ورکړی شو!!

۲- ځینو درنو مفسرینو د دې آیت په تفسیر کې د تصویر او انځور په اړه هم تفصیلي بحثونه کړي؛ چا لیکلي چي تصویر په مطلقه توگه حرام دئ، چا لیکلي چي یوازي د ژوو انځورونه جوړول حرام دي، چا لیکلي چي د تعظیم او درناوي په توگه د انځورونو ساتل حرام دي؛ له تعظیم پرته ئې ساتل شرعي مانع نه لري؛ دا اختلاف هم له متعارضو او متضادو روایاتو راولاړ شوی. په قرآن کې نه یوازي د عکس او انځور د حرمت په اړه کوم واضح او صریح حکم نه مومو بلکي ځیني فقهاء د دې آیت په استناد وایي چي که سلیمان علیه السلام د پېریانو په لاس تماثیل جوړ کړي نو داسي تماثیل جوړول څه مانع نه لري؛ ممکنه نه ده چي یو څه دي په الهي شریعت کې د یوه پیغمبر په دوران کې حلال وي او په بل دور کې حرام؛ په داسي مواردو کې د ټولو پېغمبرانو شریعت په بشپړه توگه سره ورته دئ. د قرآن گڼ شمېر آیتونه دا خبره کوي چي قرآن ټول مخکیني الهي کتابونه تصدیقوي او پر ټولو ئې احتواء کړې؛

وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ بِٱلْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلْكِتَـٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ ۖ فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلْحَقِّ ۚ ... ﴿٤٨﴾ المائدة

او تا ته مو دا پر حق ولاړ کتاب نازل کړ؛ د هغو کتابونو تصدیقوونکی چي ترې د مخه وو او پرې احتواء کوونکی؛ نو د دوی تر منځ په هغه څه حکم کوه چي الله نازل کړي او تا ته د راغلي حق په معامله کې د دوی د هوی او هوس متابعت مه کوه، .....

د دې معنی دا ده چي قرآن د ټولو الهي کتابونو حلال حلال گڼلي او حرام ئې حرام، جائز ئې جائز گڼلي او ناجائز ئې ناجائز.

۳- د نړی د ټولو اسلامي هېوادونو اکثر علماءو او مذهبي شخصیتونو، د الازهر، دیو بند، د سعودي دار الافتاء، په پاکستان کې د ډېرو افغاني علماءو

استادان، د پېښور، کویټې او کراچۍ مدرسې، د نجف، قم او مشهد مراکز او له مالیزیا او اندونیزیا تر لیبیا او مراکش پورې؛ ټولو دیني مدرسو او علماءو ئې د عکس په اړه د نوې فتوی ضرورت احساس کړی، د لاس پر انځور ئې قیاسول ناسم قیاس ګڼلی او د عکس په اړه عملاً داسې څه نه کوي چې د حرمت په سترګه ورته کتل وي.

زه د تحقیق په ترڅ کې د تصویر او انځور په اړه دې نتیجې ته رسېدلی یم چې:

- نانځکې ساتل هیڅ مانع نه لري، که څه هم مجسمو ته ورته وي. نور خو پرېږده حتی عائشې رضی الله عنها نانځکې درلودې؛ نه ابوبکر رضی الله عنه ترې منع کړې او نه رسول الله صلی الله علیه و سلم.
- د غیر ذي روح شیانو انځورونه جوړول او ساتل هیڅ مانع نه لري؛ دې ته مو پام وي چې نن د صنعت یوه اساسي او ضروري برخه انځور دئ، هره فابریکه چې څه جوړوي که دا موټر، طیاره، رېل، موټر سیکل، کمپیوټر، مبایل یا بل هر څه وي؛ نو انجنیران ئې لومړی تصویر جوړوي او بیا د همدې تصویر له مخې هغه شی، یوه انجنیر ته له مخکیني انځور پرته د یوه شي جوړول تقریباً شبه محال دئ.
- د تعظیم او درناوي په توګه د انسان انځورونه جوړول او ساتل حرام دي.
- په خپل لاس د داسې انځورونو جوړول او دا ځان ته یوه حرفه، کسب او دنده ګرځول مکروه دي.
- په خپل لاس او د رسامي له لارې انځورنه له اوسنۍ عکاسۍ او فیلم سره ژور توپیرونه لري، روایات ټول د رسامۍ په اړه دي، پر اوسنۍ عکاسۍ او فیلم ئې اطلاق نه شي کېدی. هغه شاغلي چې د دغو روایاتو په استناد عکاسي حرام ګڼي دوی اوسنۍ عکاسي په مخکینۍ رسامۍ قیاسوي، خو دا په بشپړه توګه قیاس مع الفارق دئ، د دې او هغه تر منځ ژور توپیر دئ، هغه د انسان د لاس او ذهن زېږنده رسم او تصویر وو، اکثراً د واقع خلاف؛ او په دې کې نه د انسان ذهن څه اغېز لري او نه لاس، دا داسې دئ لکه په هنداري او اوبو کې د چا انځور، کامره له دې پرته بل څه نه کوي چې دغه د

هنداري انځور کاغذ او فیلم ته انتقالوي. دې ته باید متوجه وو چې په دې اړه علماء په دوو ډلو وېشل شوي: هغه چې عکاسي په رسامي قیاسوي؛ او هغه چې له دې قیاس سره موافق نه دي. د یوه څه د حل و حرمت په اړه حکم صریح نص ته ضرورت لري، د رسامي په اړه روایات د عکاسي په اړه صریح نص نه شو ګڼلی، ځکه د دې دواړو تر منځ ژور توپیرونه شته؛ دې ته مو هم باید پام وي چې د هر حرمت تر شا یو حکمت مضمر وي؛ مجسمې او د تعظیم لپاره انځورونه؛ د دې لپاره تحریم شوي چې په شرك او بُتپالنې منتج کېږي، که داسي نه وی نو هم به د نانځکو جوړول او ساتل تحریم شوي وو او هم داسي انځورونه چې پر فرش وي. روایت دئ چې عائشې رضي الله عنها په خپلي خوني کي داسي پرده ځړولې وه چې د ژوندیو انځورونو په کي وو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د دې پردې په لیدو سره کراهت ښودلی؛ خو چي کله له همدې پردې بالښت یا فرش جوړ شوی؛ نه ئې کراهت ښودلی او نه ئې ممانعت کړی.

• د ضرورت په صورت کي او د پېژندګلوۍ په موخه د تصویر ساتل او د روا مقاصدو لپاره او په ګټورو چارو کي له فیلم استفاده هیڅ مانع نه لري؛ د تبلیغ، روزني، تربیت او لارښووني په ډګر کي فیلم داسي مهمه او ارزښتناکه وسیله ده چي هیڅ خبیر داعي او مصلح ترې انکار نشي کولی، متأسفانه اوس دا وسیله د شریرو او مفسدو ځواکونو په لاس کي پرېوتې او د خلکو د بې لاري کولو په اړه ترې پراخه استفاده کېږي. د نانځکو په بڼې کي هم دین دښمنه ځواکونه ماشومانو ته د بې عفتۍ او بربنډتوب تلقین کوي.

• هغو ته حیران یو چي له یوې خوا سلیمان علیه السلام ته د پېریانو په لاس د مجسمو جوړولو ادعاء کوي او ګواکي په مخکیني شریعت کي مجسمې جوړول او ساتل جائز وو؛ له بلي خوا د عکس په اړه داسي فتوی ورکوي چي ګواکي په بشپړه توګه حرام دي، فتوی ئې هم د هغو روایاتو په استناد چي د رسم په اړه دي؛ حال دا چي عکس په رسامي انځور قیاسول غلط قیاس دئ.

• آیا دا ښاغلي دې ته متوجه دي که نه چي نن د دغو غتوی ورکوونکو په شمول د هر چا په جیبونو او کورونو کي داسي اسناد دي چي عکسونه پرې

لګېدلي، لکه تذکره، پاسپورت، د زمکې قباله، د ډریورۍ لیسنس، له تعلیمي مؤسساتو د فراغت اسناد، د اکثرو هېوادونو بانکنوټونه.... آیا دوی دې ته تیار دي چې بانکونه وتړل شي؟ آیا د بانکي سیستم د تعویض په اړه مو کوم فکر کړی؛ سود چې قرآن نه یوازې په صریح آیتونو سره تحریم کړی بلکې سود خورو ته ئې د الله تعالی او رسول الله له لوري د جنګ اعلان کړی، رسول الله صلی الله علیه و سلم د مکې له فتحې سره سم او په ډېري مهمې خطبې کې د سود په اړه وفرمایل: هر سود همدلته زما تر پښو لاندې دئ؛ تر نورو وړاندې د خپل تره عباس سود!! یعني د مخکیني سود ګټه به هم پوروړی نه ورکوي او له دې وروسته هم ټول سودي معاملات لغو او منع دي. هیله دا وه چې د امارت په راتلو سره به تر هر څه وړاندې د داسې محرماتو په اړه جدي او پرېکنده اجراءات کېږي؛ راشئ له دې ځای ئې پیل کړئ چې په زېرو کڅوړو کې هره میاشت له ٤٠ تر ٨٧ ملیونه ډالر راتګ تحریم کړئ؟ ولې د دې په وړاندې ساکت یئ، له څه ویلو او کولو ډډه کوئ او د حرمت فتوی ئې نه صادروئ؟ دا سلګون ډالر دئ چې د امریکا د یوه معروف سیاستوال، لیکوال او ساینسپوه بینجامین (Benjamin Franklin) عکس په کې راغلی:



په نورو نوټونو کې ئې د نورو معروفو شخصیتونو عکسونه راوړل شوي.

• کافر او مشرك ته د سؤال او مرستې لاس اوږدول؛ تر سود هم زیات حرام دئ؛ ولې په دې اړه فتوی نه ورکوئ؟ ولې هغو ته څه نه وایئ چې له رسمي آدرس امریکا ته بلنه ورکوي چې راشئ او زموږ هېواد ورغوئ او جوړ ئې کړئ؟ که د امریکا څرګند کرایي جنګیالي دا خبره کوي او له ناټو او امریکا غواړي چې بیا افغانستان ته راشي، کابل ونیسي او دوی د اقتدار پر کرسیو کښېنوي؛ له دغو ذلیلو او سپېرو څېرو خو له دې پرته د بل څه توقع او

طمع نه شي کېدی؛ خو هغه چي د اشغالگرانو خلاف د جهاد ادعاء کوي؛ څنگه امریکا ته اجازه ورکوي چي د خپلو شریرو منصوبو پلي کولو لپاره په دریو کلونو کي ۲۱ ملیارده ډالر د افغانستان په ارتباط ولگوي او اوس د ټرامپ له مجدد راتگ سره له همدې امریکا غواړي چي د دوحې معاهدې له مخي د افغانستان بیا جوړول او رغول د دوی پر ذمه دئ باید راشي او پر خپلي ژمني عمل وکړي؟! په کارخو دا ده چي له امریکا د جنگي غرامتونو او د دوی په لاس د وژل شوو بې گناه افغانانو دیتونو وغوښتل شي نه بسپني!!

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ نَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، نَسْتَغْفِرُكَ وَنَتُوبُ إِلَيْكَ

## د کتاب له متن

۱.آیا دا ادعاء سمه او د منلو وړ ده چي د ښځو ټول بدن عورت دئ، پټول ئې فرض او واجب او ښکاره کول ئې حرام؟ نامحرم ته د هغې غږ اورېدل ناروا او حرام دي؟ په دې اړه قرآن څه وايي اورسول الله صلی الله علیه و سلم څه ویلي او صحابه وو څه کړي؟

۲.آیا په جومات، خانقا، د ذکر په نامه حلقو او محافلو کې چیغې، ها هو، بدمستي، نڅا، د شیخ او پیر پښو کې رغړېدا، لاس پښې ئې ښکولول او په غاړه کې ئې د لوټونو هارونه ځړول، له سینې د پزې له لارې د هو او ها غږ په ډله ییزه توګه ایستل... جائز دي؟

۳.آیا په خیر القرون کې له لمانځه پرته د ډله ییز جهري ذکر کومه بېلګه او مثال لیدل شوی؟

٤.آیا له الله تعالی پرته بل چا ته؛ له لرې او په غیاب کې ئې؛ د مرستي غږ کول او په دعاء کې د هغه نوم اخیستل؛ او داسې انګېرل چې هغه مې غږ اوري او حاجتونه مې ترسره کولی شي؛ جائز دي؟ که دې ته جائز وایو نو د دې مکرري ژمني معنی به څه وي چې هره ورځ د لمانځه په هر رکعت کې له الله تعالی سره په دې صیغه کلکه او پرېکنده ژمنه او تعهد کوو او وایو: (إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ: یوازې ستا عبادت کوو او یوازې له تا مرسته غواړو؟)

۵.آیا دا خبره رښتیا ده چي یوه پیر د خپل مرید د ژغورنې لپاره له ډېر لرې واټن؛ هغه زمری د اوداسه په کوزې وویشتلو چي پر مرید ئې برید کولو؛ زمری ئې تېښتي ته اړ کړ او خپل مرید ئې وژغورلو؟! آیا په بشري تاریخ او د کوم پیغمبر په امت کې د دا رنګ پېښې کومه بېلګه او مثال ثبت شوی؟ آیا په قرآن، د روایاتو کتابونو او د اسلام په تاریخ کې د دې لپاره کوم شاهد او مثال موندلی شو؟

٦-که د دې ادعاء لپاره نه په قرآن کې کوم شاهد مومو او نه په روایاتو کې؛ نو ولې نن یو څوک د وعظ پر مسند ناست خلکو ته وايي: فلان له غیب خبر وو، له لرې او په غیاب کې ئې د خپلو مریدانو لاس نیوی او مرسته کوله او له ستونزو به ئې ژغورل؛


د میثاق ایثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷